ژباړونکي: بېلا بېل



# موپاسان

شاهکارې لنډې لیسې

لنډې کیسې:

# ګي دموپاسان

ژباړونکي

## ببلاببل

2024م کال



www.sikaraam.com

د چاپ واک يې له خپروونکې ادارې سره دی

# کتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | ګي د موپاسان (لنډې کیسې) |
| ژباړونکي | :: | بېلابېل |
| را ټولونه او ترتيب | :: | بارکوال مياخېل |
| خپروونکی | :: | لمر خپرندويه ټولنه |
| د خپرېدو نېټه | :: | مارچ، 2024م کال |

# ډالۍ

**استاد لطيف بهاند ته**

**چې نړيوال روسي داستاني اثار يې**

**پښتو ته را ژباړلي دي**

# لړلیک

**شمېر سرلیک** **مخ**


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ا. | **موپاسان په پښتو کې...............بارکوال میاخېل ............** | 6 |
| 1. | **ډارن مین ..........................اجمل پسرلی..........** | 16 |
| 2. | **چترۍ ........................نجیب منلی.......................** | 21 |
| 3. | **اعتراف........... ..............اسدالله غضنفر...............** | 33 |
| 4. | **امېل..............................حمید فراز ....................** | 37 |
| 5. | **وحشي مور.............................ضیاء جان ....................** | 50 |
| 6. | **د قبر شناخته ....................هجرت الله اختیار.........** | 58 |
| 7. | **مور او زوی ........................نثار احمد آریا.................** | 71 |
| 8. | **کله چې سربازاران خرڅ شول.....نجیب عامر.....................** | 80 |
| 9. | **سوالګري ...................................اجمل اند.....................** | 85 |
| 10. | **ته وا خوب وو؟............................ایمل پسرلی ...........** | 94 |
| 11. | **ډارن ...................................نقاش اکاخېل.....................** | 100 |

سریزه:

# موپاسان په پښتو کې

د نولسمې پېړۍ مشهور فرانسوی لیکوال هینري رېنې البرټ ګي د موپاسان که په داستاني ادب کې نړیوال شهرت موندلی وو، خو ژوند یې هم له یو شمېر ستړیو او لوړو ځوړو ډک وو، ځکه یې د زوکړې نېټه هم لانجمنه ده. د ده مور وایي موپاسان د 1850م کال د اګست پر پینځمه د فرانس په شمال کې «دي اېپ» سیمې ته نیژدې په «شاتو د میرومینیل» سیمه کې زوکړی وو، خو ځینې څېړونکي له دې سره اختلاف لري. موپاسان یواځې یو کشر ورور درلود، خور یې نه وه. ورور یې «هروي د موپاسان» د 1856م کال د مې پر 19 زوکړی وو.

د موپاسان مور «لور لو پوتیوین» او پلار «ګوستاو د موپاسان» دواړه د نورمن له اشرافي کورنۍ څخه وو، دوی په 1846م کال کې واده کړی وو، خو ټول ژوند یې یو ځای سره تېر نه کړ او پینځلس کاله وروسته په 1861م کال کې سره جلا شول. موپاسان هغه وخت یوولس کلن وو، مور یې لوستې ښځه وه، په یواځې سر یې د خپلو دوو زامنو پالنې ته ملا وتړله، د هغې له کلاسیک ادبیاتو خصوصاً د شیکسپېر له لیکنو سره ژوره مینه وه، همدا سبب وو چې موپاسان هم پر ادبیاتو مین شو.

## تعليم:

که څه هم د موپاسان کورنۍ ازدخياله وه، خو هغه خپلې بنيادي زدکړې په کليسا کې وکړې او له هغه وروسته په 13 کلنۍ کې د «ايويتو» سيمې يوې کوچنۍ مدرسې ته و لېږل شو، چې مذهبي او غيرمذهبي زدکړې دواړه پکې ورکول کېدې، خو هغه له دې بند ژونده تنګ او سخت مخالف يې وو، ځکه يې نو د خلاسون لپاره قصداً له تعليمي اصولو په سرغړونه لاس پورې کړ او په 1868م کال کې له مدرسې و ايستل شو. په ورپسې کال کې «لو هاور» ښار ته لاړ، په هاى سکول «ليسه» کې شامل شو او د فراغت ډګرۍ يې واخيسته. د 1869م کال په مني کې يې په پېرس کې د قانون زدکړې پيل کړې، خو د فرانس او پرشيا (جرمني) د جګړې پيلېدو له کبله يې دا زدکړې په منځ کې پاته شوې.

موپاسان لومړى په شخصي توګه په خپله خوښه په جګړه کې برخه واخيسته، خو بيا يې د خپل پلار په مداخله او هڅونه په پوځ کې د کوارټرماسټر [د سامانانو زېرمه کوونکي] افسر په توګه دنده پيل کړه. په پوځ کې دې تجربې هغه ته ډېر موضوعات په لاس ورکړل او په دې اړه يې خورا ښې کيسې وليکلې، چې په دې کتاب کې يې هم يوه نمونه لوستلاى شئ.

د 1871م کال په جولاى کې د پوځ له خدمته را ستون شو او بيرته يې په پېرس کې د قانون زدکړې پيل کړې. پلار يې بيا د ده مرستې ته راغى او د سمندري چارو په وزارت کې يې نوکري ور پيدا کړه، دې نوکرۍ د وکالت ډګرۍ تر اخيستو پورې ډېره مالي اوږه ورکړه. هغه د بېروکرېسۍ او دفتري چارو ډېره پروا نه کوله، خو بيا هم ناکامه نه وو او څو واره يې په نوکرۍ کې


www.sikaraam.com

ترقي وشوه. په 1879م کال کې يې پلار په خپله خوښه هغه د سمندري چارو له وزارته د تعليم وزارت ته بدل کړ.

## د ګوستاو فلوبر ملګرتيا او شاګردي:

موپاسان د فرانس د فلسفي او شاعر الفريډ لو پوتيوين (1816– 1848م کال) خوريې وو، الفريډ او د موپاسان مور د ستر فرانسوي ليکوال او ناول کښونکي ګوستاو فلوبر (1821– 1880) نيژدې ملګري وو، د دوی ميندې د ښوونځي له زمانې سره ملګرې وې او کورنۍ يې يو بل ته نيژدې وې ځکه يې اولادونو هم دې ملګرتيا ته دوام ورکړ. الفريډ د موپاسان تر زوکړې دوه کاله مخکې لا په 32 کلنۍ کې مړ شو، خو د موپاسان مور د ژوند تر پايه له فلوبر سره ملګرتيا وپالــه.

د موپاسان مور لومړی په 1867م کال کې هغه فلوبر ته واستاوه چې له هغه سره وپېژني، فلوبر په هغه زمانه کې له پېرسه شاوخوا 160 کيلوميټره لرې په «کرواسې» سيمه کې اوسېده، خو کله چې د فرانس او جرمني له جګړې وروسته پېرس ته راغی نو د موپاسان مور ترې وغوښتل چې پر زوی يې نظر وساتي. همدا يې د شاګردۍ لومړۍ شپې وې چې له موپاسانه يې ليکوال جوړ کړ.

فلوبر چې به د يکشنبې په ورځو کله هم په پېرس کې وو، موپاسان به يې د غرمې ډوډۍ ته ور باله، د نثر ليکلو پر طرز به يې ورته خبرې کولې او د هغه د ځوانۍ لومړۍ ليکنې به يې ور اصلاح کولې. فلوبر په دې وخت کې په پېرس کې يو پېژندلی ليکوال وو او له ډېرو ليکوالو سره يې ناسته ولاړه کوله، ځکه يې نو موپاسان ناول کښونکي او نقاد ايميل زولا، روسي ناول کښونکي او

شاعر ایوان ترګنیف، لیکوال ایډمنډ ګنکورټ او انګرېز لیکوال هینري جېمز ته هم ور وپېژانده. فلوبر د موپاسان په اړه ویلي وو، "هغه زما شاګرد دی او زه ورسره د زوی غوندې مینه کوم". موپاسان د مور و پلار بېلتون ډېر ځورولی وو، ځکه نو فلوبر ورته د پلار غوندې مینه ورکوله او له بلې خوا یې هغه د خپلې لیکوالۍ د الهام سرچینه ګڼله، خو فلوبر د ماغزو د وینې بهېدو له کبله ناڅاپه په 58 کلنۍ کې مړ شو او دا د موپاسان لپاره ډېره بده شخصي او ادبي صدمه او غمیزه وه.

## ادبي ژوند او آثار:

له فلوبر او د هغه په مرسته له نورو لیکوالو سره تر پېژندلو مخکې ښایي له ادبیاتو او لیکوالۍ سره د موپاسان مینه نه وه، خو د **1873**م او **1880**م تر منځ د فلوبر اووه کلنې شاګردۍ هغه هڅولی وو، چې په شاعرۍ او لیکوالۍ لاس پورې کړي، خو څنګه چې یې شاعري لږ کړې او ډېر پام یې کیسه لیکنې ته وو نو په ادبي نړۍ کې یې هم د داستاني یا فکشن لیکوال په توګه ډېر شهرت وموند.

د فلوبر د شاګردۍ په زمانه کې یې یوه یا دوې کیسې د خپلې سیمې په هغو ځایي مجلو کې په مستعار یا فرضي نامه خپرې کړې چې ډېرې مشهورې نه وې. دی د فلوبر تر مړینې یوه میاشت مخکې هغه وخت وځلېد چې ایمیل زولا د ده په ګډون له شپږو لیکوالو د فرانس او پرشیا د جګړې په اړه د کیسو لیکلو غوښتنه وکړه چې بیا به یې په کتابي بڼه چاپوي. د موپاسان کیسه «د غوښې ګین Boule de Suif» نه یواځې د دغو شپږو لیکوالو تر کیسو ښه کیسه وه بلکې تر دې مهاله د ده په غوره کیسو کې شمېرل کېږي. کله چې یې دا کیسه چاپ شوه، د ورځپاڼو چلوونکو غوښتنې ترې زیاتې شوې. بیا یې

نو د تعلیم وزارت نوکري پرېښوه او راتلونکي دوه کاله یې دوو ورځپاڼو «لو ګلوا» او «ګیل بلاس» ته کیسې ولیکلې. تر ټولو زیاتې کیسې یې په «ګیل بلاس» ورځپاڼه کې خپرې شوې. له 1880 تر 1890م کال پورې لس کلونه د ده د لیکوالۍ مهم کلونه وو، په دې موده کې یې شاوخوا 300 لنډې کیسې، شپږ ناولونه، درې سفرنامې او د شاعرۍ یواځینۍ ټولګه خپرې شوې.

د موپاسان د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه په 1881م کال کې خپره شوه او بیا په دوو کلونو کې دوولس واره چاپ شوه. لومړی ناول یې «یو ژوند Une Vie» په انګرېزي «د یوې ښځې ژوند A Woman's Life» په 1883م کال کې چاپ شو او په یو کال کې شاوخوا 25,000 دانې خرخ شو. له دې وروسته یې یو په بل پسې کتابونه چاپېدل، د ده په ژوند کې یې د لنډو کیسو 16 ټولګې چاپ او خپرې شوې، خو ژوند ورسره وفا ونه کړه او د نړۍ د څو سترو شاعرانو او لیکوالو غوندې ځوانیمرګ شو.

## ناروغي او مرګ:

موپاسان لا ایله شل کلن شوی وو، په دې وپوهېده چې آتشک (Syphilis) ناروغي ور پورې شوې ده او دا د هغې زمانې تر ټولو ډاروونکې او هر ځای خپره شوې ناروغي وه. د ده یواځینی ورور «هروي د موپاسان» هم د 33 کلنۍ په عمر په 1889م کال کې له همدې ناروغۍ مړ شوی وو ځکه نو ګومان کېده چې دا به د دوی کورنۍ یا موروثي ناروغي وي. موپاسان له درملنې انکار وکړ ځکه یې د ده په راتلونکي ژوند باندې ډېر بد اغېز وکړ، ذهني ناارامي او بې خوبي یې زیاته شوه. د 1892م کال د جنورۍ پر دویمه چې هغه له خپلې مور سره وو، خپله غاړه پرې کړه او د ځانوژنې هڅه یې

وکړه خو مړ نه شو. مور یې ډاکټران را وبلل او زړه نازړه یې اجازه ورکړه چې زوی یې په لېونتون کې وساتي. دوې ورځې وروسته یې د لېونیانو په جېکټ کې ټینګ وتاړه او په پېرس کې یې د ډاکټر بلانچ روغتون ته یووړ او لا یې د زوکړې 43مه کلیزه نه وه را رسېدلې چې د 1893م کال د جولای پر شپږمه یې له نړۍ سترګې پټې کړې.

## په پښتو کې د موپاسان کیسې:

موپاسان ته د نوې لنډې کیسې پلار هم ویل شوي دي ځکه چې ده تر خپلو معاصرو لیکوالو کیسې ته د ژوند او هنر زیات خواږه ور ګډ کړل او په کیسه کې د ژوند هر هغه اړخ ته یې ځای ورکړ، چې تر ده پخوا ورته ډېره کمه توجه شوې وه. اردو نقاد ډاکټر ریاض قدیر وایي "تر اوسه د لنډې کیسې په اړه د شوې څېړنې له مخې ایډګرالن پو او ترجنیف د نړۍ لومړي کیسه لیکوال دي، خو فرانسوی ګي د موپاسان او روسی کیسه لیکوال چیخوف د نوې لنډې کیسې بنیاد ښوونکي بلل کېږي".

موپاسان د داسې جادوګر قلم تخلیقکار دی چې شاهکارې لنډې کیسې او ناولونه یې د نړۍ په لسګونو ژبو ژباړل شوې دي او تر مړینې شاوخوا یو سل دېرش کاله وروسته یې هم خوند او اغېز لا تازه او لوستونکي یې بې شمېره دي. پښتو چې څنګه د ژباړې په هره برخه کې نېستمنه ده، هغسې د دې بې جوړې لیکوال په نیژدې 300 کیسو کې ډېرې لږ لنډې کیسې ورته را ژباړل شوې دي او هغه هم بېلابېلو لیکوالو را ژباړلې دي، چې په کتابي بڼه به یې په لومړي ځل پښتانه لوستونکي ولولي.

د 2023م کال د نومبر دویمه اوونۍ وه، پر فېسبوک مې د نړیوالو ژباړو په یوه اردو پاڼه کې د موپاسان د یوې کیسې ژباړه ولوستله، خورا خوند یې راکړ، دا د موپاسان درېیمه کیسه وه چې ما په خپل ادبي ژوند کې لوستې وه، لومړۍ کیسه یې را یاده کړه، چې اجمل پسرلي ژباړلې او د ده د عربي لیکوال حسین القباني په ژباړلي کتاب «لنډې کیسې به څنګه لیکو؟» کې یې چاپ کړې وه، دا کیسه «ډارن مین» نومېده، چې ما شاوخوا شل کاله مخکې په دې کتاب کې لوستې وه، خو کرکټره مې یې تر اوسه په ذهن کې وه. بله کیسه یې د «چترۍ» په نوم استاد نجیب منلي ژباړلې او څو کاله مخکې پر فېسبوک خپره کړې وه، هغه کیسه هم ډېره دلچسپه وه او استاد منلي په خپل خواږه نثر ډېره په خوند ژباړلې وه. د موپاسان د دغو درو کیسو خوند مجبور کړم، چې په پښتو کې یې نورې ژباړلې کیسې پیدا کړم او چې ټولې معلومې او تر خپله وسه پیدا کړم، بیا د دې ستر لیکوال د نورو کیسو ژباړو ته ملا وتړم. د فېسبوک او ګوګل په مرسته مې د موپاسان 14 کیسې معلومې کړې، بیا مې فکر وکړ چې دا کیسې باید ټولې پیدا کړم او کتابي بڼه ورکړم. دا ستاسې په لاس کې د موپاسان د ژباړلیو کیسو لومړی کتاب دی، له نېکه مرغه له دې کتاب وروسته به یې د کیسو دویم کتاب هم ستاسې ګوتو ته درشي.

ما مخکې وویل چې په پښتو کې مې د موپاسان 14 کیسې معلومې کړې، خو په کتاب کې 11 کیسې دي، ما د نومبر پر 10مه د موپاسان د ژباړلیو کیسو په اړه پر فېسبوک یو پوسټ کړی وو، هلته ځینو لیکوالو د خپلو ژباړلیو کیسو په اړه معلومات راکړل، د پښتو تکړه لیکوال، شاعر او ژباړونکي راشد ختېک هم راته ولیکل "یو څو کیسې یې ما هم ژباړلې وې، په "الفت" کې چاپ

شوې وې"، ما چې ترې غوښتنه وکړه، راته ويې ويل چې دا کيسې يې پينځلس شل کاله مخکې ژباړلې وې او د دانش خپرندويې ټولنې په مجله کې چاپ شوې وې، يواځې د يوې سرليک يې په ياد وو «کېدای شي» . بيا ما په دې منځ کې درې څلور واره غوښتنه ترې وکړه خو دا کيسې يې د دې کتاب د خپرېدو تر وخته را پيدا نه کړې.

په ګوګل کې چې د موپاسان په کيسو پسې ګرزېدم، د «ټول افغان» ويبپاڼې يوه ليکنه مې مخې ته راغله، دا ليکنه په اصل کې د ځوان ليکوال رفيع الله ستانکزي «د ژباړې فن» کتاب د يو مضمون برخه وه، په دې مضمون کې په يوه پېراګراف کې د بهرنيو ژباړل شويو کيسو سرليکونه، د ليکوال او ژباړونکي نومونه ورکړل شوي وو، خو له بده مرغه هغه هم دومره بې ترتيبه وو، چې زه اوسه هم په دې ډاډه نه يم چې کومه کيسه د چا او چا ژباړلې ده. دا کتاب لومړی شاوخوا اتلس کاله مخکې چاپ شوی وو، خو له نېکه مرغه ليکوال يې دا مهال دلته مورړ ته نيژدې د امريکې په ويرجينيا کې اوسېږي، شمېره يې راسره وه، ټيليفون مې ورته وکړ او پوښتنه مې ځنې وکړه، چې تاسې په خپل کتاب کې د موپاسان د دوو کيسو ژباړې يادې کړې دي. دا چې د کتاب د چاپ ډېر وخت شوی وو، ښاغلي ستانکزي تش دومره مرسته راسره وکړه، چې دغه کيسې او ژباړونکي يې معلوم کړم، د ده د کتاب له مخې "عزيزالرحمان سيفي «د روح څارونکي» او [عبدالروف] بېنوا د «بندي» په نوم د موپاسان کيسې ژباړلې دي، خو د دغو کيسو سرچينه نه په کتاب کې وه او نه دغسې ور معلومه وه چې زه يې پيدا کړم او په دې کتاب کې يې شاملې کړم.

زمونږ ګران ملګری لیکوال او څېړونکی مطیع الله روهیال مې وپوښت، چې که د استاد بېنوا د دې ژباړلې کیسې په موندلو کې راسره مرسته وکړي، هغه راته وویل چې غالباً د استاد بېنوا ناچاپ نثرونه سره ترتیبوي، چې ژباړې به هم پکې شاملې وي، خو تر خپلې پلټنې وروسته یې راته وویل چې د موپاسان د کیسو کومه ژباړه یې تر اوسه مخې ته نه ده ورغلې.

## دا ژباړې:

څنګه چې موپاسان د نولسمې پېړۍ د دویمې نیمایي لیکوال دی او خپلې نیژدې ټولې کیسې، ناولونه او اثار یې د ژوند په وروستیو دوو لسیزو کې لیکلي دي، نو کېدای شي ډېر داستانونه یې په اوسنۍ زمانه کې ډېرو خلکو ته زاړه وي یا به داسې وواېو چې شاید زمونږ لوستونکو ته د دلچسپۍ وړ نه وي، ځکه نو زمونږ د دې کتاب ژباړونکیو هڅه کړې چې د ده خورا ښې او مشهورې کیسې یې را ژباړلې دي. ما چې په تېرو درو میاشتو کې په انګرېزي، اردو او پښتو کې د موپاسان تر 60 زیاتې کیسې لوستې دي، بې له شکه ویلای شم چې دا یې یو غوره انتخاب دی.

په دغو کیسو کې له مینې نیولې تر کورني او ټولنیز ژونده او له غربته نیولې د فرانس– جرمني تر جګړې پورې د هغې زمانې د فرانسوي ټولنې هراړخیزه او ښه انځورګري شوې ده او هره کیسه هر ژباړونکي تر خپله وسه ډېره ښه ژباړلې ده.

دا چې له بده مرغه د پښتو املاء تر اوسه لا یوه نه ده او حتی د یوې سیمې د دوو لیکوالو املاء هم د ځینو اختلافونو له کبله سره بېله وي، د دغو کیسو په ترتیبولو کې هم زه له دې ستونځې سره مخ وم، ځکه مې ټولې

کيسې يوې داسې املاء ته واړولې، چې اکثريت ليکوال يې ليکي او تر ډېره رواج شوې ده. په دې کې ځينې داسې کيسې هم چې ژباړونکو ډېر کلونه مخکې ژباړلې وې، ما له انګرېزي متن سره وکتلې، ځينې ځايونه مې له اصل ژباړې سره پکې سم يا بدل کړل، په دې هيله چې زما دغه هڅه د دغو محترمو ژباړونکيو په ژباړو کې لاسوهنه ونه بلل شي. له کيسو خوند واخلئ او د موپاسان دويم پښتو کتاب ته انتظار وکړئ.

درنښت

بارکوال مياخېل

27 فروري 2024م کال

ويرجينيا- امريکه

## ماخذونه:


1. بريټانيکا ويبپاڼه.

2. «منٹو اور موپاساں» ايک تقابلی مطالعہ، ڈاکٹر رياض قدر، مثال پبلشرز فيصل آباد، سال اشاعت 2016، صفحہ 30.

3. «د ژباړې فن»، رفيع الله ستانيکزی، خپرندوی: صميم ادبي ټولنه، چاپ کال: 1386ل (2006م)، 13- 14 مخونه.

# ډارن مین

تېرې هېرې خبرې په زړه پورې وي. زموږ په زړونو ناستې وي. د زړونو تل ته ورکوزېږي. کله يې هم نه شو هېرولای.

زما په ژوند کې ډېر څه پېښ شوي دي، ځينې پېښې د خوشالۍ وې، ځينې يې د خپګان او ځينې يې هېښوونکې خو د کلويشت ادې پېښه سره له دې چې ساده وه کله مې له زړه نه وزي. عجيبه مې پر ذهن خپره ده. داسې ورځ دې بده شي چې يو نه يو وار به کلويشت ادې زما سترګو ته نه درېږي.

زه دوولس کلن وم چې دا زموږ کور ته د هرې پنجشنبې په سهار راتله، سپخېدلې جامې يې راسمولې او ګنډلې، په هغه زمانه کې په کلي کې اوسېدو، کور مو د کلي له کليسا سره وو. کلويشت ادې به عادتاً د سهار د اووه بجو شاوخوا راښکاره شوه. کرۍ ورځ به په جامو بوخته وه.

دا بوډۍ وه، ګوډه وه، د پوزې پر سر او نور مخ يې ځای ځای پاسته وېښتان راشنه شوي وو. وېښتان يې د ږيرې په څېر ښکارېدل. ګڼې وروځې يې داسې ايسېدې لکه غټ بريتونه چې يې د شونډې پر ځای د سترګو د پاسه پراته وي.

کلويشت ادې په ما ګرانه وه، ددې هم زه ښه ايسېدم. د کلي کيسې او ټوکې به يې راته کولې. له جېبه به يې ډېر کله ماڅۍ را ايستې، راکولې به يې.

یوه پنجشنبه چې سهار راغله زه د هر کله غوندې ورپسې شوم او تر هغې کوټې د دې شاته رهي وم چې سپخېدلي کالي به یې پکې ګنډل. ما ویل چې نن به بیا راته کیسې وکړي او خوله به مې په خوږو خوږه کړي، خو کله چې ورنیژدې شوم سر یې د چوکۍ خواته کوږ، لاسونه یې بې حاله یوې خوا بلې خواته پراته وو. ستنه یې لا په ګوتو کې نیولې وه.

پلار و مور زما چیغې واورېدې، په منډه راغلل چې ښځې ته یې وکتل څک څک یې وکړل. په منډه د کلي په سپین ږیري ډاکټر پسې ووتل.

ډاکټر کلویشت ادې تر یوې دقیقې لږ معاینه کړه بیا یې وویل، زړه یې درېدلی، مړه شوې ده.

ټېکه نه راتله یوې خوا بلې خوا تلم راتلم، اخر په منډه د ناستې کوټې ته ولاړم، په یوه تیاره کونج کې مې ځان په چوکۍ واچاوه او اوښکې مې وبهېدې.

لږ څه وروسته مې پلار و مور له ډاکټر سره راغلل، دوی کښېناستل خبرې یې پیل کړې. ډاکټر ته یې جوس راوړي وو، هغه یې څښل، لکه دوی چې ما په دغه تیاره کونج کې نه ویني.. نو د کلویشت ادې ټوله کیسه مې واوریده.

سپین ږیري ډاکټر وویل:

- خوارکۍ کلویشت ادې..په اوله کې چې دې کلي ته راغله وروسته له دوو ورځو یې پښه غوټه ماته شوه..تر اوسه مې دغه پېښنه په زړه ده، داسې راته ښکاري لکه پرون چې پېښنه شوې وي حال دا چې پوره څلوېښت کاله مخته یې پښه ماته شوې وه...د خدای کارونه دي د چا باور نه راځي، دا هغه وخت اوولس کلنه وه، ښه کړه وړه یې وو، ښایسته اندام یې وو چې چا به ولیده خامخا به یې سترګې ور اوښتې، تر اوسه مې چاته دا کیسه نه ده کړې..له ما پرته د دې کیسه چاته معلومه نه ده. یو بل سړی هم پرې خبر دی هغه اوس زموږ له کلي لرې اوسي.

کلویشت په ځوانۍ کې د موسیو جاریو په ښوونځي کې د اوبدلو ګنډلو ښوونکې وه، هلته یو ځوان وو سیجبرت نومېده..دغه ځوان ښوونکی ښه ګپي سړی و، د ټولو نجونو زړه کېده چې له ده سره واده وکړي خو دده یوې ته هم زړه نه کېده، کله چې یې کلویشت ولیده خوښه یې شوه، په غوږ کې یې وپسنېده، د مینې خوږې خبرې یې ورته وکړې، ورته ویې ویل یواځې مې ته خوښه یې. کلویشت خورا خوشاله شوه ورسره ویې منله چې د رخصتۍ په وخت به د ښوونکیو او زده کوونکیو له تګه وروسته په دویم پوړ کې د تفریح خونې ته سره ځي.

د رخصتۍ په وخت کې کلیوشت شاته کېده، د دې په ځای چې ووزي دویم پوړ ته وخته او د تفریح په کوټه کې یې ځان پټ کړ، ځوان ملګری یې په بیړه کوټې ته پسې ورغی، کلویشت یې ولیده، دی پوړېده، ډارېده چې د ښوونځي څښتن او مدیر موسیو جاریو یې سره ونه ویني. له څه چې وېرېده هغسې وشو، چې څنګه دوی سره نیژدې کېدل ور بیرته شو او موسیو جاریو کوټې ته ورننووت، نارې یې کړې:

- "سیجبرته دلته څه کوې؟!"

سیجبرت کلویشت ته تر ژبې لاندې وویل:

- "تر هغې لویې چوکۍ لاندې پټه شه، ژر کوه"

د ښوونځي مدیر لکه چې دا پسنۍ واورېد، خو هغه ته څوک په کوټه کې ورښکاره نه شول ځکه چې ماښام وو او کوټه تیاره وه، بیا یې سیجبرت ته ور غږ کړل:

- "څوک دې درسره یواځې خو نه یې"

سیجبرت د ده د شک ایستلو لپاره ټینګار وکړ چې "یواځې یم". مدیر ورته وویل:

- "ډېر ښه، په خپله یې ګورم"

بیا یې د کوټې ور له دباندې په کیلي کولپ کړ او دی ولاړ چې څراغ ورسره راوړي، کوټه وپلټي.
سیجبرت ډارن وو، لکه د شریرو خلکو عقل یې له لاس ورکړ، وارخطا شو.
کلویشت ته یې په پوړېدلي غږ وویل:
- "د خدای لپاره تر چوکۍ لاندې پټه شه.. که جاریو دې ووینې وبه مې شړي، روزي به راباندې ودرېږي..مخ به مې تور شي"
نجلۍ ورو ورته وویل:
- "ورته ووایه چې مور واده سره کوو او.."
دی یې په خوله کې ور ولوید:
- "د څه شي واده .. اوس خو مو لا د واده وخت نه دی.. اه ..د ښنو دربا یې ده..پټه شه.. خدای ته وګوره"
نجلۍ ده ته بد بد وکتل بیا یې ورته وویل:
- "نه پټېږم.. له ورسی ټوپ وهم.. بس دومره راسره وکړه چې د جاریو تر تګ وروسته مې روغتون ته ورسوه".
چې کیلي په وره کې تاوېده، کلویشت د دویم منزل له کړکۍ لاندې پټیو ته ټوپ کړل، دغه خوا د ښوونځي شاته وه.. د ښوونځي مدیر شاوخوا ولیده، هېښ شو چې څرنګه یې بل څوک ونه موندل.
سیجبرت زموږ کور ته په منډه راغی، راته ویې ویل راځه ملګرې مې وژغوره. د شپې شړکنده باران ورېده، زه د ښوونځي شاته ورسره ولاړم، هلته دا خوارکۍ د دېوال څنګ ته غزېدلې وه، ښی پښه یې ماته  وه. کله چې مو راوړه له خبرو لویدلې وه، په لاره کې یې په زګېروي وویل:

- "خپله سزا مې ولیده..هره سمه نجلۍ چې له بې لارې سړي سره مینه کوي دغه یې سزا".

په کلي کې مو اوازه خپره کړه چې کلویشت بګۍ وهلې، بګیوال تښتېدلی، دا یې دغسې پرې ایښې ده. د ټولو زموږ په درواغو باور راغی. پولیسو ناکامه هڅه وکړه چې بګیوال پیدا کړي.

کلویشت ګوډه شوه. عمري ګوډه. په همدې حالت کې سیجبرت د واده وړاندیز ورته وکړ، خو هغې په کلکه رد کړ، د هغې په ګومان ښوونکی سیجبرت اوس د زړه سوي په خاطر واده ته تیار شوی وو او زړه سوی یې ځکه کاوه چې د تفریح په خونه کې یې د دې له خوا د واده وړاندیز نه وو منلی، حال دا چې دې د سیجبرت د ژغورلو لپاره له دویم پوړه ټوپ کړي وو.

په ریښتا هم کلویشت د هغه د راتلونکې لپاره قرباني ورکړه..

خپله اینده یې قربان کړه، سر یې سپین کړ، تر اخره یې واده ونه کړ، اوس به ورباندې څوک ویر کوي.

# چترۍ

مېرمن اورۍ لږه سخته وه. هغه د پیسې په ارزښت پوهېده او د پیسو د ډېرولو لپاره یې پوره یو درځن اصول درلودل. نوکرې به یې رښتیا هم په ګرانه د سودا ټوکرۍ ډکوله او ښاغلي اورۍ ته خپل جېب خرڅ هم په اسانه نه ور رسېده. که څه هم د هغوی وضع ښه وه، ماشومان یې هم نه درلودل؛ خو بیا هم، چې د مېرمن اورۍ له کوره به هره سپینه پیسه وتله، نو دا به پرې دردېدله. دا د هغې لپاره یو ډول زړه چاودون وو او کله به یې چې څه داسې غټ شان مصرف وکړ، که څه هم ضرور به وو، خو په ورپسې شپه به دې ته سم خوب نه ورته. اورۍ به هره ورځ خپلې ښځې ته ویل:

- "لږ دې پرې موټی را سست کړه، مورې خو بې له هغې هم څه چې ګټو هغه نه شو خوړلای."

هغې به ویل:

- "څوک څه پوهېږي چې سبا به څه کېږي؟ له سړي سره چې هرڅومره ډېرې وي، تر لږو ښې وي.

هغه یوه کوچنوټې خلوېښت کلنه ښځه وه. چالاکه، غونجې، پاکیزه او اکثره قهرېدلې. خاوند به یې تل له هغو سختیو شکایت کاوه، چې دې به پرې تېرولې. ځینې خو یې داسې هم وې، چې سخت به پرې ځورېده ،ځکه چې د ده غرور به

يې ورماتاوه. دی د جنګ په وزارت کې سر مامور وو او دا څوکۍ يې د ښځې په فرمان ځکه ټينګه کړې وه، چې د کور عوايد يې پرې ډېرول.

پوره دوه کاله دفتر ته له هماغې يوې، زړې، پيوندي چترۍ سره راته، چې همکارانو به يې ورپورې خندل. کله چې د هغوی له ټوکو په تنګ شو، په کلکه يې له مېرمن اورۍ څخه و غوښتل چې نوې چترۍ به ورته اخلي. هغې هم ورته په يوه لوی پلورنځي کې ليلام شوی د اته نيمو روپيو يو شی واخيست. مامورينو چې دغه شی وليد چې په زرګونو د پاريس په کوڅو کې اووښته را اووښته، نو خپلو ټوکو او خنداوو ته يې لا زور ورکړ او اورۍ په دې خبرو سخت خپه شو. چترۍ هم چندان د کار شی نه وو، په دربو مياشتو کې له ښې ولوېده او په وزارت کې ملنډې ببځي عامې شوې. چا ورپورې يوه سندره هم جوړه کړه، چې د لوی تعمير له بامه تر ځمکې پورې به له سهاره تر ماښامه اورېدل کېده.

اورۍ نور ښه په تنګ شوی وو، ښځې ته يې امر وکړ، چې يوه نوې ورېښمينه، د شلو روپيو چترۍ به ورته اخلي او د پيسو رسيد به هم ورته ښکاره کوي.

هغې د اتلسو روپيو يوه چترۍ واخيسته او کله چې يې خپل خاوند ته ورسپارله له قهره سره وه او ورته يې وويل:

- "دا دې د پينځو کالو لپاره بس ده! "

اورۍ ښه په ډېر کې دفتر ته راغی او د هر چا پام يې ځان ته راواړاوه.

ماښام چې کور ته راغی ښځې يې په تشويش سره چترۍ ته وکتل او ورته يې وويل:

-همداسې تړلې يې مه پرېږده، دا شخه کشکي تسمه به يې ورېښم درته ريښۍ ريښۍ کړي. اوس يې نو ساتل په تا دي، ځکه چې بله خو والله که درته داسې ژر واخلم!

چترۍ يې راواخيسته، تسمه يې پرانيسته، کتونه يې و څنډل او بيا له هيجانه همداسې وچه پر ځای ودرېده. د چترۍ په منځ کې يې د يوې پيسې په اندازه ګرد سوری وليد. د سګرټو د سولو داغ وو. تر شونډو لاندې يې وويل:

- "دا پرې څه شوي؟"

خاوند يې، بې له دې چې ور وګوري، په کراره وويل:

- "په چا؟ څه خبره ده؟ څه وايې؟"

له قهره يې سا بنده وه، له خولې يې خبره نه وته:

- "تا... تا... خو دې دا... دا چترۍ سوې ده! لېونی يې که څه بلا؟ کور مو ورانوې؟"

هغه مخ ورواړاوه، رنګ يې تښتېدلی وو:

- "څه دې وويل؟"

- "څه مې وويل؟ چترۍ دې سوې! واخله وګوره! "

د هغه په لور يې داسې ور ټوپ کړ لکه چې وهلو ته يې نيت کړی وو. د سګرټو سوری يې ورته تر پوزې لاندې ونيو، هغه هم ددې واړه زخم په وړاندې هېښ پاتې وو، په ترټرۍ ژبه يې وويل:

- "دا... دا څه شی دی؟ نه پوهېږم، قسم دی چې هېڅ مې هم نه دي کړي! نه پوهېږم چې په دې چترۍ څه شوي دي؟"

هغې نو اوس چغې وهلې:

- "قسم دی چې په دفتر کې به دې نخرې کړې وي، له ځانه به دې مداري جوړ کړی وي، د ښوولو لپاره به دې خلاصه کړې وي."

هغه ځواب ورکړ:

- "ما تش يو وار پرانيسته چې خلکو ته وښيم چې څومره ښکلې ده، نور مې څه نه دي کړي. قسم درته خورم."

خو هغې ورته ځمکه ودربوله او هغه څه یې وروښوول، چې د سوله خوښوونکي سړي لپاره خپل کور د جنګ له هغه میدان نه هم لا هیبتناک کړي چې سرې ګولۍ پکې اوري. بیا یې د زړې چترۍ له وربښمین ټوکره، چې رنګ یې هم بدل وو، یوه ټوټه پرې ولګوله. سبا ته اورۍ خړ سر دفتر ته له دغه پیوندي سامان سره لاړ، په الماري کې یې کېښېښود او داسې یې هېر کړ لکه سړی چې د یوې بدې خاطرې د هېرولو هڅه کوي.

کور ته لا ننوتی نه وو چې ښځې یې چترۍ له لاسه واخیسته، پرایې نیسته چې حالت یې وګوري او د نوي ناورین په لیدو یې ساه په ستوني کې بنده شوه. چترۍ وړو وړو سوریو داسې غلبېل کړې وه، لکه چا چې پرې د لګېدلي پایپ سرې ایرې ورشیندلې وي. د جوړولو نه وه، ببخي له منځه تللې وه. همداسې یې ورته کتل او څه یې نه ویل. دومره قهرېدلې وه، چې له خولې یې غږ نه خوت. هغه هم ورانی لیده، بې عقله غوندې، وارخطا، خواشینی ولاړ وو .

بیا یې یو بل ته سره وکتل، هغه سترګې ښکته واچولې، خو دا ځیرې پیرې شی یې، چې په شدت ورګوزار شوی وو، پر مخ ولګېد. وروسته هغې چیغې کړې، د لېونۍ غوسې له برکته یې بېرته خپل غږ را پیداکړی وو:

- "ځوانیمرګه ! دا دې له قصده داسې کړې دي، خو زور به یې درنه وباسم! بله را نه والله که په سترګو هم و وینې! "

او ننداره بېرته پیل شوه. پوره یو ساعت وروسته هغه ایله وکړای شول، چې څه ووايي، قسمونه یې وخوړل چې هغه هم نه پوهېږي چې دا څنګه داسې شوي. ضرور به یې چا د رخې او یا د بدل اخیستو لپاره دا کار کړی وي.

د زنګ شرنګا خلاص کړ. يو دوست يې د ماښام لپاره مېلمه کړی وو، هغه را ورسېد. مېرمن اوری ورته کيسه تېره کړه او دا يې هم وويل، چې نور به نو خپل خاوند ته بله چتری وا نه خلي. دوست يې په حقه ورسره داسې استدلال وکړ:

- "ښه نو بې بي، چې داسې شوه بيا به يې کالي ژر ژر خرابېږي او د کاليو ارزښت خو د چتری نه ډېر وي! "

ورکوټې ښځې همداسې په قهر وويل:

- "د پخلنځي چتری به له ځان سره وړي، د ورېښمو چتری بيا نه ورکوم."

په دې خبره اوری رانېغ شو:

- "ښه نو بيا به زه هم استعفا ورکړم خو د پخلنځي چتری به دفتر ته يونه سم."

دوست يې وويل:

- "بېرته يې پوښ کړئ، دومره ګرانه به نه درته لوېږي."

مېرمن اوری په ناهيلي اواز وويل:

- "کم له کمه اته روپۍ خو يې په پوښ کولو هم لګېږي. اته او اتلس شپږويشت کېږي. شپږويشت روپۍ په يوې چتری لګول بېخي لېونتوب دی، لېونتوب! "

دوست يې چې يو غريب ښاری وو، لکه الهام چې ورته شوی وي، وويل:

- "په خپله بيمه يې جوړه کړئ. که پېښه د کور دننه شوې وي د بيمې کمپنۍ د سوو شيانو تاوان هم ورکوي."

له دې مشورې سره وړه ښځه غلې شوه او له يوې شېبې چورت وهلو وروسته يې خپل خاوند ته وويل:

- "سبا، مخکې له دې چې وزارت ته لاړ شې، د بيمې کمپنۍ "مورنيزې" دفتر ته به ورشې چتری به دې ورته وښيې او تاوان به ترې و غواړې."

اورۍ له ځایه ټوپ کړ:

- "زه به هېڅکله دومره زړه ونه کړم. اتلس روپۍ وې، ورکې شوې، خلاصه خبره ده په دې به نه مرو! "

په سبا یې همسا په لاس کې و نیوه او له کوره ووت. ښه وو اسمان شین وو. مېرمن اورۍ چې په کور کې یواځې پاتې شوه د اتلسو روپیو ورکېدلو ته یې زړه نه شو ښه کولای. چترۍ د خوراک د خونې پر مېز پرته وه، دا ترې ګرده تاوېده او تصمیم یې نه شو نیولای. د بیمې خبره به یې هره شېبه مغزو ته راتله، خو د هغو سړیو خندنی نظر هم ورته د زغم وړ نه برېښېده، چې تاوان یې باید ترې غوښتی وای. هغه ډېره شرمګیره وه، په نه خبره به تکه سره شوه او له نا اشنا خلکو سره به یې چې خبرې کولې روحیات به یې بایلل، خو بیا هم د اتلسو روپیو غم داسې ځوروله لکه یو زخم چې سړی ځورويي. ډېره هڅه یې وکړه، چې نور په کې چورت و نه وهي، خو بیا به یې د دغه تاوان فکر په مغزو کې شور جوړ کړ. نه پوهېده چې څه وکړي. ساعتونه همداسې پسې تېرېدل، خو هغې تصمیم نه شو نیولای. ناڅاپه، لکه کله چې ډارن خلک ځان په یو دم کې تورزن کړي، راپاڅېده:

- "ورځم، هر څه چې و شو! "

لومړۍ یې باید چترۍ داسې برابره کړې وای، چې هم یې ناورین ښه جوت وای او هم یې د ثبوت کار اسانه وای. یو اورلګیت یې راواخیست او د دوو اوسپنیزو لښتو تر منځ یې د یوې لوېشتې په اندازه ځای وسوځاوه، بیا یې د چترۍ پاتې ورېښمین ټوکر په ډېر احتیاط کت کړ، د کشک تسمه یې ټینګه کړه، پړونی او خولۍ یې په سر کړل او د ریوولي واټ پر لور، چې د بیمې دفتر پکې وو، په ټینګو

ګامونو روانه شوه. خو هر څومره چې نژدې کېده، هماغومره یې پلونه ورو کېدل.
څه به یې ویل؟ څه ډول ځواب به یې اورېده؟

د کورونو نومرو ته یې وکتل. اته ویشت لا ورته پاتې وې. پوره وخت یې درلود چې لا نور فکر یې هم کړی وای. پلونه یې همداسې پسې ورو کېدل. ناڅاپه و درېده. همدغه دروازه وه چې په طلایي تورو پرې لیکل شوي وو "مورنیزه، د اور په مقابل کې د بیمې شرکت". څومره ژر رارسېدلې وه! یوه شېبه ودرېده، بیا وړاندې لاړه، بېرته راوګرزېده، بیا هم له دروازې تېره شوه او بیا بېرته راغله. بیا یې له ځانه سره وویل:

- "په ورتګ خو هسې هم ورځم، نو چې هر څومره ژر ترې خلاصه شم هماغومره ښه ده."

کور ته چې ننوته زړه یې درزېده. یوې لویې خونې ته ورننوته، چې هر لوري ته یې غرفې وې او د هرې غرفې شاته د یوه سړي سر ښکارېده، چې تنه یې د جالۍ شاته پټه وه. یو سړی راغی چې د کاغذونو بنډل یې په لاس کې وو. دا ورمخکې شوه او په لړزېدلي غږ یې ترې و پوښتل:

- "وبخښه صیبه، راته ویلای شې چې د سوو شیانو د تاوان غوښتلو لپاره چېرته ورشم؟ "

هغه ورته په لوړ اواز وویل:

- "دویم پوړ، کیڼ لاس ته د اورونو دفتر".

په دې خبره یې تشویش نور هم زیات شو. غوښتل یې و تښتي، هېڅ و نه وایي او خپلې اتلس روپۍ د شیطان په اروا کړي. خو د دومره پیسو له فکر سره بیا لړه لړه ډاډه شوه. چې په زینو ختله سا یې لنډه، لنډه کېده، په هره پوړۍ به

دربېدله. دويم پوړ ته چې ورسېده، يوه دروازه يې وليده، ويې ټکوله. يو صاف غږ ورته بلنه ورکړه:

- "راځئ! "

ننوته. د يوې لويې خونې په منځ کې درو تنو سړيو، چې مډالونه ور پورې وو، په ډېر شوکت سره خبرې کولې. يوه تن ورته وويل:

- "صيب څه غواړې؟ "

له دې نه خپلې خبرې هېرې وې، په بنده ژبه يې وويل:

- "زه دغه ته راغلې يم... دغه... د اور په خاطر" .

سړي ورته په ډېر ادب يوه څوکۍ و ښوله:

- "تاسې زحمت وکاږئ دلته کښېنئ، زه به په يوه شېبه کې ستاسې په خدمت کې يم" .

بيا يې دوو نورو ته مخ ورواړاوه او خپلې خبرې يې پسې اوږدې کړې:

- "ښاغلو، د کمپنۍ په اند ستاسې په وړاندې د هغې ذمه واري له څلورو لکو زياته نه ده، موږ ستاسې هغه سل زره چې ناحقه يې راباندې اړوئ نه شو منلای، لا بيه مو هم..."

له هغه نورو دوو څخه يوه وويل:

- "ښه نو ښاغلو نور به يې په همدې ځای لنډه کړو د ويلو څه نه دي پاتې فيصله به محکمې کوي" .

هغوی له تشريفاتي سلامونو وروسته ووتل. دې که زړه کولای شوای، نو تښتېدلې به وه خو دومره جرأت چېرته وو؟ سړی راغی، سر يې په درناوي ټيټ کړ:

- "ښه صيب، تاسې ته څه خدمت کولای شم؟"

**هغې ورته په ډېر مشکل وویل:**

**- "زه... د دغې لپاره راغلې یم" .**

**رییس په حیرانۍ هغه شي ته وروکتل چې دې وروړاندې کړ. هغې هڅه کوله چې په رېږدېدونکو لاسونو یې کشک پرانیزي. له ډېر کړاو وروسته بریالۍ شوه او د چترۍ تار تار کالبوت یې و غوړاوه. سړي په خواخوږۍ ورته وویل:**

**- "دا خو سخته رنځوره ښکاري" .**

**هغې په لږ تردد وویل:**

**- "شل روپۍ مې پرې ورکړې وې" .**

**هغه په تعجب وویل:**

**- "ریښتیا؟ دا خو ډېرې پیسې دي! "**

**- "هو، ډېره ښه یې وه، غوښتل مې چې تاسې یې هم وضعیت په خپله وګورئ" .**

**- "ډېر ښه، ډېر ښه، خو پوه نه شوم، دا په ما پورې څه اړه لري؟ "**

**سودا ور ولوېده. شاید دا کمپنۍ به د وړو شیانو تاوان نه ورکوي. و یې ویل:**

**- "خو سوې ده کنه! "**

**سړی په دې خبره منکر نه شو:**

**- "زه هم ګورم چې سوې ده ."**

**د هغې خوله وازه پاتې شوه، نه پوهېده څه ووایي. ناڅاپه یې خپلې غلطۍ ته پام شو، په تادۍ یې وویل:**

**- "زه مېرمن اورۍ یم. موږ په "مورنیزه" کې بیمه اخیستې ده، اوس ددې د تاوان لپاره راغلې یم" .**

**خو بیا ووېرېده چې نه به ورته ووایي نو ژر یې ورزیاته کړه:**

- "زه صرف همدومره غواړم چې راته پوښ یې کړئ"

رییس حیرانه شان وویل:

- "نو صیب موږ خو چترۍ نه جوړوو، دا کار موږ نه شو کولای" .

د کوچنوټې ښځې زړه ته جرأت بېرته راغی. په کار وو چې شخړه وکړي. "شخړه به کوم نو!" نوره نو نه ډارېده، و یې ویل:

- "زه یې تش د جوړولو قیمت غواړم، نور کار به یې په خپله وکړم" .

سړی خجالت وهلی غوندې و.

- "رښتیا، صیب، دا خو هیڅ شی نه دی. له موږ څخه کله څوک د دومره وړو، بې ارزښته پېښو تاوان نه غواړي. ته په خپله فکر وکړه، موږ خو نه شو کولای چې د دسمالونو، دستکشو، جاروګانو، څپلکو او نورو داسې وړو شیانو تاوانونه ورکړو، چې په کور کې تل د لمبو له خطر سره مخ وي" .

هغه تکه سره شوه، غوسې پرې غلبه وکړه:

- "صیبه، د تېر دسمبر په میاشت کې زموږ دېوالي بخارۍ اور واخیست، چې د پینځو سوو روپیو تاوان یې راواړاوه، خو ښاغلي اورۍ له کمپنۍ څخه تاوان ونه غوښت، نو دا خو په حقه کار دی چې نن مې راته د دې چترۍ تاوان راکړي" .

رییس یې په دروغو پوه شو، په موسکا یې وویل:

- "ښه نو صیب ته په خپله وو‌ایه چې دا عجبه خبره نه ده چې ښاغلي اورۍ د پ ینځه سوو تاوان و نه غوښت او نن راځي د پینځو شپړو روپیو د چترۍ تاوان غواړي؟"

هغه وارخطا نه شوه، و یې ویل:

- "و بخښه صیب، هغه پینځه سوه د ښاغلي اورۍ له جېبه وې، خو دغه اتلس روپۍ د مېرمن اورۍ له همیانۍ راوتلي. دا او هغه یوه خبره نه ده" .

رییس پوه شو چې داسې په اسانهترې نه خلاصېږي او ورځ به يې پکې وي، نو له ناکامه يې وويل:

- "ښه نو دا راته ووايه چې دا حادثه څرنګه پېښه شوه؟"

هغې د بري احساس وکړ او کیسه يې پیل کړه:

- "صیب زما د کور په دهلېز کې يو ډول د زيړو يو شی دی، چې چترۍ او همساګانې پکې ږدو. ها بله ورځ چې راغلم، دا چترۍ مې هلته کېښودله. دا هم باید ووايم چې د هغه شي د پاسه يو رېکی هم شته، چې هلته شمې او اورلګيت ږدو. ما لاس تېر کړ، څلور تيلي مې راواخيستل، يو مې وواهه و نه لګېد، بل مې وواهه ولګېده، خو دستي مړ شو، درېیم مې چې وواهه، هغه هم همداسې شو..."

رییس د خندا په دود ورته وويل:

- "دولتي تيلي به وو؟"

هغه په ټوکه پوه نه شوه، خپله خبره يې پسې اوږده کړه:

- "کېدای شي. هر څه چې وو خو څلورم تيلی و لګېده، ما پرې خپله شمه بله کړه، کوټې ته لاړم او پرېوتم. يو پاو غوندې وخت به تېر شوی وو، چې د سوي بوی راباندې ولګېد. زه له اوره ډېره سخته ډارېږم او که کومه ورځ مو کور اور واخلي زما ګناه به نه وي، په تېره لا د هغه بخارۍ د اور له پېښې راوروسته ببخې ناکراره يم. ښه نو راپاڅېدم، راووتم لکه د ښکاري سپي مې هر ځای پوزه سونډوله اخر پوه شوم چې چترۍ مې اور اخيستی. کېدای شي چې يو تيلی به پرې ورلوېدلی وو. وګوره څه شی يې ترې جوړ کړی دی".

رییس نو اوس تسلیم شوی وو، پوښتنه يې وکړه:

- "ستاسې په نظر به دا خساره څو ته رسېږي؟"

هغه بې ځوابه پاتې شوه، جرأت يې نه کاوه، چې يو قيمت و ټاکي، بيا يې د خپل سخاوت د ښکاره کولو لپاره وويل:

- "په خپله يې په چا جوړه کړئ، زه درباندې پوره باور لرم" .

هغه و نه منله:

- "نه صيب زه دا کار نه شم کولای. دا راته ووايه چې څو غواړې؟"

- "ښه نو زما په فکر... ګوره صيب، زه نه غواړم چې په تا باندې ګټه وکړم، داسې به وکړو چې زه به دا چترۍ يو چتري ساز ته يوسم، چې په ښه کلک وربښمين ټوکر يې پټه کړي او رسيد به يې در ته راوړم. سمه ده؟"

- "ښخي سمه ده، همداسې به وکړو. دغه پرزه درسره واخله، صندوقدار ته به يې ورکړې چې ستا مصرف شوې پيسې ببرته درکړي" .

يو کارت يې مېرمن اورۍ ته ونيو. هغې کارت واخيست، په مننه مننه کې په بيړه ووتله، ډاربده چې سړی له خپلې خبرې وانه وړي.

اوس نو په خوشاله قدمونو روانه وه داسې يو چتري ساز يې پسې غوښت چې لږ يې رونق برابر وي. کله يې چې داسې موړ شان ته دوکان پيدا کړ ورننوته او په ډاډه غږ يې وويل:

- "دغه چترۍ په وربښمو پټوم، په ډېرو ښو وربښمو. چې تر هغې ښه نه وي داسې ټوکر په کې وکاروئ. زه يې په بيې پسې نه ګرزم.

# اعتراف

د اتلس سوه دري اتيايم کال د جولای د اوولسمې نېټې د شپې دوه نيمې بجې وې چې د بسيرز د هديرې څوکيدار د خپل سپي په غپا را ويښ شو، څوکيدار د هديرې څنګ ته په يوه خوار کور کې ويده کېده، د سپي غپا د کور له پخلنځي راتله، سپی هورې ايسار وو، وربوز يې د وره په چولو باندې موښه، بوی يې ايسته، بد حال يې جوړ وو، غپېده، لکه کور ته چې غل را اوښتی وي.

څوکيدار توپک را واخيست، دباندې و ووت، سپی چې په ده پسې وو، ناڅاپه د جنرال بونيت ميدان لور ته تاو شو او د مېرمن توموېسو يادګاري څلي ته ودرېد، څوکيدار شېبه نيمه تم شو او بيا په احتياط احتياط په مخ لاړ، چپ لور ته يې څه رڼا تر سترګو شوه او چې د قبرونو په منځ کې غلی غلی پسې ورغی، يوه ډېره بده او سپکه صحنه يې وليده.

يوه سړي د يوې ښځې تابوت- چې تېره ورځ خاورو ته سپارل شوی وو- را ايستلی، د تابوت تختې يې لرې کړې وې او اوس لګيا وو مړی يې را ايسته، څوکيدار د تتې رڼا څراغ ته دا هر څه وليدل، ور ټوپ يې کړل، سړی يې را چپه کړ، لاسونه يې ور وتړل او د پوليسو ماموريت ته يې وسپاره.

نيول شوی سړی کورېټايل نومېده، د ښار د يوې شتمنې او باعزته کورنۍ غړی وو، حقوق يې لوستي وو او دارالوکاله [د وکالت چېمبر] يې لرله.

متهم محکمې ته معرفي شو، د متهم په خلاف د څارنوال د شکایت له اورېدو وروسته د محکمې په کوټه کې ناست کسان ټول متهم ته په غوسه شول، په یوه خوله یې چیغې کړې، "دغه سړی د اعدام وړ دی، باید اعدام شي". قاضي په زحمت سره ناست کسان یو څه غلي کړل او بیا یې په جدي غاړه وویل:

- "متهمه! ته د ځان د سپیناوي لپاره څه ویل غواړې؟".

متهم چې ځانته وکیل نه وو نیولی، له ځایه را پاڅېد، ښکلی دنګ، سور سپین ځوان وو، معصومه څېره یې لرله او داسې ښکارېده لکه وېره چې ورسره نه وي، جدي وو، د ناستو کسانو قهر او شور ماشور ته له پامه پرته یې په خبرو پېل وکړ:

"ښاغلی رئیس او د منصفه هیئت غړیو! زه د ویلو دپاره ډېر څه نه لرم، هغه څوک چې ما یې قبر وسپاره، زما معشوقه وه، زه په هغې مین وم، دا نفساني مینه نه وه، یو هوس نه وو چې راشي د زړه دروازه وټکوي او بیا پر خپله لاره روان شي، دا د ریښتیا مینه وه.

دا نجلۍ چې مې په لومړي ځل ولیده، یو عجب نااشنا حالت را پیدا شو، زه څه ووایم، نه حېرانتیا وه، نه د ستاینې احساس، نه هغه څه چې خلک یې په اول ځل مینېدل بولي، خو بس یو خوند او کیف وو، چې پکې ډوب شوم، داسې شوم لکه څوک چې په تاوده حمام کې واچوې، داسې راته ایسېده لکه له ډېره وخته چې یې پېژنم او ډېره پخوا مې لا لیدلې وي.

لکه دا چې هغه ځواب وي چې زما روح ورپسې ټول عمر پوښتنه پوښتنه وو، نور نو صرف یو فکر را سره وو او هغه د دې وو، دغه تصور چې هغه به لاس په لاس کې راکړي، تر بل هر تصور راته خوږ وو، د هغې د شونډو موسکا به په یو لېوني خوند کې لاهو کړم، زړه به مې غوښتل چې منډه واخلم، وناڅم، په مځکه ټوپونه

ووهم، بس دغسې حال وو چې يو په بل مينان شوو، هغه مې ژوند شوه، نور نو د دنيا پر مخ پرته له دې په بل هيڅ شي پسې نه ګرزېدم، په زړه کې مې بله هيڅ آرزو پاته نه شوه.

يو مازيګر چې د سيند په غاړه غاړه تر لرې پورې لاړو، تېز باران را ايسار کړو، دا زکام شوه، سکاروي ووهله او هفته پس مړه شوه.

تاسې فکر وکړئ که يوه ښځه درباندې بې حده ګرانه وي او هغې هم زړه په تا بايللی وي او دغه وخت هغه ناڅاپه تری تم شي، پوپنا شي، د همېشه دپاره، تاسې به څه احساس کوئ، د دې خبرې به څه مانا وي چې د هغې سترګې به نه غړېږي، هغه به نور هيڅ وخت هيڅکله هيڅېرته نه وي، د هغې په رنګ بل څوک به بيا هيڅکله دنيا ته نه راځي، په مليونونو بنيادمان به راشي لاړ به شي خو هغه به پکې نه وي، تاسې څه فکر کوئ، دغسې فکرونه به په سړي څه حال راولي.

هغې يواځې شل کاله ژوند وکړ، نه زيات او بيا د ابد لپاره غايبه شوه، له هغې سره ارزوګانې وې، هغه موسېدله، په هغې ګران وم خو اوس هيڅ نه شته.

زړه مې وغوښتل چې د هغې تاند بدن، د هغې تود، خوږ او سپين بدن- چې تر مځکه لاندې به په تابوت کې ورستېږي- يو ځل بيا ووينم.

بېل، څراغ او څټک مې را واخيستل، پسې ووتم، د هديرې پر دېوال واوښتم، د هغې قبر ته ورغلم، لوڅ مې کړ، د تابوت يوه تخته مې را بېله کړه، د بدن د ورستېدو بوی يې راباندې ولګېد.

آه! هغه بستر څه شو، چې د سوسن د ګلونو عطر ورنه لتېده، تابوت مې پرانيست، څراغ مې ورته ونيو، دا مې وليده، مخ يې شين وو لکه پړسېدلی چې وي، له خولې يې توربخونې اوبه راوتلې وې، ښځه مې وه، هو دا وه، بوږنېدلی وم،

خو بیا مې هم لاس وراوړد کړ، چې د ځان خوا ته یې را کاږم، دغه وخت څوکیدار ونیولم.

ما کری شپه د هغې د ورستېدونکي بدن بوی له ځان سره ساتلی وو، لکه څوک چې د معشوقې د بدن خوږ بوی له ځان سره ساتي".

"اوس چې هر څه کوئ هغه وکړئ".

د محکمې په کوټه کې چوپه چوپتیا وه، ټولو تمه لرله چې ځوان به نور څه هم ووایي، خو محکمه د لنډ وخت لپاره برخاست او څو دقیقې وروسته چې را ستانه شول متهم ځوان هماغسې ولاړ وو، پر مخ یې هیڅ ډار او اندېښنه نه وو.

قاضي اعلان وکړ چې د منصفه هیئت غړي یې وایي ځوان بې ګناه دی.

ځوان له ځایه ونه خوځېد او د محکمې په کوټه کې چکچکې پیل شوې.

# امېل

هغه یوه له هغو ښکلو نجونو څخه وه، چې د تقدیر د تېروتنې له امله په غریبو کورنیو کې زېږېدلې وي. نه یې د واده لګښت درلود، نه هم د واده هیله، او هېڅکله هم په دې فکر کې نه وه، چې له یوه داسې شتمن سړي سره وپېژني او واده ورسره وکړي، چې احساسات یې درک کړي او ورباندې ګرانه وي.
نو له همدې امله یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له یوه ساده منشي سره واده وکړ.
ساده، کم هیلې او په لږ څه راضي نجلۍ وه، څکه هېڅکله نه وه توانېدلې چې په ژوند کې د ځان لپاره له شته شیانو پرته نور هم برابر کړي. خو دومره بدمرغه وه، چې تا به ویل تر ځان یې هم له یوه بدتر او خوار سړي سره واده کړی دی. ښځې خو هسې هم کوم ټاکلی پوړ او ټاکلې ډله-مله نه لري؛ بس د هغوی ښکلا، نازکتوب او د اندامونو ښایست د هغوی تر کورنۍ او د زېږېدنې تر ځای ډېر غوره او ارزښتمن دی. طبیعي نازکتوب، فطري ښکلا، چابک او چُست تګ او پستې خبرې د هغوی یواځېنۍ نخښې دي، همدغه څه دي چې د ټیټ پوړ ښځې د ټولنې د لوړو هغو په کتار کې دروي.
ببخي ډېره ځورېدله، څکه ځان یې د هر ډول سینګار، خوښۍ او ښکلي-موډرن ژوند وړ ګانه. خپل د غریبۍ کور او د هغه لغړو دېوالونو، بوسو او زړو څوکیو او د کوټو بدرنګو پردو ډېره ځوروله.

دغو ټولو شیانو- چې د دې غوندې نورې ښځې ترې خبرې هم نه دي- په زړه کې لمبې وربلولې، ډېره زیاته به یې خواشینې کوله. د خپلې ماشومې انګلیسۍ نوکرې په لیدو به یې سوي زړه درد اخیستی او په سر کې به یې د نهیلۍ خوبونه پیدا کېدل. هغې به چوپ او آرام تالارونه په ذهن کې انځورول، چې زرینې پردې به پکې ځوړندې وې او په غټو- غټو ځلېدونکو غابونو کې به مشالونه پکې بل وو، په دغو تالارونو کې به دوه غټ-مټ غلامان هم په لندو پټلونونو پر دوو څوکیو د بخارۍ په تودوخه کې ویده وو.
د خیال په نړۍ کې به یې پراخ او آزاد سالونونه لیدل، چې پر دېوالونو به یې ډول-ډول ابرېښمي پردې ځړېدلې او په ښو قېمتي مېزونو او څوکیو به سینګار وو. هغې به ښکلې وړوکې معطرې کوټې هم لیدې، چې یواځې به د ځانګړو مېلمنو او تېرونو خپلوانو لپاره بېلې شوې وې. په دې کوټو کې به یواځې مشهور خلک مېلمانه کېدل او د ټولو سترګې به د دوی پر لوري اوښتې وې. د دوی پر وړاندې به د خلکو درناوي او لاس پر نامه درېدا د نورو ښځو د سیالۍ حس ډېر سخت راپاراوه.
کله چې به د غرمنۍ خوړلو لپاره ګردي مېز ته- چې په یوه نوي مېزپوښ به پوښل شوی و- خپل خاوند ته مخامخ کښېناستله، نو خاوند به یې په یوه لوښي کې ښوروا اخیسته، په خورا خوند به یې خوړله او ویل به یې:
- "اوهو څومره خوندوره ښوروا، څومره ښه پخه شوې ده! "
او شاهانه خوندور خواړه به یې د سپینو زرو په ځلېدونکو لوښو کې- چې د پخوانیو خلکو په لاسونو به سینګار او ښکلي شوي وو- له ښایسته دېوالونو سره په ذهن کې ورګرزول. خیالي او افسانوي ځنګل به یې هم له عجیبه مرغیو سره لیده او بیا به یې په ښکلو ګران بیه او حیرانوونکو غابونو کې خوندور خواړه هم

لیدل، چې مېلمنو ته به وړل کېدل. نوکران به د دغو خوړو د راوړلو پر مهال ښځو ته په مینه ناکو او نازدانه ستونو دورې-هورې کېدل.
هغې دغه زمزمې اورېدې او ځان یې په یوې نه ستاینېدونکې موسکا ورته سپارلی وو. هغې د داسې چا حالت درلود، چې د کب د یوه ډېر خوندور خوراک او یا هم د یوه سور کړي چرګ مخې ته ناست او توان و طاقت یې له لاسه ورکړی وي.
(ماتیلد) نه کالي درلودل، نه زر او نه هم بل هېڅ قېمتي شی. بس یواځې به همدغه خوبونه وو، چې هغې ته به ګران وو او احساسوله به یې چې د همدغو خوبونو لپاره پیدا شوې هم ده. هغې د ښکلا، د نارینه وو پام وړ ښایستو اندامونو او داسې وحشي- جنسي راښکون لېونی هیله درلوده، چې ټول خلک ورپسې مړه وي.
هغې د ښوونځي د مهال یوه پخوانۍ شتمنه ملګرې درلوده، چې اوس یې د هغې له لیدو څخه بېخي ډډه کوله. ځکه هر وخت چې به د هغې له کوره راستنېدله، نو له غم او خواشینۍ څخه به لبرېزېده، سخته به ځورېدله او په ورځو-ورځو به یې په نهلیۍ او حسرت ژړل.
خاوند یې یوه ورځ په داسې حال کې، چې غټ پاکټ یې په لاس کې وو، په ډېرې خوښۍ کورته راغی او ویې ویل:
- "یو ښه شی مې درته راوړی دی! "
ماتیلد پاکټ ژر څیرې کړ او یو کارډ یې ځنې راوایست، چې پکې لیکلي وو: (د اطلاعتو او کلتور ښاغلی وزیر او آغلې (رامسونو) به خوښ شي چې که تاسې محترم ... او محترمه ... د جنورۍ پر اتلسمه د دوشنبې په شپه د اطلاعات او کلتور وزارت په یوې مېلمستیا کې په برخه اخیستلو ویاړ وروبخښۍ!).

ماتیلد د خاوند د هیلې پر خلاف، د دې پر ځای چې خوښه شي، بلنلیک په ډېره غوسه پر مېز وغورزاوه او تر شونډو لاندې یې وویل:

- "ښه ، مثلاً ته څه غواړې؟! زه په دې بلنلیک څه وکړم؟! "

- "ګرانې ولې په غوسه شوې؟ ما خو فکر کاوه ته به خوشحاله شې، ته هېڅکله له کوره دباندې نه وزې او دا یو وړ فرصت دی. ته نه پوهېږې چې دا کارډ مې په څومره ستونځو او خواریو تر لاسه کړ، ټول د یوه دغسې بلنلیک غوښتونکي دي! دا ښه مهمه غونډه ده او بیا بېخي لږ ممکنه ده، چې منشیان دې داسې غونډو ته لار پیدا کړي. ته به هلته ټول لوی او ستر شخصیتونه ووینې! ".

ماتیلد له غوسې په ډکو سترګو ور وکتل او بیا یې په بې صبرۍ وویل:

- "تر اوسه دې فکر کړی دی چې زه باید دې رنګه غونډو ته د تللو لپاره څه ډول جامې واغوندم؟! "

- "خو ولې، هغه جامې دې واغونده چې تل یې ننداري ته د تلو پر مهال اغوندې؟ زما په نظر خو په هغو کې هېڅ کمی نشته...!"

خو ناڅاپه یې خپله خبره غوڅه کړه، ځکه پام یې شو چې ماتیلد ژاړي او تر ښکلو او ښایستو سترګو یې د اوښکو غټې-غټې څاڅکي څڅېږي. خاوند یې په غېږ کې ونیوله او په مهربانۍ یې ورته وویل:

- "زما ګرانې ماتیلد، ته ولې دومره ځان خورې؟ هر څه چې غواړې درکوم یې! "

ښکلې مېرمنې یې په داسې حال کې، چې اوښکې یې پاکولې ځواب ورکړ:

- "نه، زه ځان نه خورم، غوره دا ده چې دغه کارډ دې خپل کوم ملګري ته ورکړې، البته یوه هغه ملګري ته، چې ژوند یې تر موږ ښه او غوره وي! "

خاوند خوار یې په مات زړه یوې خوا ته نهیلی کښېناست او په فکر کې ډوب شو، آخر چې یې ولیدل مېرمن یې نه کرارېږي نو یې وویل:

- "ماتیلدا! د یوې ښې جوړې جامو لپاره دې څومره پیسې په کار دي؟
ماتیلد تر څه فکره وروسته ځواب ورکړ:
- "فکر کوم د څلورو سوو فرانکو په شاوخوا کې".
د خاوند رنګ یې والوت، ځکه دا پیسې بالکل له هغې بچت شوې پانګې سره برابرې وې، چې ده غوښتل په راتلونکي اوړي کې یو ښکاري توپک په واخلي او څه موده له خپلو ملګرو سره ښکار ته لاړ شي. خو پر دې برسېره یې بیا هم وویل:
- "ډېر ښه ګرانې! څلور سوه فرانکه خو دومره شی نه دي، زه دغه پیسې برابروم او در کوم یې، هڅه وکړه چې د جشن د شپې لپاره ښې ښکلې جامې واخلې! ".
د مېلمستیا ورځ رانیژدې کېده، خو مېرمن ماتیلد لا هماغسې خواشینې او نیولې ښکارېده.
جامې چې یې کله له درزي څخه واخیستې او کور ته یې راوړې، نو خاوند یې ورته وویل:
- "داسې ښکاري لکه بیا چې هم ناآرامه یې، دوې- درې ورځې کېږي چې خواشینې دې وینم؟! ".
- "البته ولې نه! ولې خواشینې نه شم؟ زه هېڅ زر نه لرم چې له دغو ښکلو جامو سره یې په ځان وځړوم! تر دې چې د یوې بدلې ډبرې ځښتنه لا هم نه یم. په خدای چې نور له دې ژونده پزې ته راغلې یم، زه یوه داسې جشن ته له زرو پرته نه شم تللای! ".
خاوند یې بیا څه فکر وکړ او ویې ویل:
- "له خپلې پخوانۍ ملګرې آغلې (فروستیر) څخه څه زر امانتاً نه شې اخیستلای؟ ته هغې ته ورشه، ملګرې دې ده، یوه داسې غوښتنه خو بالکل ځنې کولای شې."

ماتیلد ناڅاپه په خوښۍ له ځایه ټوپ کړ او ویې ویل:
- "اوه ریښتیا، هغه مې هېڅ یاده نه وه! ".
په سبا د خپلې پخوانۍ ملګرې آغلې ( فروستیر) کور ته لاړه. هغې یې په وړاندې د خپلو زېوراتو لویه جابه پرانیسته او په مهربانۍ یې ورته وویل:
- "هو، ولې نه، هر یو چې غواړې، پکې غوره یې کړه! ".
څو لاسبندونه، یو ایټالوی صلیب- چې له خالص زرو جوړ او په الماسو کې نیول شوی وو- او همدارنګه نور ډېر جواهرات یې په مخکې پراته وو. ماتیلد څه شېبه د زرو دغه سمندر ته ځیر شوه، خو یو یې هم پر بل غوره نه شوای ګڼلای، ځکه هغوی ټول ښکلي، ګران بیه، په زړه پورې او ځلېدونکي وو. ناڅاپه یې پر یوې تورې جابې سترګې ونښتې. هغه یې په بېړه پرانیسته، د الماسو د یوه غټ امېل په لیدو یې سترګې وځلېدې، زړه یې له ډېره شوقه ورته ویلې- ویلې شو. د هغه د وراخیستو پر مهال یې لاسونه خورا سخت رېږدېدل. په ډېرې خوښۍ یې په غاړه کړ او ویې ویل:
- "دغه یو اخیستلی شم؟"
فروستیر ځواب ورکړ:
- "ولې نه ګرانې ماتیلد، بالکل یې اخیستلی شې! ".
ماتیلد په یوه لېوني انداز ځان د خپلې پخوانۍ ملګرې په غېږ کې ور واچاوه او د مچو باران یې ورباندې پیل کړ. شېبه وروسته له قېمتي زرو سره- چې امانت یې اخیستي وو- کور ته ستنه شوه.
آخر د جشن شپه راورسېده. ماتیلد په دې شپه له یوه بېساري بري سره مخ شوه، تر ټولو ښکلې وه او تر ټولو یې ښې جامې اغوستې وې. د هغې په زړه پورو اداوو او هوسناکو اندامونو د ټولو ځوانانو زړونه وړي وو.

یوه د خوښۍ او غرور موسکا یې پر شونډو خوره وه او د ځوانانو په منځ کې به د ښکلي طاووس په څېر په مکېزونو روانه وه. ټولو ځوانانو ورسره په پېژندلو کې له یوه- بل څخه وړاندېوالی کاوه او په قدمونو کې یې خپل سرونه ورایښوول، تر دې چې د ښاغلي وزیر به هم تل یواځې دې ته پام وو او له څنګه به یې نه لیرې کېدی. ماتیلد د دې ناڅاپي بریالیتوب له امله مسته شوې وه، بېخاره یې ځښل او له ښایسته اندامه ښکلو ځوانانو سره نځېدله. هغې اوس خپل ټول دردونه او غمونه هېر کړي وو، نور یې په هېڅ شي کې هم فکر نه کاوه.

لکه نېکمرغۍ او خوښۍ چې یې پر څېرې سیوری غوړولی وو، د ځوانانو ستاینو، غلامیو او د هغوی له غوښتنو ډکو مینه ناکو کتو یې مړې او ورکې هیلې بیا ور ژوندۍ کړې وې. په خپل ټول ژوند کې یې داسې له خوښۍ او خونده ډکې شپې نه وې یادې.

نیژدې د سهار پر ځلورو بجو یې له خپل خاوند سره یو ځای مېلمستیا پرېښوده. له سالونه د وتلو پر مهال بېخي ډېره ناآرامه او تلوالۍ وه؛ وېرېدله چې د قېمتي جامو لرونکو ښځو تر سترګو نه شي او په ونه پوهېږي، چې دومره کیسه نه لري او له رازه یې پرده پورته نه شي.

خاوند یې په چټکۍ ورپسې منډې وهلې او په بیا- بیا یې ورته ویل:

- "ماتیلدا! ساړه دې وهي، پرېږده چې یوه بګۍ راوګرزوم! ".

خو هغې د خاوند په خبرو کې ری لا نه واهه، دوې زینې یې په یوه ګام وهلې او په ګړندیو قدمونو یې له هغه ځایه د لیرې کېدو هڅه کوله. کله چې له واټه په ښه بشپړه توګه ووتل، نو ودرېدل چې یوه بګۍ ومومي. خو بریالي نه شول، آخر په ناآرامۍ د (سن) سیند پر لوري لاړل.

یوه ډېره چټله دریېمه درجه بګۍ یې وموندله او پکې سپاره شول. دا یوه له هغو بګیو څخه وه، چې یواځې د شپې په وروستیو شپېو کې په پاریس ښار کې


www.sikaraam.com

موندل کېدلای شي. البته که ورځ وای، هېڅکله پکې نه سپرېدل، خو د شپې هغه مهال اړ وو، بله چاره يې نه درلوده. بګی هم دوی د خپل بد ډوله کور مخې ته- چې په (مارتير) کوڅه کې وو- پلې کړل. د ماتيلد د نېکمرغی ژر تېرېدونکې شېبې نور پای ته رسېدلې وې.
ماتيلد د سينګار په وړوکې کوټه کې خپل استعمالي بالاپوښ له اوږو ايسته کړ او د هينداريې پر لوري لاړه، چې د هغې شپې خواږه خوبونه يو ځل بيا د خپل ښکلي بدن په تصوير کې ووينې، خو ناڅاپه يې په وحشت چيغه کړه؛ امېل يې نه وو په غاړه. خاوند يې په منډه ورغی. د ماتيلد سترګې رډې- رډې راوتلې وې او په بنده- بنده ژبه يې وويل:
- "د آغلې ... د آغلې ... فروستير ... امېل ... راڅخه ورک شوی دی! ".
خاوند يې- چې تر هغې هم سخت ډارېدلی وو- په لړزاند ږغ وويل:
- "څه شي؟!! د الماسو امېل دې ورک کړی دی؟! ".
او بيا په خورا نهيلۍ، وېرې او ناآرامۍ د امېل په لټه شول. ټولې کوټې، الماري او د جامو ټول جېبونه يې ولټول، تر دې چې د کور دالېز يې تر واټ پورې په خورا غور ولټاوه، خو د امېل درک نه وو! دواړه سخت ناآرام او خواشيني وو، د يو- بل په وړاندې کښېناستل او يوې دردوونکې چوپتيا په غېږ کې واخيستل. آخر د ماتيلد خاوند اوچت شو او ويې ويل:
- "تر څو چې لا ناوخته شوی نه وي، بايد هغه لار ولټم چې پرې راغلي يو! ".
او بيا په منډه له کوره ووت. ماتيلد په هماغو جامو کې پر ځای کښېناسته، ټول بدن يې لړزېدی او اعصابو يې بېخي کار پرې اېښی وو. ډېر ژر يې د تېرې شپې مزې او خوښۍ هېرې کړې.
خاوند يې سهار پر اوو بجو راغی، خو څه يې نه وو موندلي. بله ورځ د ښار قوماندانۍ ته لاړل، خو د امېل هېڅ درک ونه لګېد. ماتيلد له لېونۍ په يوه ګوښه

کې ناسته وه، سترګې يې يوه ناڅرګند ټکي ته ځير کړې وې. سبا شپه يې مېړه په رنګ الوتې څېره او لوېدلو سترګو کور ته راغی، خو هېڅ پايلې ته نه وو رسېدلی. له ناچارۍ يې ماتيلد ته وويل:

- "ډېر ژر آغلې فروستير ته يو ليک ولېږه او يادونه پکې وکړه، چې امېل يې لږ څه مات شوی دی، بايد د رغېدو لپاره څه موده زموږ سره وي ... او بيا به وګورو چې څه پېښېږي".

ماتيلد هم هماغسې ليک وليکی لکه څنګه چې يې خاوند ورته ويلي وو او بيا يې خپلې ملګرې (فروستير) ته واستاوه. د اوونۍ په پای کې ټولې هيلې له منځه لاړې او ټول ورونه ورباندې وتړل شول. ماتيلد په هغو پينځو ورځو کې د پينځو کلونو غوندې زړه شوې وه. بله ورځ يې د امېل جابه له ځان سره واخيسته او د زرګرۍ دوکانونو ته لاړل. د مغازې څښتن په خپلوکتابچو کې وکتل او ويې ويل:

- "جابه خو يې زما څخه رانيولې ده، مګر په امېل يې نه يم خبر، ښايي په کوم بل ځای کې يې اخيستی وي".

له سهاره دغه بدمرغه خاوند او مېرمن له يوې مغازې وتل او په بلې ننوتل. آخر يې په داسې حال کې، چې دې ملاماتوونکې ضربې له پښو غورزولي وو د (پاله روايال) سيمې په يوه زرپلورنځي کې د هغه په شان يو امېل ومومند. بيه يې څلوېښت زره فرانکه وه، خو څښتن يې آخر په شپږ دېرش زره راضي شو. له هغه يې ژمنه واخيسته چې تر درېيو ورځو پورې امېل ونه پلوري.

د ماتيلد د خاوند ټوله شتمني اتلس زره فرانکه وه، چې له پلاره يې په ميراث وړې وه. نو د امېل لپاره نورې پاتې پيسې يې بايد پورولای. د بلې ورځې په سهار رهي شول چې پور و دار وکړي، زر فرانکه له يوه دوسته او پينځه سوه له بله، سل دلته او دوه سوه هلته. تر دې چې له سوداګرو يې په خورا درنو سودونو

پیسې واخیستې او په دې ډول یې خپل پاتې ژوند د دغو ملاماتوونکو پورونو په بدل کې په ګرو ورکړ.

مېرمن او خاوند خواران د دې ورباندې نازلې شوې بلا له امله سخت ځورېدل. خپل راتلونکی ورته خورا توپاني او وحشتناک ښکارېدی. درې ورځې وروسته د (پاله روایال) سیمې زرپلورنځي ته لاړل، شپړدېرش زره فرانکه یې پر مېز کښېښوول او امېل یې ځنې رانیوی. دا په داسې حال کې، چې د دغه پور د اداینې لپاره یې حتی د لسو فرانکو د تر لاسه کولو ځای هم نه درلود. امېل چې یې کله د خپلې ملګرې آغلې فروستیر کور ته یووړ، نو هغې د ګیلې په ډول ورته وویل:

- "دا خو دې باید ډېر مخکې راوړی وای، ما درته ویلي وو چې په کار مې دی! ".

ماتیلد زر ځله بخښنه وغوښته. له هغه ځایه راووتله او په داسې حال کې چې د نهیلۍ او مایوسۍ وېرووونکو منګولو یې ستونی سخت خفه کاوه بېرته خپل کور ته راغله.

له هماغې لومړۍ شېبې یې خپله ونډه په ډېرې مېړانې ادا کړه، ډېر ژر یې خپله ځوانه نوکره پسې واخیسته او د کور ټول کارونه یې پر خپله غاړه واخیستل. کور یې هم بدل کړ او د چادرې چت یوه کوټه یې کرایه کړه. ماتیلد په هغو نازکو لاسونو او هغه د ګلپاڼې په شان نازک بدن د کور ټول درانه کارونه یواځې کول، خواړه یې پخول، لوښي او جامې به یې پرېوللې، د کچرو درانه لوښي به یې هره ورځ په زینو کې کښته کول او د اوبو غټ- غټ ستلونه به یې راپورته کول. په زینو کې به په وارو-وارو ستړې کېده، پښې به یې بې سېکه کېدې. سهار- سهار به یې په ډېرو بدرنګو او زړو جامو ټوکرۍ اخیسته، په سودا کولو پسې به له کوره بهر وتله. د سودا پر وخت به یې د یوې نیمکې حساب هم کاوه، ټول بارونه

به يې پخپله يوائې راخېژول. هره مياشت به يې د پور يوه برخه ادا کوله، خو په هغې پسې به سمدستي د پور د بلې برخې منحوسه او وېرووونکې څېره راڅرګندېدله.

د ماتيلد خاوند هم د شپې کوم ځای کار نيولی وو، تر نيمو شپو به يې په کارځای کې کار کاوه او د حساب پر هره پاڼه به يې دوه سينټه اخيستل او دغه نه زغمېدونکی او دردوونکی ژوند لس کاله اوږد شو. د لسو کلونو په پای کې ټول پورونه ادا شوي وو، خو ماتيلد له يوې سپين سرې پرته نور څه نه وه، د کارګرو ښځو غوندې ډېل اندامې او هډوره شوې وه، وېښتان يې کلک-کلک شوي وو، ږغ يې هم ډېل شوی وو. نور هغه د ښاپېرۍ په څېر خيالي جسم او نازک اندامونه هېڅ نه وو ور پاتې. د ماتيلد اوږې د شپې او ورځې تر لس کلن ځور وروسته څه ناڅه سپکې شوې وې او په ورځ کې به يې وخت-ناوخته د پاريس ښار خوا ته د پرانيستې کړکۍ تر څنګ د کښېناستو فُرصت مونده او د هغې ښکلې شپې يادونه به يې ور يادول. هغې يو ځل بيا د ځوانانو ستاينې اورېدې او خپل له غروره ډک بری او خوند به يې په ذهن کې ورګرزېده. فکر يې کاوه څومره به ښه وای، چې په هغه شپه د آغلې فروستير امېل نه وای ورک شوی.

په رېښتيا، څومره عجيبه نړۍ ده! هېڅوک يې د پېژندلو توان نه لري، دا څه مصيبت دی چې د ژوند نوم يې ورباندې ايښی دی! په دې سر تر پايه د محروميت په نړۍ کې مو نېکمرغۍ او بدمرغۍ په څومره وړو- وړو شيانو پورې تړلې دي! څومره کوچنۍ پېښې مو د بريالي ژوند د ورانۍ لامل ګرزي!

يوه د يکشنبې ورځ وه، ماتيلد په لومړي وار له کوره دباندې وتلې وه چې څه آزاده هوا واخلي. خو ناڅاپه يې په (شانزه ليزه) واټ کې مېرمن فروستير وليده،

چې ښکلې جامې یې اغوستې دي، د یوه ماشوم لاس یې په لاس کې نیولی دی او ورو- ورو قدم وهي. لا هم هغسې ځوانه، ښایسته او جذابه وه. یوه دروني او مرموز حس اړه کړه، چې خپلې دې پخوانۍ ملګرې ته ټول حالووایي او په هر څه یې خبره کړي. په ډېر جوش او لېوالتیا وړاندې لاړه او مېرمن فروستیر ته یې سلام واچاوه، خو هغې په حیرانۍ ور وکتل او ویې ویل:

- "آغلې، فکر کوم تېروتلې یاست، ځکه زه مونه پېژنم! ".

ماتیلد وویل:

- "فروستیر! زه ماتیلد یم، ستا پخوانۍ ملګرې! ".

د فروستیر خوله له حیرانۍ څخه وازه پاتې شوه، هېڅ یې باور نه کېدی چې هغه ښکلې ښاپېرۍ دې په دومره لنډه موده کې داسې پټوخه او بدرنګه شوې وي. په حیرانۍ یې وویل:

- "ماتیلد، دا ولې؟! دا په څه حال شوې یې؟! ".

ماتیلد یو سوړ اسوېلی وایست او ویې ویل:

- "ژوند راسره یوه وېروونکې ټوکه وکړه، په دې دومره موده کې مې ډېرې نه زغمونکې ستونځې وګاللې او ټولې مې ستا له وجې وګاللې! ".

مېرمن فروستیر- چې د خبرو په مطلب یې نه وه پوهېدلې- وپوښتل:

- "زما له وجې؟! زما په وجه دې ستونځې وګاللې؟!! "

ماتیلد خپلو خبرو ته ادامه ور کړه او ویې ویل:

- "هو، ستا له وجې! یاد دې دي چې یو وخت مې د الماسو یو امېل درڅخه واخیست؟ ستا هغه امېل د مېلمستیا په شپه راڅخه ورک شو! "

- "خو تاسو بېرته راووړ" .

- "کوم امېل چې مې دروړ، هغه ستا نه وو، مازې د هغه غوندې وو، په څلوېښت زره فرانکه مې درته اخیستی وو. په دې ټولو لسو کلونو کې مې د هغه امېل پورونه ادا کول. پوهېږې چې زموږ غوندې غریبې او تشلاسې کورنۍ لپاره د څلوېښت زره فرانکو برابرول څومره ستونځمن کار دی؟! خو نن ورځ له دې هر څه سره- سره بیا هم خوښه یم، چې نور مې پر غاړه کوم پور-مور نشته! ".

مېرمن فروستیر وویل:

- "ماتیلد! تا زما لپاره د الماسو امېل واخیست؟! "

ماتیلد په یوې معصومې موسکا ځواب ورکړ:

- "هو فروستیر، او هغه امېل دومره ستا هغه ته ورته وو، چې هېڅ دې ونه پېژانده! ".

مېرمن فروستیر په داسې حال کې- چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې او ډېره خواشینې شوې وه- د ماتیلد لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیول او ویې ویل:

- "ماتیلد، خوارې ماتیلد! زما هغه امېل نقلي وو او تر پینځه سوه فرانکه یې زیات ارزښت نه درلود! ".

ضیاء جان

# وحشي مور

"وېرلان" ته پينځلس کاله پس راغلی یم، په دې پينځلسو کالو کې راته د دې ځای د ښکار ځایونه ډېر یادېدل، نن سبا د خزان موسم دی، خزان د ښکار د پاره ښه وخت وي، زه دا ځل هم د ملګري"سروال" په قلعه نما حوېلۍ کې اوسېږم کومه چې د پروشیا او فرانس په جنګ کې سوځېدلې وه او اوس کې يې بیا جوړه کړې ده.

دا غونډه سیمه زما ډېره خوښه ده، واړه واړه ځنګلونه ډېر پُرکشش دي، مستې اوبه داسې روانې ښکاري لکه د ځمکې په وجود د وینو رګونه، د دې نه چې مونږ "کری فش، ټرایوټ او ایل" غوندې نایاب کبان ونیسو نو بیا زمونږ د خوشحالۍ انتها نه وي او کله کله خو پکې لامبو هم وهو.

پرون سیل ته وتلی وم، دواړه ښکاریان سپي هم راسره وو، "سروال" راسره څه سل ګزه فاصله کې وو، مونږ په تلو تلو د "ساندری" ځنګل ته ورسېدو هلته یوه کنډواله رانښکاره شوه، زر ماته احساس وشو چې د فرانس او پروشیا جنګ نه آګاهو ما دا ځای لیدلی وو، هغه وخت کې دا ځای د ونو بوټو رنګ په رنګ ګلونو نه ډک وو، د ونو د پاسه مارغان او لاندې څاروي پراته وو، چرګان او بطخې اخوا دېخوا ګرزېدل، څو کلونه وشول دلته د زندګۍ آثار ختم شول اوس خالي ملبه پرته ده چې په کتو يې سخت خفه شوم.

هلته په ولاړه ولاړه راياد شول چې يوه ورځ زه ځنګلي ځناورو پسې په ځغل سترې شوم نو دې کور نه يوې ښځې راباندې څه ځښلي وو، په هغه ورځ راته "سروال" ويلي وو چې د دې ښځې خاوند يو ښکاري وو، چې پوليس په ګولۍ وژلی وو، يو زوی يې چې د اوچت قد مالک ښکلی ځوان دی او دې سره سره يو ښکلی ښکاري هم څنګه چې عام طور د وډېره ګانو يا غټو خلکو زامن وي دا خاندان په غېر معمولي طور بهادر او بې باکه دی.

د کنډوالې خوا ته تلو سره مې سروال ته غږ وکړو په نيژدې راتلو سره مې ترې پوښتنه وکړه:

- "د دې کور مالکان چرته تلي دي؟"

هغه ګويا شو:

"کله چې جنګ پيل شو د دې بوډۍ ښځې زوی د دري دېرشو کالو وو، فرانسيسي پوځ په زور برتي کړو او يو محاذ سره يې ولېږلو او بوډۍ د نورو ځوانانو د مياندو په نزد په ژړا انګولا پاتې شوه، د کلي خلکو پرې هم زړه خفه نه کړو شايد وجه يې دا وه چې هغه تر دوی شتمنه وه.

د کلي نه لږ فاصله کې جوړه شوې حوېلۍ کې بغېر د څه ځيز له وېرې دا بوډۍ ځکه ځان ته اوسېده ځکه چې هغې کې د خپلې کورنۍ د نارينوو په شان بهادري وه ...اوچته ونه دا مضبوطه ښځه چې نه خو به يې چا سره دومره بې تکلفي کوله او نه به ورسره چا د خندا جرئت کولو او هسې هم دلته اکثر زميدارې او غريبې ښځې د خاموشۍ او مايوسۍ ښکار وي.

د بوډۍ ژوند د معمول مطابق تېرېدو، د يخنۍ موسم چې شروع شو نو هر ځيز د واورو په حصار کې راغلو هغه به اوس بهر لږه وتله، په ټوله هفته کې به يو ورځ کلي ته تله ځان ته به يې "برېډ" غوښه او د خواراک نور ځيزونه راوړل، همدې

ورځو کې خونخوارو ځناورو له اړخه په زميدارو حملې شروع شوې ځکه هغې د زوی زوړ ټوپک راواخيستو او په ډاډه زړه به په واورو ګرزېده، هغې به توره لوپټه په سروله چې پکې به يې سپين وېښته پټ وو..

يوه ورځ اطلاع راغله چې جرمن پوځ په دې علاقه قبضه وکړه، د پوځ د خوراک څښاک او اوسېدو خرچه په مقامي خلکو تقسيم شوه. د بوډۍ په حصه کې څلور پوځيان راغلل، دا څلور واړه ښکلي او صحتمند ځوانان وو، غنمرنګي، ښکلي وېښتان، شنې سترګې او د ښو عادتونو خاوندان وو. هغوی به له بوډۍ سره په ډېر ادب چلند کاوه، د کور په کار کې به د يو بل پکار راتلل، د يو بل د غم خوشحالۍ نه به يې ځان خبرولو، بوډۍ چې به د اخلي پخلي غم کولو نو دوی به جامې وينځلې، فرش به يې پاکولو، لرګي به يې ټوټې کول او کيچن به يې پاک ساتلو، دا هر څه به دوی دومره په شوق کول تا به وېل دا د دوی خپله مور ده.

بوډۍ به هر وخت په زړه کې د زوی په اړه سوچ کولو. د هغه دراز قد، د غنمو په شان رنګ، توربخونې سترګې، نازکه پوزه او ګڼ تور تور برېتونه، هره ورځ به بوډۍ د پوځيانو نه پوښتل:

- "څه پته ولګېده، د فرانسيسي پوځ درويشتم رجمنټ چرته دی؟ هغې کې زما زوی هم دی!!! ".

د هغوی به دا ځواب وو:

- "نه، مونږ نه يو خبر، مونږ ته هېڅ پته نشته!!! ".

د انګېټې خوا کې په ناسته هغوی به هم د هغې په خفګان خفه وو، په دې څلورو کې به هم د څو بوډۍ ميندې وې، دوی د بوډۍ دغه درد محسوس کړو ځکه يې د هغې د مخکې نه زيات خيال ساتل شروع کړل، په پښو به يې ورته زور کولو، په تېلو به يې ورته سر مالش کولو چې هغه به څه کار ته وړاندې شوه دوی به د هغې نه مخکې شول او هغه کار به يې تر سره کړو.

د هغې هم دوی خوښ شوي وو، خو هغه دننه...په نازکتیا سره چرته ... انسانیت په فاتح او مفتوح کې تقسیم کړل او د دوی د وجې د هغې زوی نن د هغې نه لرې وو چرته چې د هغه ژوند ته ډېرې خطرې وې..

بوډۍ په مالي طور خوشحاله وه ځکه دوی هم د بوډۍ کور کې ډېر خوشحاله وو او خوراک څښاک هم ورته ډېر ښه رسېده، د کلي خلکو به هم ویل چې "د دې ځلورو ښې مزې دي".

یوه ورځ دا په کور کې یواځې وه، اچانک دې یو سړی ولید چې د دې کور اړخ ته راروان دی، په را نیژدې کېدو ورته معلومه شوه چې د ډاکخانې واله دی، یوه لفافه یې راوړه، هغې چشمې راووېستې او خط لوستل یې پېل کړل:

"مورې! خبر خو ښه نه دی خو زه خپله وعده پوره کوم ته زړه مضبوط کړه، پرون ستا زوی د جرمن توپ په زد کې راغلی وو، دوه ټوټې شوی دی، څو ورځې مخکې هغه ویل که په ما څه وشول نو زما مور ته اطلاع وکړئ، هغه وخت ما په هغه پورې وخندل خو ماته څه پته وه چې نیژدې ده هغه به مونږ پورې وخاندي او لاړ به شي. ما د هغه د جېب نه ګړۍ راووېستله او ځان سره مې کړه، جنګ نه وروسته به ستا مخې ته حاضرېږم او دا به تاسو ته حواله کوم...."

ستا تابعدار

"ډېواټ سبېټي"

رضاکار رجمنټ نمبر 23

په خط باندې درې هفتې مخکې تاریخ لیکل شوی وو.

بوډۍ خو نه و ژړل او نه یې سترګې غربوجنې شوې، د سخت خفګان په حالت کې یې ځان سره وویل: "ښه د ویکټر نمر راغی، دوښمنانو مړ کړو"، دا یې ویل چې د سترګو نه یې اوښکې روانې شوې، زړه یې د غمه ډک وو، په ذهن کې یې

مختلف خیالونه اوړېدل راوړېدل، د درد تکلیف او خفګان سره سره بېوسي هم وه، له ځان سره سوچ وړې وه: "زه اوس خپل زوی سره کله هم مینه نه شم کولی، کله یې هم نه شم ښکلولی کله هم. وړومبی یې پولیس پلار مړ کړو او اوس جرمن پوځ مې زوی توپې وخوړ، دوه ټوټې یې کړو ".

هغې په تصور کې ولیدل چې د زوی سر یې د وجوده جدا شو او لاندې پرېوتو، بیا یې سترګې بهر راووتې هغه خپل تور تور ګڼ برېتونه داسې خوړل تا به وویل غصه کې یې څه کول:

- "چې دښمن به د هغه لاش سره څه څه کړي وي؟"

کاش چې د هغه لاش واپس راوړي څنګه چې یې پلار د تندي په منځ ویشتلی وو او لاش یې بیا واپس راوړی وو.

بیا هغې د پوځیانو د واپس کېدو غږ واورېدو، هغې خط زر جېب کې واچولو، سترګې یې پاکې کړې او د هغوی استقبال ته حسب معمول په موسکا شوه. څلورواړه په خندا خندا واپس راغلل، لاس کې ورسره غټه تازه هوسۍ هم وه، هغوی په راتلو سره فرمایش وکړو چې "بوډۍ دا مونږ ته پخه کړه".

هغې اخلې پخلي ته مصالې اوړه کول پېل کړل چې کله د هوسۍ د حلالولو وخت راغلو د هغې بدن په رپېدو شو، هغوی هم حېران وو ځکه چې په وړومبي ځل داسې وشول چې په څه کار کولو هغه دومره ورپېده، یو پوځي هوسۍ حلاله کړه او بیا یې ترې څرمن وویستله، د وینې په لیدو د هغې په وجود کې یو انتشار جوړ شو، وینه د یخوالي له وجې په ځمکه جم شوه، اوس هغه غونډه رپېده، هغې ته داسې محسوس شول چې د هوسۍ په ځای دا د هغې زوی دوه ټوټې شو او تر اوسه ترټکې وهي، د هغې په لاسو کې د هوسۍ تازه غوښه رپېده او د هغې د سترګو نه اوښکې روانې وې.

هغه د هغوی سره د روټۍ په مېز خو کښېناسته خو یوه نوړۍ یې هم ونه خوړه، هغوی ټول لوښي پاک کړل او دې ورته چوپ چاپ کتل، د هغې په مخ د غم او غصې اثار خو نه وو، خو په زړه زړه کې یې پرېکړه کړې وه.

اچانک یې وویل:

- "ستاسو دلته د راتګ یوه میاشت وشوه خو تر اوسه مې ستاسو نومونه هم زده نه دي".

هغوی په خوشحالۍ خوشحالۍ خپل نومونه واخیستل، هغې په کاغذ ولیکل، د کورونو د پتو سره او هغه جېب کې یې کښېښودل کوم کې چې یې د زوی د مرګ خط پروت وو.

چې کله روټۍ ختمه شوه نو هغې وویل:

- "زه هر وخت ستاسو د آرام او سکون په سوچ کې یم".

واوره شوې وه، هغې د وچې ګیا څو غېړې بره کوټې ته یووړې او د هغوی د قالین لاندې یې واچولې چې په کتلو یې هغوی لږ متجسس او حېران شول، بوډۍ ورته په دې خوله بنده کړه چې دا وچه ګیا به تاسو د یخنۍ نه هم بچ کوي او د ګرموالي سبب به هم ګرزي. اوس هغوی هم د هغې مدد پیل کړ، د لږ وخت نه وروسته د هغوی د اوده کېدو ځای نرم ګرم او پُرسکون شو، هغوی حېران وو چې دا خیال دې ته مخکې څنګه نه راتلو، د ماښام روټۍ باندې هم دوی محسوس کړل چې بوډۍ اوس هم څه نه دي خوړلي، د هغوی په اصرار هغې د خېټې د خرابېدو بهانه وکړه، روټۍ نه وروسته هغې په کوټه کې انګېټۍ بله کړه او ارام ته لاړه، څلور واړه پوځیان په اندرپایه بره وختل.

څه وخت وروسته بوډۍ کوټې نه بهر راووته او بره وخته، د پوځیانو د کوټې ور یې بند کړو او لاندې نه یې اندرپایه لرې کړه، بیا یې د وچې ګیا غېړې

راواخیستې او باورچي خانې ته یې یووړې، په دې کې د بره منزل نه د خړړېدو غړونه راغلل.
چې په خپله تیارۍ د هغې اطمینان وشو نو باورچي خانې ته لاړه او د چولهې په ذریعه یې یوې غېږې ته اور ورته کړو، بیا یې اور څلورواړو اړخو ته ووېشلو، د دې د پاسه خاص د پوځیانو کوټه وه، د دې هر څه نه پس بهر ته راووته او دوی ته یې کتل.
د څه وخت نه وروسته غونډ کور د اور په حصار کې راغلو، داسې ښکارېده تابه وې چې غټه بټۍ بلېږي، کړکۍ وسوځېده او بهر په واورو راوغورزېده، د دې سره بره د انسانانو د وېرې شور اوربدل کېده، په دې شور کې وېره، بېوسي او وحشت وو، بیا د کوټې دروازه راوغورزېده، اوس غونډ کور د ایرو شکل اختیار کړی وو، د اور په رڼا ټول آسمان رڼا رڼا وو، د دې نه وروسته چت هم راوغورزېدو او لږ وروسته اور د لوګیو په شکل کې بدل شو او بیا ورو ورو کم شو.
له لرې نه د "سایرن" غړونه راغلل.
بوډۍ د زوی ټوپک په لاس ولاړه وه چې څوک بچ لاړ نه شي، کله چې د دې مشن پوره شو دې ټوپک هم اور ته ووېشتو ددې نه هم څو دهماکې وشوې...
خلک په منډو منډو راغلل په دې کې جرمن هم وو او مقامي زمیدار هم، دوی چې وکتل نو بوډۍ د ونې په تنه پُرسکون حالت کې غلې ناسته وه.
یو جرمن پوځي چې فرانسیسي هم ورتله ترې یې وپوښتل:
- "زمونږ سپایان (پوځیان) چرته دي؟"
هغې ګوته اور ته ونیوه او ویې ویل:
- "هلته"
غونډ خلک هغې نه راتاو شول، آفسر ترې بیا وپوښتل:
- "اور څنګه ولګېدو؟"

هغې ځواب ورکړو:

- "ما ولګولو".

د هغوی يقين ونه شو ځکه هغوی فکر کاوه چې دې حادثې د هغې په ذهن غلط اثر غورزولی دی، چې کله د هغې خوا ته خلک په زيات شمېر کې راغلل نو هغې د زوی د مرګ د خط نه واخلې چې د پوځيانو د سوځېدو او د پوځيانو د چيغو پورې غونډه کيسه ورته وکړه.

بيا يې د جېب نه دواړه خطونه راوښکل:

"دا د ويکټر د مرګ خط دی او دا د پوځيانو نومونه او د کورونو پتې دي. .دې نه پس يې څلور خالي کاغذونه ورکړل او ويې ويل چې وېکټر ته وليکئ چې مور دې اطلاع نه ده هېره کړې .."

د دې نه پس جرمن پوځيانو هغه دومره په ګولو ووېشته چې هغه هم دوه ټوټې شوه..

"سروال" ويل چې جرمن پوځيانو په غصه کې د علاقې ډېرو حوېليو ته اورونه واچول په دې کې د ده کور هم شامل وو.

ماته اوس هم د هغو بدقسمته پوځيانو د ميندو خيال راځي کوم چې په ژوندون ايرې ايرې شول او هغه مور هم کومه چې دوه ټوټې شوې وه خو شايد هغه خو ډېره مخکې دوه ټوټې شوې وه.

ژباړه: 13 مې 2021م کال

هجرت الله اختيار
اردو ژباړن: محسن علي خان

# د قبر شناخته

د منځني عمر لرونکيو پينځو ملګريو يو ځای د شپې ډوډۍ وخوړه. دا پينځه مالداره ملګري په خپله دنيا کې غرق وو، په دوی کې دريوو يې واده کړی وو او دوه يې جره ګان وو. دوی به هره شپه د ډوډۍ خوړلو پر مهال د خپلې ځوانۍ د يادونو تازه کولو په پار بنډار جوړ کړی وو چې کله کله به د سهار تر دوو بجو هم وغځېد. کوربه ملګري به له خپل دغه مېلمستون څخه ډېر خوند اخيست، د هغه په فکر دا د هغوی د ژوند تر ټولو خوندور ماښامونه وو. هغوی به د دنيا په هرې موضوع بحثونه کول، په ځانګړې توګه د پاريس د کوڅو د تفريح او دلچسپۍ پر موضوعاتو به يې خبرې کولې، زياتره خبرې به تکراري وې، داسې لکه سهار کې چې خلک په حمام کې ورځپاڼې ولولي او بيا ټوله ورځ د ورځپاڼو پر موضوعاتو بحثونه کوي.
په دې پينځو ملګريو کې تر ټولو زنده دله جوزيف د باړډن وو. هغه مجرد وو او په پاريس کې اوسېده. له خپل لاوبالي ژونده يې ښه خوند اخيست. که څه هم بدکرادار او بداخلاقه نه وو، يواځې په خپل ذات کې ډوب وو، يو خوش خلقه او خوشحاله ځوان معلومېده چې په سختۍ به د څلوېښتو کلونو په عمر ښکارېده. هغه يو جهانديده انسان وو. ذهن يې له خدای ورکړيو استعدادونو پور مامور وو، خو دا استعدادونه يې په غور او پر ځای نه کارول. له علم سره يې اړيکه وه، خو

په علمي دنیا کې یې هم خپل جوهر نه وو ښودلی. هغه به په ډېر مهارت د خپلې ځوانۍ د وختونو کیسې کولې. هغه به چې له چا سره لیدلي وو یا به یې کومه واقعه په مخکې تېره شوې وه، له طنز سره به یې ګډوله او په ډېر خوند به یې بیانوله. همدغو خوبیو یې نسبت نورو ته ځانګړی کړی وو. کله به چې ډوډۍ وخوړل شوه او بنډار به پیل شو، نو هغه به ځانګړې او په زړه پورې کیسې کولې. نورو ملګرو به یې په ښه غور غوږ ورته نیوه.

جوزیف سیګرېټ ولګاوه، د شرابو ګیلاس یې خپل ځان ته ور نیږدې کړ، خوراکونه پر مېز ایښي وو، ماحول د تمباکو بوی او لوګیو نیولی وو. د هغه له ډاډ ښخه معلومېده لکه هغه چې په خپله بستره کې وي. د سګرېټ یو اوږد کش یې وکړ او د لوګیو وربځې یې په هوا کې جوړې کړې، ویې ویل:

- "ځه وخت مخکې له ما سره یوه عجیبه پېښه وشوه".

- "موږ ته یې هم ووایه". ټولو ملګریو پرې په یو ځای غږ وکړ.

- "سمه ده، خامخا یې وایم" او بیا یې په خندا خندا د پېښې کیسه پیل کړه .

"تاسې ته خو معلومه ده چې ما غلي غلي د پاریس کوځې داسې لټ په لټ کړي، لکه د کتابونو شوقي انسان چې د کتابونو په ډېرۍ کې ټول کتابونه لټ په لټ واړوي او ویې ګوري. زه په لاره کې د تلونکو او راتلونکو خلکو ځېرې لولم، ځایونو ته ګورم او هر څه په یوې باریکبینۍ ارزوم.

دا د سپټمبر د منځ د ورځو خبره ده. موسم ډېر خوندور وو. ماسپښین به زه په ناخوداګاه ډول د ګرزېدا لپاره وتلم. په موږ کې یو داسې مبهم غوندې خواهش دی چې کله د یو ښکلي خوا ته یا هم یو ښکلي ځای ته لاړ شو. هر څوک په خپل ذهن کې د ټولو ښکلیو پر خاکو سوچ کوي. او بیا یې په خپلو کې سره پرتله کوي. هر یو چې ډېر ښکلی وي، بیا ټوله ورځ هماغه ذهن کې اړوي راړوي. خو کله چې هوا ښه وي او لمر پړقېږي، نو د ښکلیو یاد هم راوپارېږي .

هوا ډېره ښکلې وه، لمر هم پړقېده، ما سګرېټ ولګاوه او په عمومي سړک خرامان خرامان روان وم. همداسې روان وم، ذهن ته راغلل چې ولې د موماخت هدیرې په لور لاړ نه شم .

زه هدیرو ته د تګ سخت شوقي یم. هدیرې ته په تګ زما زړه خفه کېږي، خو یو داسې ډاډ هم تر لاسه کوم چې پکې زما ډېرې هیلې نغښتې وي. هسې خو هلته زما ډېر دوستان اوسېږي چې ما سره نه شي لیدلی، نو ځکه زه زیاتره خپله د هغوی د لیدو لپاره ورځم.

د موماخت په دې هدیره کې زما یوه محبوبه هم ښخه ده. هغه دومره ښکلې وه چې ښکلا یې زما د زړه درزا غلا کړې وه. د هغې یادونه نن هم ما خفه کوي، یو نه ختمېدونکی خفګان زما په برخه کوي. زه د هغې قبر ته د هغو خوبونو د تکمیل لپاره ورځم چې موږ په شریکه لیدلي وو، خو افسوس چې ژوند له هغې سره وفا ونه کړه .

هدیره مې په دې هم خوښېږي، چې د بې نقشې ښارونو په څېر یې آبادي تر خپلو حدودو اوښتې وي، تاسې وګورئ په یوه کوچنۍ هدیره کې څومره خلک ښخ دي، د دې پاریس ښار څومره نسلونه به په دې هدیره کې ښخ وي، دلته هر فرد ځانته ځانته د اوسېدو ځای خپل کړی دی. هغه سپېڅلي راهبان هم د خانقاوو په څېر په خپلو کوچنیو قبرونو کې ویده دي او د ټولو قبرونه د تیږو په تختو بند دي او له پاسه پرې د صلیب نخښې جوړې شوې دي.

د مړیو برعکس ژوندي خلک څومره احمقان دي چې د ځمکې پر یوه وړه ټوټه ځمکه له یو بل سره جنګونه کوي. د سرکسونو په څېر په هدیرو کې هم عجیب و غریب یادګارونه تر سترګو کېږي. له پرتلې پرته ښایي زه پر دې اقرار کولو کې تامل ونه کړم چې د کیونیک پر مزار جوړې شوې مجسمې ما ته د یون ګوجان په

لاسو جوړه شوې د «لويي د بريز» هغه شاهکار مجسمه رایاده کړه چې د روان کېتيډرل په زېرزمينۍ کې جوړ شوي عبادتځي کې ايښې ده.
ملګريو! د نوي او حقيقت ته د نيږدېترين مجسمې جوړونې د هنر او نقاشۍ پيل له همدغې مجسمې شوی دی. اوسمهال چې د مړو شويو څومره يادګارانو جوړ شوي دي، هغه ټول په مسخه شوي حالت کې دي، په داسې حال کې چې د دې مړ شوي سړي «لويي د بريز» مجسمه د بې روحه غوښن وجود په څېر تر ډېره حقيقي، هولناکه او د مرګ د سختۍ يو ماتوونکی درد ښکاره کوي .
خو په مومات هديره کې اوس هم د بودين مجسمه د ستاينې وړ ده چې لا يې هم شان و شوکت پر خپل ځای دی. په همدې ډول د ګوتير او هنري مرکز مجسمې چې ما پرې يوه ورځ يوه عادي ګلدسته ليدلې وه. چا به ورته د زيړ رنګ تلپاتي ګلان راوړي وو؟ شونې ده د هغه محبوبه اوسي چې ډېره بوډۍ شوې به وي او اوس به له هديرې سره خوا کې استوګنه وي. د ميليټ کوچنۍ مجسمه چې اوسمهال د بې پامۍ او ګرد و غبار له امله بې خونده معلومېده. ګرانو ملګريو! دا ټول د ځوانۍ د رنګ نخښې نښانې دي.
زه په موماخت هديره کې وم، زما ټول وجود له غمه ډک شوی وو. يو داسې غم چې درد يې نه محسوسېده، دا د خفګان يو داسې کيفيت وو چې زه يې له خپلې بشپړې تندرستۍ سره سره په غېږ کې نيولی وم. که څه هم دا ځای په زړه پورې نه دی، خو لا هم دلته زما وخت نه وو راغلی.
د وچو پاڼو خوشبو او نمجنې هوا د خزان د موسم احساس ورکاوه. لوړ ولاړ تک زيړ او کمزوري شوي لمر له زيړو پاڼو سره يو شاعرانه ماحول جوړاوه. دې هديرې چې د انساني مرګونو خوند يې ليدلی وو، يواځېتوب او بالاخره د فنا کېدا احساس هم ترې راپورته کېده.

زه د خاموشیو په دې ښار کې ورو- ورو روان وم، دواړو خواوو ته مې قبرونه وو. که څه هم دلته اوسېدونکي خلک یو د بل تر څنګ پراته وو، خو له یو بل سره اړیکې راشه درشه او راکړه ورکړه یې نه درلوده، او نه یې ورځپاڼې لوستې. ما د قبرونو پر شناختو لیکل شوي عبارتونه لوستل پیل کړ. د قبرونو د شناختو د عبارتونو لوستل د دې ځای په زړه پورې بوختیا ده. ما کله هم د لبیش او میلهاک په څېر د طنز لیکونکو طنزونو ته دومره نه دي خندلي، څومره مې چې د دې قبرونو پر شناختو لیکل شوو له طنزه ډکو عبارتونو ته خندلي دي.

په دې شناختو د «پال دي کوک» په کتابونو کې له لیکل شوو جملو څخه هم زبردستې جملې او عبارتونه لیکل شوي دي. د قبرونو شناختې او صلیبونه له مرمر ډېرو جوړې دي، پر شناختو د مړیو خپلوانو د خپل غم څرګندونې هک کړې دي، د مړیو لپاره یې خپلې نېکې هیلې څرګندې کړې دي او ورسره یې د ډېر ژر لیدو وعدې کړې دي. عجیبه ده، خلک د قبر پر شناختو هم درواغ لیکلی شي.

زما په دې هدیره کې هغه ورانه برخه ډېره خوښېږي چې صنوبر او سروې په کې ولاړې دي. هغه ځای د یواځېتوب دنیا ده. د هدیرې په دې پخوانۍ برخه کې د هغو خلکو قبرونه دي چې له مرګه یې ښه ډېر وخت تېر شوی دی او اوس یې قبرونه د دوباره کارونې لپاره برابرېږي. په دې ځای کې له انساني جسدونو څخه تغذیه شوې ونې هم منظمې وهل شوې دي او پر ځای یې اوس په کتارونو کې د مرمر ډېرو قبرونه جوړېږي. د مرمر ډېرو قبرونه یواځې ظاهري نما ده، مړي اصلاً لاندې په ځمکه پراته دي.

په دغه ځای کې چې ما د خپل ذهن د طراوت لپاره ښه ډېر قدم وواهه، نو له ځان سره مې وویل چې د نن لپاره همدومره کفایت کوي، اوس باید د خپلې محبوبې قبر ته حاضري ورکړم او د هغې د ښکلیو یادونو په شمول په ډېر اخلاص

ورته باید خپله مینه ثابته کړم. کله یې چې قبر ته ورسېدم، نو ما په ډېر واضح ډول د خپل زړه درزا محسوسوله. آه، جیګر مې! هغه ډېره په زړه پورې او مینه ناکه وه، له رڼا او ژونده ډکه، که اوس یې هم څوک قبر رالوځ کړي، هماغسې به وي...

د هغې پر قبر د تاوې شوې اوسپنې جالۍ پر سر ما په ماته ماته لهجه د هغې د بېلتون غم ښکاره کړ، زه باوري یم چې زما د غم اظهار هغې نه دی اورېدلی، خو زما زړه تسل شو. کله چې د هغې له قبره راروان شوم، تر څنګ پر یوه قبر مې یوه ښځه ولیده، هغې سلګۍ وهلې، تورې جامې یې اغوستې وې، او ډېره زیاته غمجنه وه، خپل نری نقاب یې له خپلې څېرې پورته کړ، روښانه مخ یې په ښایسته وېښتانو کې داسې معلومېده لکه د شپې په تیاره کې چې لمر راخېژي، زه ځای پر ځای ودرېدم .

واقعیت دا دی چې هغه د غم په ژورو کې ډوبه وه. هغې خپل مخ په لاسونو کې ونیوه او د مراقبې په حالت کې همداسې روانه شوه. کټ مټ د بت غوندې وه، د خپل غم پر وړاندې یې ماتې خوړلې وه. په پټو سترګو یې د خپلو پخوانیو پټو یادونو ذکر کاوه، داسې بې ساه وه، تا به ویل مړه کېږي، تا به ویل اوس یو بل ماتم جوړېږي.

د هغې په وجود کې یو دم یو خوځښت پیدا شو، داسې لکه د سپېدارو په لښتو چې باد راوالوزي. ما ته داسې ښکاره شوه چې هغې اوس ژړا پیل کړه، په لومړي سر کې یې په کراره ژړل، او بیا یې د خپلې غاړې او اوږو په سولولو سره په لوړ غږ ژړا پیل کړه .

یو دم یې له خپلو سترګو لاسونه لرې کړل، د هغې زړه وړونکې سترګې له اوښکو ډکې وې. حیرانه شوه او بیا خپل ځان ته متوجه شوه. لکه له خوبه چې راپورته شوې وي، کله چې یې ما ته پام شو، لکه پښېمانه شوې چې وي، خپله

څېره يې په بشپړه توګه په لاسونو کې پټه کړه. او بيا يې په سلګيو سلګيو سر پر سنګ مرمر ور ټيټ کړ او خپل تندی يې پرې کېښېښود. د هغې نرۍ نقاب هم د هغې پر محبوب داسې وغوړېد، لکه د نوي ماتم ښودنه چې کوي. ما يې يو آه واورېد، او بيا خاموشه شوه، د نيمې بېهوښۍ په حالت کې يې مخ د سنګ مرمر پر صليب ايښی وو او همداسې پرې پرته وه. زه په بيړه د هغې خوا ته ورغلم، د هغې لاسونه مې ومروړل، او سترګو ته مې يې ګرمې ساه ګانې پوه کړې، په دې کې زما نظر د قبر پر شناخته ولګېد چې پرې ليکل شوي و:

"دا په بحري ځواک کې د وژل شوي قومندان لويي تيوډر کيريل قبر دی چې د دښمن په لاس په ټونکين کې ووژل شو، د هغه د روح لپاره دوعا وکړئ".

هغه څو مياشتې دمخه مړ شوی وو. ما چې د ښځې اوښکې وليدې، اغېز يې راباندې وکړ، ځکه مې ټول پام هغې ته واړوه، ښځه بېرته په هوښ راغله، زه يې په مخکې ډېر متحرک شوم. زه د شکل و صورت په لحاظ هم بد نه وم، هغه مهال څلوېښت کلنۍ ته هم نه وم رسېدلی، د هغې په سترګو کې مې د ځان لپاره شايستګي او د منني احساس وليد. په داسې حال کې چې اوښکې يې روانې وې، خپله کيسه يې ما ته پيل کړه، په بې ربطه توګه يې په داسې حال کې چې ساه يې بنده بنده کېده، هغې ما ته وويل چې قومندان يې څنګه د ټونکين په جګړه کې ووژل شو. دغه مهال د دوی د واده ايله يو کال تېر شوی وو، دوی په مينه واده کړی وو، دا چې دا له مور و پلاره يتيمه پاتې وه، نو د واده جهيز يې هم کم وو.

ما ورته تسلي ورکړه او په اصطلاح اوښکې مې ور وچې کړې او بيا مې ورسره مرسته وکړه چې په پښو ودرېږي، بيا مې ورته وويل :

- "دلته مه پاتې کېږئ، راځه چې لاړ شو".

هغې په ورو وویل:

- "زه نه شم تللی".

- "زه درسره مرسته کوم".

- "مننه ښاغلیه! تاسې ډېر مهربانه یاست، آیا تاسې هم دلته د چا قبر ته د حاضرۍ ورکولو لپاره راغلي وئ؟"

- "بلې، آغلې!"

- "د خپلې مېرمنې قبر ته؟"

- "نه د خپل دوست قبر ته"

- "محبت له هر قانونه پورته دی. انسان کولای شي له خپل دوست سره هم دومره محبت کولای شي څومره چې له خپلې مېرمن سره کولای شي".

- "بلې، همداسې ده، آغلې!" .

موږ همداسې دواړه یو ځای روان وو. هغه زما د مټ په مرسته د هدیرې پر لارو روانه وه، کله چې موږ له هدیرې راووتو، د هغې پښې په لړزېدا شوې، او ویې ویل:

- "زه داسې احساسوم لکه ناروغېږم".

- "خیر که خوښه دې وي راځه ما سره لاړه شه، چې یو څه خوارک څښاک وکړو".

- "سمه ده، ښاغلیه!" .

همدلته نیږدې ماته یو رستورانت معلوم وو، دا په دې ځای کې یواځینی رستورانت وو چې زیاتره به د مړیو عزیزانو او اقاربو په کې خپل غم غلطاوه. موږ هغه رستورانت ته ننوتو، هغې ته مې یوه پیاله ګرم چای راوغوښت، چې په څښلو یې سمه راژوندۍ شوه. پر شونډو یې نرۍ غوندې موسکا خپره شوه، بیا یې د خپل ژوند په اړه کیسه شروع کړه:

"یواځیتوب ستر غم دی، ښایي تر دې بل لوی غم نه وي چې انسان شپه او ورځ په خپل کور کې یواځې پروت وي. چې نه ورسره کوم دوست وي چې باور پرې وکړي چې مینه ورسره وکړي، د نیږدېوالي احساس ورکړي."

د هغې له اخلاصه ډکو خبرو زه ډېر اغېزمن کړم، ما چې دا ټولې خبرې واورېدې، احساساتي شوی وم. ځکه هغه هم ځوانه وه، شاید د شلو کلونو به وه، د هغې ستاینه مې وکړه چې هغې ته یې هم خوند ورکړ. کله چې ښایسته وخت تېر شو، نو ما ورته بلنه ورکړه چې ټیکسي به ورته ونیسم او تر کوره به یې ورسوم. هغې زما بلنه ومنله او موږ دواړه په ټیکسي کې کښېناستو. موږ داسې کښېناستو چې وجودونه مو له یو بل سره لګېدلي وو او ما د هغې د وجود نرمي او حرارت ډېر ښه احساساوه. کله چې ټیکسي د هغې د کور مخې ته ودرېده، نو هغې په ورو وویل :

- "زه څلورم منزل کې اوسېږم، په ځان کې دا توانایي نه وینم چې یواځې پورته شم، ستا رویه له ما سره ډېره ښه ده، آیا مرسته راسره کولای شې چې تر دروازې مې ورسوې؟".

ما په ډېر شوق سره د هغې دا خبره ومنله.

هغې په داسې حال کې چې په سختۍ یې ساه اخیستله، له ما سره پر زینو ورو ورو پورته ختله. کله چې دروازې ته ورسېدو، هغې ما ته وویل:

- "تاسې د لږ وخت لپاره دننه راشئ، چې زه ستاسې مننه وکړم".

زه د حیرانۍ په حالت کې کور ته دننه شوم.

د هغې د استوګنې په ځای کې هر څه د مناسب قیمت والا وو، خو په ډېرې سادګۍ او سلیقې یې هر شی پر خپل ځای داسې ایښي وو چې د کور ښکلا یې زیاته کړې وه.

مورې په يو کوچني کوچ کې خوا په خوا کښېناستو، هغې بيا د خپل يواځيتوب يادونه وکړه . بيا يې د خپلې مزدورې د راغوښتلو لپاره په زنګ زور وکړ، چې هغه ما ته يو څه ښځناک راوړي، خو هغه رانغله، فکر کوم هغه د کور د صفايي والا خدمتګاره وه چې سهار وخت کې به راتلله، زه ډېر خوشحاله وم .

هغې بيا د خپل سر پوښاک لرې کړ او بيا يې زما په لور د دلبرۍ په ادا راوکتل، ډېره ښکلې معلومېده .

د هغې په سترګو کې د داسې يو محبت بلنه وه چې پر وړاندې يې ما هم خپل احساسات نه شول قابو کولای. ما هغه په خپله غېږ کې واخيسته، او بيا مې يې له بندو سترګو څو مچکې واخيستې، هغې ځان زما له غېږې خلاص کړ او ويې ويل:

- "بس کړئ، بس کړئ کنه! ".

بيا مې د هغې پر شونډو خپلې شونډې کښېښودې او مچکه مې ترې واخيسته. هغې خپل بدن ما ته وسپاره، کله چې پر هغې د جوش شېبې راغلې او بيا زمورې سترګې سره وجنګېدې، نو ما احساس کړه چې په ټونکين کې د وژل شوي قومندان ياد ورک شوی دی. ما وليدل چې د هغې په يادولو سره يې اوس په ښېره کې اثرات ډېر کمزوري او پيکه دي. دې کار زه نور هم ډاډه کړم.

ما ورته ډاډ ورکړ، او بيا مې له لږ بحث مباحثې وروسته ورته وويل:

- "تاسې د شپې ډوډۍ چېرې خورئ؟".

- "دا زمورې خوا کې کوچني رستورانت کې".

- "يواځې".

- "بلې، يواځې".

- "نن يې ما سره خورئ؟".

- "چېرې؟".

- "د بیلوارډ په یو ښه رستورانت کې".

هغې یو څه اخوا دېخوا وکړ، خو ما اصرار وکړ او هغې زما بلنه ومنله. هغې ځان د بخښنې په دود کوچنی کړ او ویې ویل:

- "زه یواځې یم، ببخي یواځې، زه غواړم داسې لږ شوخ لباس واغوندم".

او بیا د خپل خوب خونې ته لاړه. کله چې بېرته راغله نوس ورمه یي ویکټورین لباس یې اغوښتی وو. ډېره باوقاره، پُرکششه او ګل اندامه ښایسته ښکارېده. د دې مانا دا وه چې هغې به د هدیرې لپاره یو لباس اغوسته او د ښار د ګشت و ګذر لپاره یې یو ځانګړی لباس درلود.

موږ ډوډۍ وخوړه، ډېره خوندوره وه، هغې د شرابو څو پیکونه وڅښل، چې پکې یې مستي او د ژوند رنګونه راویښ کړل. بېرته کور ته راغلو. په هدیره کې شروع شوی د محبت دغه داستان درې اوونۍ روان وو.

لکه څرنګه چې زه د هر شي په تکرار خسته کېږم، دغسې د ښځو په تکرار بیخي ژر خسته کېږم. په همدې خاطر مې هغې ته د یو ضروري او اوږد سفر بهانه وکړه او څه موده مې ترې ځان لرې کړ .که څه هم ژمنه یې راڅخه واخیسته چې ژر به بېرته ورته راستنېږم او ورسره به ګورم. له دې داسې ښکارېده چې د هغې راسره مینه پیدا شوې وه .

زه د ژوند په چارو بوخت شوم، یوه میاشت دمخه زه بیا د هدیرې والا محبوبې په خیال کې ډوب شوم، دې کې شک نه شته چې هغه مې له یاده نه وه وتې، دا ځل راته د هغې له اسراره ډک انداز رایاد شو، چې ما ته پکې کومه رواني ستونځه معلومېده او یا هم کومه داسې پوښتنه چې حل یې ورک وي.

یوه ورځ نه پوهېږم زه ولې بیا د موماخت هدیرې ته لاړم، ښایي په دې هیله چې بیا به مې له هغې ښکلې سره لیدل وشي، هملته تر ډېره تاوېدم راتاوېدم، داسې څوک مې هېڅ په نظر رانغی چې پېژندګلوي دې وي، شاوخوا نور ډېر هغه خلک اوښتل راوښتل چې له خپلو مړیو سره یې اړیکې لا نه وې شلېدلې. ما ولیدل چې په ټونکین کې د وژل شوي قومندان د سنګ مرمر په قبر کوم غمجن انسان نه معلومېده، نه پرې تازه چا کومه د ګلونو ګېډۍ ایښې وه.

خو کله چې زه د هغه خاموشه ښار دې بلې غاړې ته راغلم، هلته مې په یوه تنګه کوڅه کې ولیدل چې په ژور غم کې ډوب دوه کسان دې خوا راروان دي. یوه ښځه وه، بل نارینه. دا څه په غم واوښتم، کله چې دوی ما ته ښه رانیږدې شول، ومې پېژنده چې دا یوه هماغه ښکلې ښځه وه .

کله چې هغې زه ولیدم، په ډېرې شرمندګۍ یې زما په لور راکتل، هغې ځان راټول کړ او په هغه تنګه کوڅه کې زما له څنګه تېره شوه، په سترګو کې یې په غلې اشارې پوه کړم چې باید ځان ناګاره واچوم، د هغې په سترګو کې دا پیغام هم وو چې زما محبوبه، بېرته زما ژوند ته راشه.

دا سړی کابو د پینځوس کلونو یو تکړه ـ منډلی پوځي افسر وو، ده هم زما په څېر دا ښکلې ښځه د خپلو مټو په مرسته له هدیرې راایستلې وه او اوس یې بېرون چېرته روانه کړې وه.

خو زه حیران وم چې آخر د دې ملاقات موخه څه وه؟ د هدیرې د دې ښکلې ښکارۍ اصلي څېره کومه وه؟

ما له ځانه دا پوښتنه کوله، خو په ځواب یې نه پوهېدم، د پرېشانۍ په یو عام کې ډوب پر خپله لار روان وم .

آیا هغه یوه عامه نجلۍ وه چې هدېرې ته د غمجنو سړيو د موندلو لپاره تلله، د هغو سړيو د موندلو لپاره چې د کومې ښځې، مېرمنې، محبوبې د غم نمانځنې لپاره به هديرې ته راغلي وو او دلته به د هغوی نه هېرېدونکې مينې دا سړي خفه کړي وو؟
څوک پوهېږي، ممکن له مېړه جدا شوې ښځه به وه؟ شايد داسې نورې ښځې هم موجودې وي، ښايي د دې ښځې همدا کسب وي، آيا د کسبګرې ښځې په هديره کې هم خپل بدن ننداري ته وړاندې کوي، لکه په خپل کور او کوڅو کې يې چې ننداري ته وړاندې کوي؟ يا هم شايد دا ښکلې ښځه له داسې کومې ژورې فلسفې اغېزمنه وي چې د هديرې په څېر ځايونو کې په يادونو او مينې باندې غوړېږي؟ ما دغه مهال ايله په دې پوهېدل غوښتل چې په دې ورځ دغه ښکلې ښځه د چا مېرمن شوې وه؟.

# مور او زوی

له ډوډۍ وروسته مېلمستیا ته راغلي سړي د چلم څکولو لپاره په بله کوټه کې سره را ټول شول، او له غره وره خبرې پیل شوې، په خبرو خبرو کې د هغو میراثونو یادونې پیل شوې چې ډېرې عجیبې او نادرې وې، په دې وخت کې ښاغلي برومین یوه په زړه پورې کیسه وکړه. ښاغلي برومین ته به کله کله د ښار «مشهور قاضي» ویل کېده او کله کله به «نومیالی وکیل» بلل کېده، هغه په داسې حال کې چې اور ته یې شا وه ولاړ شو او ویې ویل:

"نن سبا زه د یوه داسې وارث په لټه کې یم چې په ډېر بد حالت کې غایب شوی دی، هسې خو دا یوه عادي کیسه ده، چې په نړۍ کې هر مهال پېښېږدای شي، خو تفصیل یې ډېر دردوونکی دی".

"تقریباً شپږ میاشتې مخکې یوې شتمنې کونډې ماته د یوه سړي له لارې بلنه راکړه، چې د هغې کور ته ورشم، هغې بخښنه غوښتې وه چې د ناروغۍ له امله هغه خپله زما دفتر ته نه شي راتلای، زه د هغې لیدو ته ورغلم، له څو رسمي جملو وروسته هغې راته وویل:

- "وکیل صاحب! زه غواړم تاته یوه ډېره مهمه او سپېڅلې دنده وسپارم، ما د دې کار لپاره تر ډېر غور وروسته ته غوره کړی یې، زما د ژوند شپې نورې لنډې شوې دي، کوم کار چې غواړم تاته یې وسپارم، هغه به ته زما له مړینې وروسته پیل کوې، پر مخامخ مېز زما وصیتنامه پرته ده او ورسره د لس زره فرانکو نوټونه هم دي، که ته پخپل کار کې پاته راغلې، نو همدا لس زره فرانکه خپل فیس وبوله

او که بریالی شوې، نو زما له وصیت سره سم به یو لک فرانکه نورې د جایزې په توګه درکړل شي".

ما له هغې وپوښتل چې هغه غواړي په ما کوم کار وکړي؟ هغې ځواب راکړ، زه به د هغې ورک زوی ور پیدا کوم چې د دې د ټولې شتمنۍ یواځینی وارث دی. کوندې دا خبره بیا تکرار کړه چې زه به د هغې له مړینې وروسته خپل لټون پیل کوم او هغه باور لري چې دا به ډېره ژر مړه شي.

هغې له ما هیله وکړه چې زه هغې ته تکیه ورکړم او پر کټ یې د دې لپاره کښېنوم، چې هغه خپله کیسه ماته وکړي، چې کیسه واورم، نو کېدای شي زه د خپلې دندې پلان ترتیب کړم. کونډه په رېښتیا هم ډېره ناروغه وه، سره له دې چې زه ډاکټر نه وم خو بیا مې هم اندازه لګولای شوه، چې هغه نوره د یو څو ورځو مېلمنه ده.

کوندې خپله کیسه داسې پیل کړه: "ښاغلې! ته هغه لومړنی کس یې چې زه دا کیسه ورته کوم، د دې لپاره چې تاته زما د درد او خوږ احساس وشي، ځکه ته یو خواخوږی انسان را معلومېږې، زه باور لرم چې ته زما بدبختې داستان واورې نو زما د زوی په لټه کې به هیڅ کمزوري نه ښیې، زه نه غواړم ډېره لیرې لاړه شم ځکه داسې نه وي چې تر څه در ښودلو وړاندې زما ځواک ځواب راکړي".

"تر واده وړاندې ما له یوه هم سینه ځوان سره مینه کوله، ما پتېیلې وه چې له هغه سره به واده کوم، خو زما مور او پلار په دې خوښ نه وو، ځکه زما محبوب شتمن نه وو، زه یې یوه لوړ او شتمن سړي ته ورکړم، ما د دې واده مخالفت ونه کړ، ځکه چې زه هغه وخت کم سینه، بې تجربې او د مور او پلار په خوښه وم".

"څو کاله وروسته ځینې مهمې پېښې وشوې، له یوه لوري زما محبوب بل واده وکړ او له بل لوري زما یو ډېر ښکلی زوی و زېږېد، د زوی له پیدا کېدو دوه کاله

وروسته زما مېره مړ شو، او په دې لويه نړۍ کې زه د يوه زوی او خپلې ډکې ځوانۍ پېټې ته يواځې پاته شوم".

"زما محبوب چې زما د مېړه له مرګه خبر شو ډېر خواشينی شو، په دې نه چې زما مېړه مړ شوی وو، بلکې په دې چې هغه بل واده کړی وو او اوس سره له دې چې د هغه لار پاکه وه، هغه له ما سره واده نه شوای کولای، هغه د عذر لپاره ماته راغی او پر دې غم يې په چيغو- چيغو و ژړل، زما زړه هم له دې غمه ټوټې- ټوټې شو".

"له دې وروسته زما کور ته د هغه راتګ پيل شو، همدا زما لويه غلطي وه، ځکه ما بايد په لومړيو شپو کې هغه له خپله کوره منع کړی وای، خو دا چې زه د مېړه بې وخته مړينې ډېره ځورولې وم، نو ځکه مې خپل محبوب ته د دوستۍ تر بريده د اړيکو ساتلو اجازه ورکړه، خو دا اړيکې ډېر ژر د دوستۍ تر بريد واوښتې، معلومداره خبره ده چې همداسې به کېدلای، ځکه زه ځوانه وم، يواځې وم او له هغه سره مې مينه وه، موږ ښځې بايد څنګه راز- راز تکليفونه و زغمو".

"بيا داسې وخت راغی چې د هغه ډېرې شپې به له ما سره تېرېدې، هغه واده درلود، زه کونډه وم او يو زوی مې هم درلود، نور نو موږ ته مناسبه نه وه چې مينه او عاشقي وکړو، ما بايد لومړی لا دغه خطر حس کړی وای، خو افسوس چې احساساتو مې پر عقل پرده غوړولې وه، زه فطري غوښتنو مغلوبه کړې وم، نتيجه يې دا شوه چې هغه ټول څه وشول چې بايد نه وای شوي، زه د هغه يو ډول يارانه وګرزېدم، ښايي ته به فکر کوې چې دا ټوله ګناه زما ده، خو داسې نه ده".

"کيسه داسې وه چې زما مينې او يواځيتوب زما د محبوب حوصله ور لوړه کړه، د هغه غوښتنې له يوې نه بلې ورځې ته پسې ډېرېدې، ما ډېر مزاحمت وکړ خو

حقیقت دا دی چې د ښځې کردار چې هر څومره کلک وي، که له یو سړي سره څو ساعته یواځې پاته شي نو د کردار ټول بنسټ یې له منځه ځي او دا چې تر واده وړاندې زما محبوب وو...

"همداسې څورلس کاله تېره شول، دغه څورلس کاله زما د ژوند تر ټولو ښه وخت وو، په دې زمانه کې زما زوی لوی شو، هغه دومره ځیرک او صالح هلک وو چې یوه مور ویاړ پرې کولای شي، زما پر یار هم ګران وو، مور دواړو په ګډه هغه لوی کړ، د هغه د زدکړې لپاره زما محبوب ډېر زیار وکیښ، زما زوی به هغه ته کاکا ویل، له هغه سره یې بې کچه مینه کوله او د هغه یې ډېر درناوی کاوه، هغه یې خپل پلار، ښوونکی، پالونکی او ملګری باله او په هر څه کې به یې له هغه سره مشورې کولې، هغه هیڅکله په خپل کور کې د کاکا پر شته والي نیوکه نه وه کړې، نیوکه خو لا پرېږده هغه تر اوسه دا هم نه وو پوښتلي چې کاکا هره ورځ زمونږ کور ته داسې بې خاره ولې راځي، هغه له کوچنیوالي هغه خپل ځان او مور ته نیژدې لیدلی وو او هغه یې د خپل ځان مخلص ګڼلی وو، هغه په خپل کور کې په کاکا عادي شوی وو او هغه یې د ځان او مور خیرخوا ګڼلی وو".

"بیا یو وخت زما یار له خپلې ښځې سره د یوې میاشتې لپاره په سیل برتانیې ته ولاړ، هغه به هر وخت په کال یا دوو کلونو کې بهر ته په سیل تلی، خیر کله چې بیرته له برتانیې راغی نو تر ټولو لومړی زما لیدو ته راغی، مونږ ډېر احساساتي سره یو ځای شوو او په یو بل کې ورک شوو، زما سد والوت، نه پوهېږم چې څومره وخت به تېر شوی وو، خو چې ځان او شاوخوا ته مې پام شو، ټکان مې وخوړ، زه نابېره پوه شوم چې په کوټه کې دربیم کس هم شته. ما چې سر را پورته کړ او د وره خوا ته مې وکتل، پر سترګو مې توره شپه شوه، ما خپل زوی «هینري» ولید چې ژر بیرته وګرزېد او لاړ".

"زما پر سر اسمان را ولوېد، کشکې مځکه چاودلې وای او زه په ننوتلې وای او یا مې وزر کړي وای او د همېش لپاره ورکه شوې وای، نه پوهېږم چې ما تر کومه وخته سلګۍ وهلې او ژړل مې، زما زړه د چاودېدو په حال کې وو، ټول بدن مې لکه په اور چې کبابېدی، زه د هغه کب په څېر تړپېدم چې له اوبو را ایستل شوی وي او پر وچه یې غورزولی وي. وکیل صاحب! هغه مهال چې زما کوم حالت وو، هغه زه په ژبه نه شم بیانولای، زما یار هم چوپ وو، هغه له ما لیرې ناست وو، هغه نه ماته ډاډ راکړ، نه یې له ژړا منع کړم او نه هم نیژدې راته راغی، ډېر وروسته هغه چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: "زه په هینري پسې ځم، د هغه...د هغه د پوهولو هڅه کوم، زه...زه هغه ته وایم..." .

"هغه هم لاړ، زه یواځې پاته شوم، د اوښکو چینې مې وچې شوې او ډېره کمزورې شوم، کله چې ښه سترې شوم نو پر کټ ولوېدم او د خپل تللي زوی په تمه شوم، زه چوپه وم په زړه کې مې ډول- ډول اندېښنو سر کړی وو او له وېرې په رېږد وم، کله چې به په نغري کې د کوم لرګي ټک شو زما ترهنده سترګې به د وره خوا ته واوښتې، یوې ناڅرګندې وېرې زما زړه په اوسپنیزو زولنو کې را حصار کړی وو، زه پوره باور لرم چې کوم سخت مجرم به هم داسې درد نه وي لیدلی".

"د شپې په نیمایي کې ماته د خپل محبوب له لوري خبر راغی، چې هغه تر اوسه د هینري په پیدا کولو کې پاته راغلی دی، هغه پوښتلي وو چې هینري خو به کور ته بیرته نه وي راغلی؟ ما ځواب ور ولېږه چې نه هغه تر اوسه بیرته کور ته نه دی راغلی، ته خپل لټون جاري وساته".

"زه ټوله شپه هغه ته په تمه ناسته وم، څو ځلې پر خپل ذهني توازن باندې شکمنه شوم، کله به مې زړه راته ویل چې جامې وشلوم، ټوپونه ووهم او دومره

منډې کړم چې اعصاب مې شل شي، کله به مې زړه وو چې پر مځکه ځان وغورزوم، خو هيڅ غوښتنه دومره قوي نه وه چې ماته يو کوچنی حرکت راکړي، زه ټوله شپه ډول- ډول اندېښنو لاندې کړې وم، بد- بد چورتونه را لوېدل، د توپاني جګړو غوندې په ذهن کې را ګرزېدل چې اوس به څه کېږي؟ که هغوی دواړه سره مخامخ شول نو بيا به زما د زوی غبرګون څه وي؟ که هغه بيرته راغی نو زه به دومره توان ولرم چې له هغه سره مخامخ شم؟ هغه به بيرته راشي؟ که را نه شي نو زه به څه کوم؟ دا دومره لوی ژوند به يواځې څنګه تېروم؟".

"شين سهار وو، چې زما مزدورۍ کوټې ته سر را ښکاره کړ، ما له دې پرته چې هغې ته وګورم په لاس د تلو اشاره ورته وکړه، نه پوهېږم هغه ولاړه که پاته شوه خو لږ وروسته په داسې حال کې چې يو ډاکټر ورسره ملګری وو ماته نيژدې راغله، ډاکټر ويل زه سربداله شوې يم، هغه زه پر کټ پرې ايستم او نور په ځان پوه نه شوم".

"مزدورۍ مې ويل چې زه تر ډېرو ورځو پورې سمه په هوښ کې نه وم، په همدې ناسم حالت کې به مې کله چيغې وهلې، کله به مې بوغارې وهلې او کله به مې اپلاتې ويلې. کله چې زه پر سد شوم نو زما محبوب ماته نيژدې ناست وو، هغه ډېر ستړی او پرېشانه ښکارېدی، زما چې پر هغه سترګې ولګېدې سملاسي مې بيرته ورڅخه واړولې او د خپل زوی حال مې ورڅخه وپوښت، هغه راته وويل: 'ما چې هر څومره د هغه لټه وکړه بيا هم د هغه په موندلو کې پاته راغلم'. ما هغه ته په قهر وويل: 'سملاسي له دې ځايه پورته شه او زما زوی را پيدا کړه، تر څو چې دې هغه نه وي پيدا کړی له ما سره د ليدو هڅه مه کوه. هغه لاړ".

"وکيل صاحب! له هغې ورځې راهيسې نه زما زوی بيرته راغی او نه زما محبوب، ما له تېرو شلو کلونو راهيسې د هغوی يوه مخ نه دی ليدلی، له شلو کالو

پرلپسې زه دغه عذاب ګالم، زه هره شپه په تمه تېروم، هر وخت مې زړه دربېږي چې خدای خبر زوی به مې کله بیرته راشي، ته د دې سزا درد نه شې محسوسولای، دا یواځې د یوې مور زړه محسوسولای شي، هغه تمه چې پای نه لري اوف".

هغه چوپه شوه، بیا یې څو شېبې وروسته پسې وویل:

"خو اوس هغه وخت را رسېدلی چې دغه تمه پای ته ورسېږي، زما وخت را رسېدلی زما ژوند په خلاصېدو دی، ما د مرګ ښکالو اورېدلې ده، مرګ دې کور ته را ننوتلی دی او نور زه هم د ژوند هیله نه لرم، له دې شلو کلونو راهیسې چې زه کوم ژوند تېروم تر هغه مرګ وېروونکی نه دی".

"او هغه زما محبوب، هغه له تېرو شلو کلونو څخه بې له ناغې زما کور ته راځي او زما د نوکرانو په منځګړتوب له ما د لیدو غوښتنه کوي، له هغه راهیسې ماته لوی- لوی لیکونه لیکي، زما له نوکرانو سره غوړمالي کوي، هغوی ته لوی- لوی رشتونه ور منې چې په یو ډول دی دننه را پرېږدي او د یو څو شېبو لپاره له ما سره ووینې، خو ما هیڅکله هغه ته د لیدو اجازه نه ده ورکړې، د یوې شېبې لپاره هم نه، ځکه چې...نه پوهېږم چې ولې؟ زه په دې پوره باور لرم چې که په هره شېبه کې هغه زما مخې ته راغی نو په هغه شېبه به زما زوی هم بیرته راشي او مور دواړه به یو ځل بیا یو ځای ووینې".

"اوف زویه...خدای خبر هغه به چېرې وي؟ مړ به وي که ژوندی؟ خدایزده چېرې به پټ وي؟ په همدې وطن کې به وي که به له سمندره پورېوتلی وي؟ زه به کله ور یادېږم که نه؟ نه پوهېږم چې اولاد خپل مور او پلار دومره ولې ځوروي؟ داسې سختې سزاوې ولې ورکوي؟ خپل زامن دومره بې رحمه کېږي ولې؟"

يوې مور په داسې حال کې چې د مرګ شېبې يې شمېرلې په اسمان کې سترګې ښخې کړې او په دردناک ږغ يې خپل زوی ته ور ناري کړې: "زويه! زما زويکه! ته خو دومره ظالم نه وې، تا خو همېشه خندل او زه دې خندولم، ته دومره احساس نه لرې چې تا خپلې مور ته څومره سخته سزا ورکړې ده، تا خپله مور ژوندۍ ښخه کړې ده، هغه مور چې له تا سره يې دمره مينه کوله، چې کله به ستا تبه وه نو هغې به پر ځان خوب حرام کړ او کرۍ شپه به ستا سر ته ناسته وه".

"ګوره دغه ټولې خبرې هغه ته وکړه"، کونډې ماته وويل: "ورته کوې يې که نه؟ ژمنه ده؟ هغه ته ووايه... هغه ته ووايه زما زويه! زما زړګيه! پر خپلې تللې مور رحم وکړه، وخت له هغې سره ډېره جفا وکړه، له کله راهيسې چې ته تللی يې، له هغې ورځې ستا له موره د ګور مړی جوړ شوی دی، اوس هغه په رېښتيا مړه شوې ده، ته خپله مور وبخښه، يو ځل يې په مينه ياده کړه، ستا د دغه شل کلن بېلتون هره شېبه د هغې لپاره تر مرګ په کمه نه وه او ستا په ياد کې يې د وينو اوښکې توی کړې دي او يو ځل د هغې قبر ته ورشه او هغې ته ور چيغې کړه چې مورجانې! هغه به پوه شي چې تا هغه بخښلې ده".

کونډه په چيغو شوه او بيا يې سلګۍ پيل کړې، زه چوپ ناست وم هغه دردېدلې ننداره مې کوله چې يواځې يې پای زما په مخ کې وو، هغې په لاس ماته د تلو اشاره وکړه، زه چې پورته شوم نو هغې پرته له دې چې ماته وګوري په سلګيو راته وويل:

- "زما زوی ته دا خامخا ووايه چې ما... چې ما له تا وروسته بيا هيڅکله د هغه [خپل يار] مخ لا نه دی ليدلی، دا به ستا ډېره لويه مهرباني وي، نور نو ما يواځې پرېږده چې په خپلو ګورومونو کې ډوبه مړه شم".

زه دباندې را ووتم، له سترګو مې اوښکې روانې وې، څو ورځې وروسته خبر شوم چې هغه کونډه مړه شوې ده، ما د هغې په جنازه کې ګډون وکړ.

بیا ما له خپلو ټولو امکاناتو او اړیکو څخه کار واخیست، په پټه سترګو مې هڅې وکړې چې د هغې زوی پیدا کړم خو تر اوسه په خپلو هڅو کې نه یم بریالی شوی، تاسې چې د هغه په اړه هر فکر کوئ خو زه هغه یو مجرم زوی بولم.

نجيب عامر

# کله چې سربازان خرڅ شول

- "مېرمن بوندي راى؟"
- "بلکل مېرمن بوندي راى".
- "دا نه شي کېداى".
- "دا بيخي رينښتيا دي. زه په دې خبره قسم خورم".
- "ښه چې داسې ده نو بيا راته پوره خبره وکړه".

هغه وويل:

- "ښاغلى بوندي راى يو وکيل وو. تر څو چې هغه ژوندى وو، مېرمنې يې د هغه له مامورينو سره بدې اړيکې ساتلې. هغه يوه داسې مېرمن ده چې له مبالغې پرته ورته د ګناه ګوډۍ ويلی شو. د هغې د ژوند تګلاره ډېره واضحه ده چې هغه پکې هېڅ کمی ښېشی نه راولي. پې مخي او مظبوط ځوانان يې تر ايمان هم زيات خوښ دي. د ښاغلي بوندي راى له مړينې وروسته، مېرمن بوندي راى د ټاکلو پيسو په بدل کې يو خاموشه ژوند تېروي".

"زما يو نيږدې ملګرى اينګل مير په پوځ کې جګړن دى. يوه ورځ د هغه دوه ځوان سرتېري په خپلو کې په څه خبره سره په جنګ ول چې د ده ورته پام شو. دا چې په پوځ کې د ډسپلن مراعتول ډېر اړين وي نو جګړن دواړه خپل دفتر ته وغوښتل او پوښتنه يې ترې وکړه چې ولې له يو بل سره لاس او ګرېوان دي؟ نو

هلته جګړن ته معلومه شوه چې د دواړو سرتېرو ترمنځ د مېرمن بوندي رای له وجې لانجه روانه ده".

ما ترې وپوښتل:

- "هغه څنګه؟"

هغه ځواب راکړ:

- "هغه داسې چې له دواړو سرتېرو يوه جګړن ته کيسه وکړه:

"دا د يونيم کال مخکې خبره ده. زه د ماښام پر مهال د ښار له يوې څنډې تېرېدم. هلته مې يوه ښځه وليده. هغه زړوره او چالاکه معلومېده. زما په ليدو رانيږدې شوه او بې له کوم تمهيده يې راته وويل:

- "سربازه! ايا غواړې چې هره اوونۍ لس فرانکه وګټې؟

ما ورغبرګه کړه:

- "ولې يې نه غواړم".

ښځې وويل:

- "نو بيا سمه ده. سبا د شپې په دوولسو بجو راسره ووينه".

"بيا هغې راته خپل ادرس راکړ او په خپله مخه لاړه. هغه مېرمن بوندي رای وه. په بله شپه زه په ټاکلي وخت، د هغې ښودلي ځای ته ورغلم. هغه راته منتظره وه. زما د ليدو سره سم يې راته وويل:

- "وخت کم دی، بايد بيړه وکړو، کوم ملازم دېخوا رانه شي".

"ما له هغې نه وپوښتل چې راته دې وواييي زه د هغې څه خدمت کولی شم. زما د پوښتنې په اورېدو، هغې يوه موسکا وکړه، بيا يې راته وويل:

- "سربازه! ته نو نه يې خبر چې زه له تا څه غواړم؟"

"زما پرې بيا هم سر خلاص نه شو. هغه مې په کيفيت پوهه شوه او په خوا کې مې کښېناستله.

- "زه تاته ستا کار دربښیم خو خبره به نه رسوا کوې. زه د دې ښار یوه معززه او پېژندل شوې مېرمن یم، که وغواړم، د سترګو په رپ کې دې زندان ته لېږلی شم. قسم وخوره چې چاته به حال نه وایې".

"ما هغې ته قسم وخوړ او اطمینان مې ورکړ چې بېغمه شه، زه چاته هېڅ حال نه وایم. ما چې مېرمن بوندي رای ته دا خبره کوله نو فکر مې کولو چې پر وچولي مې خولې راغلي. ما له جېبه دستمال راوویست چې خولې پرې پاکې کړم. هغې زما له لاسه دستمال واخیست او ډېر په ناز یې زما د تندي خولې را وچې کړې. بیا یې زما په شونډو او مخ خپلې تودې شونډې ښخې کړې او رانه یې پوښتنه وکړه:

- "نو ته تیار یې؟"

ما ورته وویل:

- "ستا هر حکم په سر سترګو، زه د همدې لپاره دلته راغلی یم".

"ما فکر کاوه، کله چې مېرمن بوندي رای راته لس فرانکه راکړي، پینځه فرانکه به ترې خپل پلار ته واستوم، هغه به هم خوشاله شي".

د خپلې ذمه وارۍ له سر ته رسولو وروسته زه پاڅېدم. د هغې د خواهشاتو لمبې لا نه وې سړې او غوښتل یې دې لوبې ته پسې ادامه ورکړو. ما ترې بخښنه وغوښته او هغې هم په نه زړه د وتلو اجازه راکړه. د راوتلو پر مهال هغې د لسو فرانکو یوه سیکه زما جېب ته واچوله. د هغې پر مخ سرخي خوره وه. ما سیکه له جېبه راوویسته، په لاس کې مې ونیوله او کتل مې ورته".

هغې پوښتنه وکړه:

- "لږې خو نه دي؟"

ما ورته وویل:

- "نه، دا خبره نه ده، که د دې لسو فرانکو په ځای د پینځو پنځو فرانکو دوې سیکې راکړئ".

"هغې له مانه د لسو فرانکو سیکه واخیسته او په بدل کې یې د پینځو پینځو فرانکو دوه سیکې راکړې.

بیا نو یوه سلسله شروع شوه او تر یو نیم کاله پورې دا کیسه روانه وه. نو جګړن صېب! د سه شنبې په ماښام چې به تاسې رخصت راکړ زه به سیده د مېرمن بوندي رای کور ته ورغلم، خو یوه ورځ مې طبیعت ناڅاپه ناسازه شو. د مېرمن بوندي رای ځنګ ته د تلو ورځ وه او زه باید له ژمنې سره سم هلته ورغلی وای. ما چې خپلې ناسازۍ ته کتل نو په زړه کې راسره وېره مله وه چې نن به خامخا د لسو فرانکو تاوان را رسېږي. بیا مې وویل، که زما ځای بل چا ونیو نو د پیسو ګټلو یوه ښه موقع به مې د تل لپاره له لاسه ووزي، ځکه مې خپل یو نیږدې ملګری پامیل په اعتماد کې واخیست. هغه ته مې وویل: نن زما پر ځای ته کار ته ولاړ شه او چې څومره پیسې یې درکړې، له ماسره به یې نیمې کړې. پامیل زما خبره ومنله او په ټاکلي وخت او شپه د مېرمن بوندي رای کور ته ورغی. مادام پرې زما ګومان کړی وو نو دروازه یې ورته خلاصه کړې وه، خو چې زما پر ځای یې بل څوک په دروازه کې لیدلی وو، له غصې سره شوې وه او پامیل ته یې ویلي وو:

- "ته څوک یې؟"

"پامیل ورته ویلي وو چې زه د خپل ملګري په ځای راغلی یم ځکه چې د هغه طبیعت ښه نه وو".

مېرمن بوندي رای پامیل ته هم قسم ورکړی وو چې خوله به بنده ساتي او بیا یې منلی وو.

پامیل چې بیرته راستون شو نو خپله ژمنه یې ماته کړه او ماته یې انکار وکړ چې پینځه فرانکه به را نه کړي. ما ورته وویل، ماته پینځه فرانکه راکړه، زه یې پلار ته لېږم

خو ده ونه منله. بیا زه پامیل ته په غوسه شوم چې له یوه سرباز سره وعده خلافي نه ښایي، دا ډېره بده خبره ده خو هغه مې خبره وا نهورېده او راته یې وویل:

- "ته پوهېږې، هغې له مانه کوم کار واخیست؟ ماته یې باید د دې کار یو په دوه پیسې راکړې وای ځکه چې زه ډېر ستړی شوم. که ماته معلومه وای چې د مېرمن بوندي رای خدمت به ما دومره ستړی کوي هېڅکله به مې ورته غاړه نه وای ایښې".

جګړن چې د دواړو سرتېرو ترمنځ د شخړې د لامل نه خبر شو په خندا شو. هغه د لومړي سرتېري په بیا بیا غوښتنه چې دا کیسه به چاته نه کوي، له هغه سره ژمنه کړې وه چې سمه ده چا ته به غږ نه کوي، خو د دې باوجود یې هم دا ده ماته دا کیسه وکړه.

ما د خپل ملګري نه یو ځل بیا پوښتنه وکړه:

- "خو و دې نه ویل چې د دواړو سرتېرو ترمنځ هغه شخړه څنګه هواره شوه؟"

هغه زیاته کړه:

- "جګړن راته د شخړې د حل په باره کې هم ویلي وو".

- "یعنې څه؟"

- "دا چې مېرمن بوندي رای یوه انصاف داره ښځه وه، هغې دواړو سربازانو ته بېله بېله ورځ وټاکله".

(نوټ: کیسه له اردو ژباړل شوې. د ژباړې نېټه د 2001م کال د جنوری اوومه، خای، پېښور پوهنتون)

اجمل اند

# سوالګری

دا مهال هغه د بې وسۍ او ذلت ژوند تېراوه، خو یو مهال یې ښې ورځې هم لیدلې وې. پینځلس کلن به وو چې د وارویل په یوه غرنۍ لاره کې یې موټر دواړه پښې ورماتې کړې او له هغه مهاله تر اوسه د خپلو دوو لکړو په زور ځکېده او په لارو کوڅو او کروندو کې د خیرات په ټولولو پسې ګرزېده، د خپل ځان د ځکولو لپاره یې په خپلو اوږو ډېر زور راوړ، د هغه سره داسې برېښېده لکه د دوو غرونو ترمنځ چې ایسار شوی وي.

هغه یو بې موره پلاره هلک وو، د سیمې پادري هغه د میندو او پلرونو د یوې مذهبي غونډې په ماښام په یوه ناولتیا کې غورزېدلی موندلی وو او له ځانه سره یې په دې نیت بېولی وو چې ښایي هغه د چا کوم ناجایزه اولاد وي. پادري د هغه پر سر سپېڅلې اوبه شیندلې وې او هغه یې یو عیسوي منلی وو، هغه په خیرات خوړلو او ټولولو رالوی شو، نه خو ورته چا لیک لوست وښوده او نه بل کوم کار، ځکه چې هغه ګوډ وو، له هغه نه یو کوڅه ډب سوالګری جوړ شو، له دې پرته له هغه نه بل څه جوړېدلای نه شول، هو هغه دومره خامخا زده کړل چې د خیرات غوښتلو لپاره لاس څه ډول وغزول شي.

یو مهال ورته بیرونس ډي اوري اجازه ورکړه چې دده د چرګانو د فارم د انګړ په یو کونج کې ویدېدلی شي، چېرې چې د بوسو او وچو وښو فرش غوړېدلی وو، دا

ځای له دې امله چې بیرونس د استوګنې ځای ته نیږدې وو نو د سختې اړتیا په وخت کې هغه له پخلنځي نه د منې د یو ګیلاس شرابو او د نیمې ټوټې ډوډۍ په تر لاسه کولو برلاسی کېده. نبک زړی بیرونس به کله ناکله په خپله کړکۍ کې درېده او دده خوا ته به یې ځو سیکې هم ورتوغولې........ خو اوس د نبک زړي بیرونس له مړینې راهیسې هم ډېره موده تېره شوې وه.

د کلیو خلکو کې چېرې یو نیم ده ته خیرات ورکاوه ، هغوی ټولو دی پېژانده، له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې هغه د خپلو لکړو په زور تر هرې دروازې څکېدلی وو او په هره دروازه یې خیرات غوښتی وو، هغه نور له خپل پردي او شل وجوده کرکه لرله خو کله یې هم دا اراده نه لرله چې دا سیمه دې پرېږدي او بل چېرې دې ولاړ شي. هغه په دې ټوله نړۍ کې ددې سیمې نه پرته بله کومه سیمه بېخي نه پېژندده او په دې سیمه کې یې خپل ټول ژوند تېر کړی وو، هغه په همدې محدوده او وړه دنیا کې خیر ټولاوه او دا چې دا نړۍ پرېږدي او بلې لویې نړۍ ته ولاړ شي دې ته کله هم نه وو چمتو.

هغه ته خو دا هم نه وه مالومه چې دده د سترګو د لید په پای کې چې کومه ونه ښکاري د هغې شاته یوه پراخه نړۍ پرته ده او نه یې کله دا ډول یوه پوښتنه له خپل ځانه کړې وه، دی چې به کله هم ددې کلیوالي سیمې کروندګرو په دې کوڅو او کروندو کې په څکېدا لیده نو ورته به یې ویل:

- "ته همدلته څکېږي را څکېږي نورو کلیو ته ولې نه ځې؟"

خو ده به هیڅ ځواب نه ورکاوه، له یو پردي او نامالومه شي نه یې وېره لرله، ددې پوښتنې په اورېدو به ورو ورو وخوځېده، هغه نویو څېرو نویو سپکاویو او بیګانه خلکو ته د شک په سترګه کتل او د پولیسو له هغو سرتېرو یې وېره لرله

چې پر سړک ښکته پورته ګرزېدل، هغه یو بدمرغه ګوډ وو او دا وېره یې فطري وه، هغه به چې کله هم د پولیسو کوم سرتېری ولید، ځان به یې په جړونو او د ماتو ګوډو په ډېریو کې پټاوه او تر اوسه له کوم سرتېرې سره نه وو مخ شوی.

کله چې به یې په لمر کې پړکېدونکی د پولیسو یونیفورم له ورایه ولید نو د سر په خوځولو به یې داسې ځاره لکه یو ځناور چې ښکاري ځاري، سمدلاسه به یې خپلې لکړې یوې خوا ته کړې او لکه د چینجي په شان به یې پر مځکه ځان ونښلاوه، چې څومره به یې وس رسېده نو په مځکه به یې د ځان سرېښولو هڅه کوله، هغه به د ځمکې په سینه کې پنا لټوله، تر اوسه پورې هغه له پولیسو سره نه و مخ شوی خو د پولیسو وېره یې په وینه کې ګډه وه چې د خپلو هغو مور پلار نه ورته په میراث پاتې وو کوم چې یې کله هم نه وو لیدلي.

د هغه هیڅ کور کورګی نه وو مالوم او د سر پټولو لپاره یې کوم چت هم نه درلود او نه یې کوم پټنځای مالوم وو، د ګرمۍ په موسم کې به هغه د کورونو د دروازو مخې ته بهر ویدېده، خو په یخنۍ کې یې له ډېرې ځیرکتیا نه کار اخیسته، په زړو انګړونو او غوجلو کې به یې د ځان لپاره ځای پیدا کاوه او مخکې تر هغې چې څوک یې ومومي هغه به دا ځای پرېښوده، د هغو ټولو کونجونو، تاریکیو او سوړو نه خبر وو چې د ځارویو په یو فارم کې وي، په یو ډول نه یو ډول به یې ځان په دې سوړو کې ور ننویسته، خپلې لکړې به یې یوې خواته پرېښودې او د خپلو متو په زور به یې ځان په دې سوړو کې ور دننه کړ او که د خوړو زېرمه به ورسره وه نو تر درې څلور ورځو به په هماغه ځای کې ننوتی او پټ وو.

هغه د پرانیستو سیمو د یو ځناور په شان عمر تېراوه، د انسانانو په منځ کې اوسېده خو چا هم ورسره اشنایي پیدا نه کړه، د هغه لپاره د چا په زړه کې

هم مینه نه وه، د کروندګرو په زړونو کې د هغه لپاره د بې پروایۍ د یوې لغتې او د سپکاوي له احساس پرته نور هیڅ هم نه وو، کروندګرو دده نوم (ساعتګی) ایښی وو ځکه دده وجود د هغه د دوو لګړو په منځ کې لکه د ساعت د ثانیه ګر چورلېده.

له څو ورځو راهیسې هغه هیڅ نه وو خوړلي، دده لپاره د ټولو د صبر او زغم پیاله ډکه شوې وه، ښځو به چې کله ولید په دالېزونو کې به ودرېدې او نارې به یې کړې:

- "له دې ځایه لرې ولاړ شه! لنډغره! کوڅه ډبه ! اوس بیا ولې راغلی یې، تر اوسه خو یواځې درې ورځې وتلې دي چې د ډوډۍ یوه ټوټه مې درکړې وه" .

هغه به بیا د خپلو لګړو په کړپا کې بلې دروازې ته ودرېده خو هلته به هم له ورته چلن سره مخ شو.

ښځې به په خپلو دروازو کې ولاړې وې او له یوې بلې سره به یې خبرې اترې کولې نو ویل به یې:

- "دا ګوره! موږ به دا وحشي لنډغر ټول کال پالو".

خو ددې سپکاوي بد چلن او بې عزتۍ سره سره دې وحشي لنډغر ته هره وخت د ډوډۍ اړتیا پېښېده، د ډوډۍ د یوې وچې ټوټې او یوې سپکې سیکې په تر لاسه کولو کې هغه په دې کلي کې پاتې راغلی وو، نور نو له سستۍ ناچاره شوی او عصاب یې له کاره لوېدلي وو.

اوس د هغه ټولې هیلې په دریم کلي تورنیلیز پورې تړلې وې خو هلته د رسېدو لپاره یې باید خپل ځان پینځه میله څکولی وای او لاره هم غرنۍ وه، له بله پلوه هغه نور خپل ځان داسې سست او ستړی احساساوه چې یو ګز هم نه شو تللی

خو څه یې کړي وای، جېب او ګېډه دواړه یې تش وو نو له همدې امله یې باید ځان په څکېدو څکېدو تر یو ځایه رسولی وای.

د دیسمبر یخه هوا په کروندو کې ښکته پورته چلېده او د ونو لغړو ښاخونو سره د لګېدو له امله یې شپېلي وهل، په وېروونکي اسمان تورې وریځې لکه د لېونیو په څېر یو بل ته ورغاړې وتلې، ګوډ سوالګري ورو ورو په ماشیني ډول یو په بل پسې خپلې لکړې لګولې او پورته کولې، ټول تن یې له درده ټوک ټوک وو ، کله ناکله به د یو لښتي پر غاړه د دمې لپاره ودرېد، لوږې یې په ذهن وېروونکې پنجې ښخې کړې وې، دده وږیو مغزو یواځې پر یو شي فکر کاوه ... خواړه ... ډوډۍ.... خو په دې نه پوهېده چې د خپل روح او تن دا غوښتنه په څه ډول پوره کړي؟

پوره درې ساعته یې دا ځوروونکی واټن وواهه چې اخر ورته د کلي ونې ښکاره شوې، کله چې یې په کلي نظر ولګېد په ده کې نوی توان او ځواک راپېدا شو او چې د کلي لومړی کروندګر په مخه ورغی ده ورته د سوال لپاره لاس ور اوږد کړ، هغه په غوسه ورته وویل:

- "ښه نو ته بیا راغلې، کوڅه ډبه بدمعاشه ولې زه تا نه پېژنم؟ ولې ستا نه به موږ کله هم نه خلاصېږو"؟

هغه ولاړ او هرې دروازې ته ودرېد خو له کنځلو او سپکاوي پرته نور هیڅ هم په لاس ورنغله . پر ټول کلي وګرزېده خو دده له دومره خوارۍ سره سره یې هم څه تر لاسه نه کړای شول، نهیلی شو او د څېرمه کروندو خواته روان شو، په کروندو کې چیکړې وې او دی هم دومره ستړی شوی وو چې نور ورته له مځکې نه د خپلو لکړو پورته کول هم ستونځمن وو، دلته هم دهقانانو له ده

سره هماغسې چلن وکړ، دا ورځ یوه له یخو، منحوسو او بدمرغو ورځو نه وه. کله چې زړونه ساړه شي مزاج ګډوډېږي او بیا لاس هم چاته د خوراک یا پیسو ورکولو لپاره نه غزېږي.

هغه چې کله پر ټولو کورونو او کروندو باندې له ګرزېدو ستړي شو نو د شیکي په نوم د یو دهقان کروندې ور وګرزېد چې تر څنګ یې یو لښتی بهېده، هلته کښېناست او خپلې لکړې یې یوې خواته کښېښودې، چوپ چاپ وو، لوږې نور بې حاله کړی وو، خو هغه دومره هوښیار نه وو چې د خپل درد او غم په لاملونو په پوره توګه وپوهېږي.

هغه د یو نامعلوم امید په هیله ناست وو چې کېدای شي د یو چانه یو چا په زړه کې دده لپاره رحم پیدا شي او ده ته د خوړلو لپاره څه ورکړي، د دیسمبر په یخه هوا کې هغه په کرونده کې ناست او په تمه وو چې که له اسمانه دده لپاره د خوړلو څه راښکته شي او یا د کوم انسان لاس ور اوږد شي.

څو تور چرګان اخوا دېخوا په کرونده کې ګرزېدل او په ځمکه کې یې ټونګې وهلې چې د خوړلو څه و مومي، کوم یو چینجی چې به په منبوکه ورغی سر به یې ورسره پورته کړ او خپلې خبټې ته به یې ښکته کړ او له هغه وروسته به یې بیا د دانو لټون شروع کړ .

ګوډ سوالګري په حیرانتیا ورته کتل، ناڅاپه د ذهن پر ځای په خېټه کې یو خیال ورپیدا شو، هغه دا چې که له دې چرګانو نه یو په اور ونیول شي او پوخ شي ډېر ښه خواړه ترې ترلاسه کېدای شي، هغه ته دا مهال ددې احساس نه وو چې دی د غلا د جرم مرتکب کېږي، دده شاوخوا واړه کانې او ټوټې پرتې وې، له هغې نه یې یو کانی راپورته کړ او ځان ته څېرمه یو چرګ یې په نخښه کړ او په یو

ګوزار يې چرګ له پښو وغورزاوه، چرګ و پړپېده او ده ته لنډ پرېوت، له دې سره نورو چرګانو شور ماشور جوړ کړ او اخوا دېخوا وتښتېدل. هغه خپلې لکړې راپورته کړې او د خپل ښکار په لوري ور وڅکېده.

تور چرګ چې له مښوکې يې څو څاڅکي وينه بهېدلې وه پر مځکه خور وور پروت وو، لا يې چرګ ته کتل چې چا يې په شا داسې يو ګوزار وکړ چې لکړې ترې يوې خوا ته پرېوتې او خپله لس ګامه وړاندې پرېوت. شيکي دهقان خپل لستونې رابډوهل او په لاسونو او کانو يې پر ګوډ سوالګري راباندې کړل او بې کسه د هغه په وړاندې په ځمکه اخوا دېخوا و غورزېده، له شيکي سره په کار بوخت بل د هقان هم راغی او د شيکي په شان يې په دې سوالګري ګوډ راباندې کړل، کله چې يې دوی په وهلو وهلو ستړي شول نو پورته يې کړ او په يوه کوډله کې يې ايسار کړ او خپله د پوليسو په راغوښتلو پسې ولاړ.

هغه اوس ټوټه ټوټه وو او له تنه يې وينې روانې وې، لوږې يې هم په دردونو او ځور کې زياتوالی کاوه، هغه پر غولي لوېدلی وو، ماښام راغی، بيا شپه راغله، سهار شو خو ده ته د خوړلو څه نه وو پيدا شوي، ماسپښين نيږدې وو چې پوليس راورسېدل، هغوی ډېر په پام د کوډلې ور پرانيسته، فکر يې کاوه چې سوالګری به د نيولو پر مهال د ځان د ژغورلو يا تښتېدلو هڅه وکړي ځکه چې دهقان شيکي پوليس ته شکايت کړی وو چې سوالګري پر ده هم د بريد هڅه کړې ده او په ډېره ګرانه ترې د ځان په ژغورلو بريالی شوی دی.

يو سرتېري په لوړ غږ وويل:

– "پورته شه!"

خو هغه خوځېدلی نه شو، د خپلو لکړو په زور یې د پورته کېدو ډېره هڅه وکړه خو پکې پاتې راغی، پولیسو دده ځور او کمزوري یوه بهانه وګڼله، لکړې یې ورته په ولو کې ورکړې او په زور یې پورته کړ.

وېرې یې زړه ترې په موټې کې نیولی وو، هماغې ویرې چې کله به یې هم په خړه درېشۍ کې څوک سرتېری ولید نو ده به احساسوله داسې وېره لکه یو مورګ یې چې د پیشو په لیدلو احساسوي، په یو ډول نه یو ډول یې خپل ځان سم نېغ ودراوه، کنه ټول وجود یې له وېرې او لوږې لړزېده:

- "روان شه!! ".

سرتېري ورته امر وکړ او هغه هم روان شو، دهقان ورته د رخصتېدو پر مهال کتل، په ورونو کې ولاړو ښځو هم دده خواته کتل او په خپلو کې یې ورو ورو خبرې کولې، سړیو په ده پورې ریشخند واهه خو په پای کې هغه د هغو له سپکاوي مسخرو او ریشخنده ډکو ژبو نه نجات وموند ځکه پولیسو دی ددې کلي له بریدونو واړاوه.

د دوو سرتېرو تر څارنې لاندې هغه مخکې روان وو، اوس یې له مایوسۍ نه ځواکمنتیا موندلې وه، تر ماښامه د خپلو لکړو په مټ کړپېده، هغه ته اوس ددې احساس هم نه کېده چې له ده سره څه کیږي؟ او دومره وېرېدلی وو چې هیڅ خبره یې په فکر کې نه راتله.

خلک چې په لارې له ده سره مخ کېدل نو دهقانانو به یو بل ته ویل :

- "پوهېږئ دا څوک دی؟ کوم غل یا............"

ماښام وو چې یو لوی کلي ته ورسېدل، هغه سیمه چې د مخه تر دې ورته دی کله نه وو راغلی، هغه ته په بشپړه توګه دا نه وه مالومه چې هغه دلته ولې راغلی

یا راوستل شوی دی، د تېرو دوو ورځو نابېره پېښو، بېګانه څېرو او کورونو هغه بېخي وېرولی وو.

هغه له خپلې ژبې ان یو کلمه هم ونه ویستله، خو له هغه سره د ویلو لپاره څه وو هم نه، ځکه چې په ذهن کې یې هیڅ خبره نه راتله، هسې هم هغه له تېرو څو کلونو راهیسې له چا سره هیڅ ډول خبره نه وه کړې او داسې یې احساسوله چې ژبې یې د خبرو توان بایللی، بل یې دا مهال چورتونه او خیالونه دومره ګونګ، پېچلي او جنجالي وو چې د لفظونو په جامه کې نه شوای وړاندې کېدای.

دی د دې سیمې په زندان کې بندي کړای شو، د پولیسو هم دې ته پام نه شو چې ده ته به د خوړو اړتیا وي او تر بلې ورځې پورې یې په دې یوه تنګه کوټه کې یواځې پرېښود.

بله ورځ چې هغه پولیس دې کوټې ته د پوښتنو کرویږنو لپاره ورغی او ور یې ور بېرته کړ، ګوډ سوالګر مړ په فرش غوړېدلی وو، د یو بوړنوونکي څیز په شان!

## ته وا خوب وو؟

ښځي ډېر پرې مین وم! ولې څوک مینېږي؟ ولې څوک مینېږي؟ څومره عجیبه ده چې په دنیا کې بس دغه یو کس درښکاري، دغه یو فکر دې په ذهن کې وي، په زړه کې دې بس همدا یوه هیله وي، پر شونډو دې همدا یو نوم وي، هغه نوم چې پرله پسې درته راځي، چې شونډو ته دې راځي، لکه په پسرلي کې چې اوبه له چینو راخوټېږي، چې څوک یې بیا بیا تکراروي، دومره یې پټ پټ وایي چې پای نه لري، هر ځای، لکه عبادت چې وي. زه درته زموږ کیسه کوم، ځکه چې ټوله مینه یوه وي، تل هم هغه یوه وي، ومې لیده او پرې مین شوم، بس خلاص. ټول کال یې په نرمښت، په لمس، د دې په غېږ، په جامو، په خبرو وپاېېدم، ښځي بشپړ پکې نغښتی وم، تږلی وم، د دې له خوا چې هر څه وو په هغو کې اسیر وم، نور نه پوهېدم چې شپه ده که ورځ ده، ژوندی یم که مړ یم، په همدې لرغونې مځکه یم که کوم بل ځای پروت یم. او بیا دا مړه شوه. څرنګه؟ زه نه پوهېږم. نور نه پوهېږم، خو یوه شپه دا کور ته لنده راغله، تېز باران ورېده، په سبا یې دې ټوخل، تر یوې اوونۍ یې ټوخل، پر کټ پرېوته. اوس مې نه دي په یاد چې څه وشول، خو ډاکټران راغلل، څه یې ولیکل او لاړل. درمل راغلل، یوې ښځې ورکول. د دې لاسونه تاوده وو، تندی یې سوځېده، سترګې یې رڼې او خپه وې. زما هر څه هېر شول، هر څه، هر څه! دا مړه شوه، زما یې کوچنی او زهیر زګېروی ښه په یاد دی. نرسې وویل آه! او زه پوه شوم.زه پوه شوم !زه نور نه پوهېدم، په هېڅ. یو راهب مې ولید، هغه وویل، ستا انډیواله ده؟ داسې واېسېده

لکه سپکاوی چې یې کوي. لکه دا چې مړه وي، هیڅا دا حق نه درلود چې په دې خبره نور پوه شي، ما وشاړه. یو بل راغی، هغه ډېر مهربانه او خواخوږی وو، چې د دې په اړه یې راسره خبرې کولې زما اوښکې وبهېدې. د جنازې په برخه کې یې له ما سره مشوره وکړه، خو زما نه یادېږي چې دوی څه وویل، خو هغه تابوت مې ښه په یاد دی، چې دا یې پکې کښېښوده، د مېخ ټکولو غږ، آه خدایه، خدایه! دا یې خاورو ته وسپارله، ښخه یې کړه، هغه، په دغه کنده کې! ځینې خلک راغلل، ښځینه ملګرې. ما پښې سپکې کړې، وتښتېدم، منډه مې کړه، په کوڅو وګرزېدم او کور ته لاړم، او په سبا یې ما سفر پیل کړ.

پرون زه پاریس ته راستون شوم، چې خپله خونه مې بیا ولیده، زموږ خونه، زموږ کټ، زموږ مېز او څوکۍ، هر هغه څه چې د انسان له مړینې وروسته پاتې کېږي، پر ما د ویر یوه بله داسې څپه راغله چې نیژدې مې کړکۍ پرانیستې وای او ځان مې کوڅې ته غورزولی وای. دا چې زه نور په دې شیانو کې، د دې دېوالونو تر منځ نور نه شوای پاتې کېدلای چې دا یې راګېره کړې او دې ته یې پناه ورکړې وه، او د دې د پوټکې، د دې د پټو ساګانو په زرګونو ذرې پکې وې. ما مې خولۍ راواخیسته چې وتښتم، چې څرنګه وره ته ورسېدم، په دهلېز کې له هغې لویې هیندارې تېر شوم چې دې هلته ایښې وه چې هره ورځ له کوره د وتلو پر وخت له سره تر پښو ځان پکې وګوري. چې جامې یې سمې وې که نه، برابرې، ښایسته. له بوټانو د سر تر وېښتو هر څه سم دي که نه. زه د همدې هیندارې مخته ودرېدم چې دې به ډېر کله پکې ځان لید. ډېر کله، ډېر کله، دومره چې په هینداره کې هم د دې تصویر منعکسه شوی وو. زه هلته ولاړ وم، بوږنېدم ، سترګې مې په هینداره کې بندې وې، په دغه هواره، جوته او خالي هینداره کې، همدې چې دا پکې ټوله وه، او هغومره یې ورخپله وه لکه زما چې وه، هغومره یې

په لېوالتیا ورته کتلي وو لکه ما چې دې ته کتل. داسې احساس مې وکړ لکه هینداره چې راباندې ګرانه وي. لمس مې کړه، سړه وه. اوه! خاطرې! ویرجنه هینداره، سوځېدونکې هینداره، بده هینداره، چې موږ ځیني څرنګه شکنجه ده! هغه سړي بختور دي چې زړونه یې هر هغه څه هېروي چې پکې وو، هر څه چې تر مخ یې تېر شوي وو، هر هغه څه چې ځان یې پکې لیدلی وو، چې په لېوالتیا کې یې منعکسه شوي وو، په مینه کې یې زه څومره کړېږم!

زه بې له دې چې پوه شم پسې لاړم، بې له دې چې ویې غواړم، زه یې هدیرې ته ورغلم. ما یې ساده قبر ومونډ، د مرمرو سپین صلیب او یو څو ټکي پرې وو: "دې مینه وکړه، مینه ورسره وشوه او مړه شوه". دا همدلته وه، شړېدلې! څومره ډاروونکې! تندی مې پر مځکه کښېښود او ویر مې وکړ، هلته تر ډېره وخته، ډېره وخته پاتې شوم. بیا مې ولیدل چې تیاره کېږي، یوه عجیبه، یوه لېونۍ هیله، د یوه دردېدلي مین هیلې راباندې غلبه وکړه. هیله مې وکړه چې شپه، وروستۍ شپه د دې پر قبر په ژړا تېره کړم. څوک به مې ووینې، وبه مې شړي. دا به څرنګه کوم؟ چالاکي مې وکړه، راپورته شوم، او د مړو په ښار کې په ګرزېدو شوم. وګرزېدم او وګرزېدم. دا ښار د هغه ښار پرتله چې موږ پکې ژوند کوو، څومره کوچنی دی. خو بیا هم تر ژوندو مړي څومره ډېر دي. موږ دنګ کورونه غواړو، پراخ سړکونه غواړو، او د هغو څلورو نسلونو لپاره ځای غواړو چې پر یوه وخت د ورځې رڼا ویني، له چینې اوبه څښي، له تاکونو شراب څښي او له کروندو ډوډۍ خوري، خو د مړیو ټولو نسلونو ته، د بشریت ټولو پوړونو ته چې رانازل شوي، لیرې هیڅ نشته، اصلاً دومره څه نشته! مځکه یې بېرته ور اخلي، چوپتیا یې ور اخلي. د خدای په امان! بالاخره، د ابادې هدیرې په اخر سر کې مې شاړه شوې هدیره ولیده هغې ته ورغلم، هغه چې پخواني مړي پکې نور له خاورو سره

خاوې کېدل، ان چې صليبونه يې هم خوسا شوي وو، دغلته به نوي راغلي سبا خاورو ته سپارل کېږي. دا ځايونه له هغو ګلابونو ډک دي چې څوک يې نه پالي، له پياوړو او تورو ونو ډک دي، يو خپه او ښکلی بڼ چې د انسان پر غوښه غوړېدلی دی .زه يواځې وم، کاملاً يواځې، نو يوې زرغونې ونې ته ورتيټ شوم، په پنډو او خپه څانګو کې مې ځان بشپړ پټ کړ، منتظر شوم، د ونې تنې پورې ونښتم لکه د ډوبېدونکې بېړۍ سرې چې ځان په لرګي پورې ټينګ نيولی وي. کله چې ښه تياره شوه، له پناه ځايه ووتم او ورو ورو وګرزېدم، په هغه مځکه چې له مړو ډکه وه بې له کوم غږ او غوږه رهي شوم، تر ډېره وخته ګرزېدم خو بيا مې ونه مونده. لاسونه مې وغځول او په لاسونو، زنګنونو، سينې، ان سر مې قبرونه ووهل خو دا مې ونه مونده. ما لکه د ړانده چې خپله لار مومي هر ځای لمساوه او احساساوه، ما ډبرې، صليبونه، اوسپنيزې کتارې، فلزي ګېډۍ او د مړاوي کېدونکو ګلونو ګېډۍ احساس کړې!. ما د قبرونو د شناختو نومونه په ګوتو داسې ولوستل چې په تورو مې ګوتې راتېرولې. څه يوه شپه وه ! څه يوه شپه وه ! بيا مې دا نه شوای موندلی. سپوږمۍ نه وه. څه يوه شپه وه! و ډار شوم، په دې نريو لارو کې، د قبرونو د دوو کتارونو تر منځ بد وډار شوم. قبرونه ! قبرونه ! قبرونه! بل هېڅ څه نه وو بس قبرونه ! زما ښي لاس ته، زما کيڼ لاس ته، زما مخ ته، زما شاوخوا، هر لور ته قبرونه وو! زه پر يوه قبر کېنښناستم، ځکه چې نور نه شوای ګرزېدلی، زنګنونه مې بيخي بې سېکه شوي وو. د زړه دربا مې اورېدله! يو بل څه مې هم اورېدل، څه؟ يو سربداله، بې نومه شور. ته وا دا به په دې تکه توره شپه کې زما د سر دننه شور وو که به له رازونو د دې ډکې مځکې لاندې وو، دغه مځکه چې د انسانانو په مړيو پړسېدلې؟ ما شاوخوا وکتل خو نه پوهېږم تر کله هلته وم، له ډاره فلج شوی وم، له وحشته بې سره وم، تيار وم چې چيغه کړم

ومرم. ناڅاپه داسې راته واېسېدل لکه د مرمرو هغه دړه چې زه پرې ناست یم ښوري. بې له شکه چې داسې خوځېده لکه چې راپورته کېږي. بله چاره نه وه ګاونډي قبر ته مې ټوپ کړل، او ومې لیدل، هو ، هم هغه قبر چې پرې ناست وم نېغ راپورته شو، او مړ سړی راښکاره شو، یو لوڅ اسکلیت وو چې ډېره یې په خپلې کړوپې شوې ملا په شا پورې وهله. که څه هم تکه توره تیاره وه خو ما بیخي ښکاره ولید. پر صلیب مې لوستل: "دلته ژاک اولېوانت پروت دی چې په 51 کلنۍ ومړ، پر ده کورنۍ ګرانه وه، دی مهربانه او درونډ سړی وو او د خدای په غوښتنه ومړ". مړه هم هغه څه لوستل چې د قبر پر شناخته یې کښل شوي وو. بیا یې له لارې یوه ډبره وړپورته کړه، یوه کوچنۍ تېره ډبره او په احتیاط یې د توریو په لیکلو پیل وکړ. ورو یې هر څه پاک کړل، او د سترګو له کندو یې هغو ځایونو ته وکتل چې پرې توږل شوي وو، د هډوکو پر ژۍ یې چې ګوته یې وه ده په برېښنده توریو ولیکل: "دلته ژاک اولیوانت پروت دی چې په یو پنځوس کلنۍ کې ومړ. ده د خپل پلار مړینه پر خپلې بې رحمۍ چټکه کړه، ځکه چې د هغه شتمني یې غوښته، ده خپله مېرمن شکنجه کړه، خپل ماشومان یې وځپل، خپل ګاونډیان یې تېر ایستل، له هر هغه چا یې غلا وکړه چې ورته ممکنه وه، او بې عزته ومړ". کله چې یې لیکل خلاص کړل مړ سړی بې له کوم حرکته ودرېد، خپل کار ته یې وکتل، چې شاوخوا مې وکتل ټول قبرونه پرانیستي وو، ټول مړي ترې راوتلي وو او ټولو هغه درواغ پاک کړل چې پر شناختو یې خپلوانو لیکلي وو، دوی د هغو پر ځای ریښتیا ولیکل. ما ولیدل چې دوی ټولو خپل ګاونډیان ځورولي وو، ظالمان وو، صادق نه ول، ځان ته یې یو څه بل ته یې بل څه غوښتل، درواغجن وو، بدمعاشان وو، مفسد وو، بخیل ول، غلاوې یې کړې وې، خلک یې تېرایستلي وو، هر بد کار یې کړی وو، هر ناقانونه عمل یې کړی وو، دغو ښو

پلرونو، وفادارو مېرمنو، دغو ژمنو زامنو، دغو پاک لمنو لوڼو، دغو رېښتینو سوداګرو، دغو سړیو او ښځو چې بې داغه او بې عیبه بلل شوي، او دوی ټولو چې پر یوه وخت اوس د خپل دایمي کور پر شناختو رېښتیا، بد او سپېڅلي رېښتیا لیکل، نور چې لا ژوندي دي هیڅوک یې پرې نه دي خبر او یا داسې ښیي چې نه دي پرې خبر.

ما فکر وکړ چې دې به هم حتماً د خپل قبر پر شناخته څه لیکلي وي او اوس به بې له کومه ډاره په نیمو پرانیستو تابوتونو کې د مړیو او هډوونو تر منځ منډې وهي. زه د دې په لور ورغلم، باوري وم چې سملاسي به یې مومم. بې له دې چې په شمال وهلي څادر کې یې پټ مخ وګورم او یا یې هغه د مرمرو صلیب ووینم چې لړ مخته مې پرې لوستي وو چې دا میینه وه، مینه ورسره وشوه او مړه شوه، وار له واره مې وپېژنده، او اوس مې ولیدل: "یوه ورځ چې د خپل مین د غولولو په پار دباندې ووته، په باران کې والګې ووهله او مړه شوه". داسې ښکاري چې سهار یې پر قبر وموندلم، بې سده پروت وم.

# دارن

په خلکو کې هغه د ښکلي سګنالس په نوم مشهور وو، خو خپل نوم يې وسکاونت ګونتران جوزف دي سګنالس وو.
هغه يتيم وو خو د پلار نه په ميراث کې ورته ډېر لوی جايداد پاتې شوی وو. هغه شوقين مزاجه او حاضر جوابه هم وو. د غړېدو نه ډېر چالاک معلومېده. د خوی بوی او ژبې نه نرم، خو لږ مغروره شان وو. اوږده اوږده رعب دار برېتونه او د راز نه ډکې سترګې يې وې. همدا هغه خوبۍ وې چې زنانه يې دده په لور مايله کړې وې.
د ټولنې په محفلونو کې به د هغه ډېر قدر وه. په خاص توګه د ګډا په مجلسونو کې به د کم عمر زنانه همېشه دده په لټون کې وې. هغه به د خپلې ټولنې خلک خندول هم. خلکو په ده پورې ډېر روماني داستانونه هم تړلي وو، مګر بيا هم بې واده ځوانانو دده ډېر قدر و احترام کاوه. هغه ډېر خوندور او بې فکره ژوند کاوه.
په تېغ بازۍ کې د هغه ساری نه وو او په توپانچه يې لا ښې ډزې کولی شوې.
هغه به ويل کله چې زما د چا سره دوه په دوه جنګ (ډويټ) راشي نو زه به د توپنچې انتخاب کوم. ځکه چې زه ډاډه يم چې په دې وسله خپل دښمن ووژنم.
يو ماښام هغه د دوو مېرمنو سره د تېټر کتلو ته تللی وو چې د هغو مېړونه هم ورسره وو. د تېټر کتلو نه پس ده هغو ته د ايسکريم خوړلو بلنه ورکړه.
هغوی هلته څو دقيقې ناست نه وو چې سګنالس محسوس کړل چې څنګ کې نيزدې مېز نه يو سړی يوې زنانه ته په غور ګوري، هغې هم دا محسوسوله خو د

شرم او د خفګان په سبب یې لاندې کتل. آخر مجبوره شوه او خپل خاوند نه یې

تپوس وکړو چې هغه سړی د ډېر وخت نه ماته ګوري.  نه پوهېږم څوک دی ، ته

یې پېژنې؟

خاوند یې چې دې خوا ته یې فکر نه وو سترګې راپورته کړې او و یې ویل چې نا

زه خو یې نه پېژنم.

هغې نیمه موسکا وکړه او بیا یې په خفګان سره وویل چې دا خو ډېره بده خبره

ده، ددې سړي د لاسه خو زه د ایسکریمو په خوند پوهه نه شوم.

خاوند یې د پام بدلولو د پاره خپلې اوږې لږ شان وخوځولې او دې ته یې وویل

چې پربږده مړه د داسې خلکو پروا کول خپل ژوند  عذابول دي.

خو وسکاونټ د ډېرې غصې نه په ولاړېدو مجبور شو. هغه دا نه شو برداشت

کولای چې څوک دې یې په دعوت کې څه خلل واچوي. څنګه چې دا ښځې

دده په دعوت دې هوټل ته د آیسکریمو خوړلو ته راغلې وې نو ځکه د هغوی بې

عزتي ده د ځان وشمارله. هغه د سړي په لور ور تېر شو او ورته و یې ویل چې د

هغه کم عمره ښځو په لور دتا داسې کتل زه بالکل نه شم برداشت کولای. ته د

خپلو حرکتونو نه قلار شه مننه به وي.

سړي سمدلاسه ورته وویل:

- "څه ورک شه".

- "صاحبه!  لږ په واک غږېږه، دتا دا خبرې ما په دې مجبوروي چې زه هم دتا په

شان بداخلاقه شمه".

ښاغلي په یوې کلیمې سره ځواب ورکړو چې ډېره ناولې او د اخلاقو د دایرې نه

بهر وه، چې د هوټل د یو سر نه تر بل سر پورې ورسېده او ټول خلک یې حېران

کړل. د کومو خلکو چې شا وه هغوی د دوی په لور مخونه را واړول. کومو خلکو چې روټۍ خوړله هغوی خپل لاسونه ونیول او سرونه یې جګ کړل.

د هوټل درې مزدورانو د ډېرې ورخطایۍ نه ابخوا دېخوا منډې کړې. د کاونټر شاته دوو ښځو د ډېر خوف نه چیغې کړې او په خپل ځای کې داسې سره راګردې شوې چې پورتنی نیمایي بدن یې سره یو شو لکه خود کار مشین چې په یو هېنډل کار کوي.

چارچاپېره یو ژوره چوپتیا خوره شوه. بیا ناڅاپه په هوا کې یو تېز اواز راپورته شو. ویسکاونټ د خپل مخالف نه څپېړه پورته کړه. هر سړي د خلاسون د پاره رامنډې کړې. دواړو د دوه په دوه مقابلې د پاره یو بل ته نعرې کړې.

کله چې کور ته را واپس شو نو وسکاونټ له ډېره تاوه خپله کمره کې اوږده اوږده قدمونه اخیستل. د ډېرې غصې نه د هغه ذهن کار نه کاوه. په ذهن کې یې صرف یو خیال تاوېده "دوه په دوه جنګ".

بل هیڅ قسم خیال د پاره دده په ذهن کې ځای نه وو. څه چې په کار وه ده هم هغه وکړل. دده ددې سلوک به خلک هر ځای کې تذکره کوي او د بېلابېلو ځایونو نه به ده ته د مبارکۍ پېغامونه هم راشي. هغه د لېونتوب په انداز کې چیغه کړه:

- "څه عجب ځنګلي انسان وو هغه" .

بیا هغه کښېناست او فکر یې شروع کړ. سهار باید هغه څو دقیقې ددې دپاره وباسي چې د خپلې ډلې د مضبوطولو د پاره څوک منتخب کړي. هغه په خپل ذهن کې تر ټولو مهم او مشهور نومونه لټول. په اخر کې هغه دوه نومونه غوره کړل، یو "مارکویس د لا ټورنایر" او دویم "کرنل بورډېن" . یو معزز رئیس او دویم پوځي وو. دوی به ښه کار وکړي. د دوی نومونه به په اخبارونو کې ښه ښکاره

شي. هغه پوه شو چې ترې دی، یو په بل پسې یې درې ګیلاسه اوبه وڅښلې. بیا یې ښکته پورته تګ پیل کړو . هغه ځان ډېر طاقتور محسوس کړ.
که چېرې هغه زړورتیا وښودله، د سخت ترین دوه په دوه جنګ لپاره یې خپل مخالف ته ټینګار وکړ او د هغه په مخکې یې سخت شرطونه کېښېښودل نو د هغه مخالف به د جنګ کولو په ځای دده نه معافي وغواړي.
هغه یو ځل بیا هغه کارډ- چې له جېبه یې را اخیستی وو- په مېز وغورزاوه او بیا یې ولوست لکه څنګه یې چې مخکې لوستلی وو. ځکه چې لومړی یې په هوټل کې په سرسري نظر لوستلی وو او بیا یې کور ته په لاره د ګاړي په رڼا کې لوستی وو: "جارج لامپل، 51 ریو مانسې". په کارډ صرف دا لیکلي وه.
هغه د توریو دا لړۍ وڅېړله. دوی ورته پراسرار ښکاره شول. د ګډو وډو معنو څخه ډک. جارج لامپل؟ دا سړی څوک دی؟ څه کار کوي؟ ښځې ته یې ولې داسې ځیر ځیر کتل؟ ایا دا بده خبره نه وه چې یو بېګانه سړی دې یوې ښځې ته داسې وګوري. ویسکاونټ یو ځل بیا چیغه کړه:
- "څه وحشي وو! ".
هغه چوپ ولاړ وو، په سوچونو کې ورک. سترګې یې په کارډ ښخې وې. د کاغذ دې ټوټې دده په زړه کې طوفان راوپاراوه.
په زړه کې یې د نفرت نه ډک خیالونه را پېدا شول او ډېره زیاته ناارامي یې محسوسوله. له ځانه سره یې وویل، "دا ډېر د ناپوهۍ کار وو ". یو خلاس چاقو یې په لاس کې راواخیست او په کارډ باندې لیکلی نوم یې په دا ډول دوه ټوټې کړ لکه یو څوک چې په چاقو حلالوي.
هغه ته جنګ کول په کار دي، خو په کومې اسلحې. په توره که په توپانچه؟

د تورو جنګ ده د ځان بې عزتي ګڼله. که څه هم د تورو په جنګ کې خطره کمه وه خو د توپانچې په جنګ کې دا هم ممکنه وه چې مخالف به يې له ډېره ډاره جنګ پرېږدي او معافي به وغواړي. د تورو په جنګ کې د ژورو زخمونو ګنجايش کم وي، ځکه چې دوی د خپلې هوښيارۍ په سبب هم يو بل د ځان نه لرې کولای شي چې جګړه يې ډېره شديده نه شي، مګر د توپانچې په جنګ کې خو د مرګ او ژوند سوال دی. خو دی به پکې ضرور بريا ومومي او داسې به د خلکو په نظر کې نور هم عزت پېدا کړي. بيا يې هم په صحيح توګه فېصله و نه کړی شوه او په دوو کې وو. چيغه يې کړه:

- "ماته په کار دي چمتو اوسم هغه به و ډار شي".

هغه د خپل اواز نه خوف محسوس کړو او چارچاپېره يې نظر واچاوه. هغه ډېر بې ارامه وه، يو بل ګيلاس اوبه يې وڅښلې، بيا يې د خوب تياري شروع کړه.

د لېمپ ګل کولو نه وروسته سمدستي په بستره پرېوت. سترګې يې پټې کړې او فکر کول يې پېل کړل:

- "ماته د انتظاماتو کولو د پاره سبا ټوله ورځ پرته ده نو ځکه زه اوس بايد ښه په اطمينان سره خوب وکړم".

هغه په کمبلو کې ډېر ګرم پروت وو مګر خوب يې نه وو. سمه تخته اوړد وغزېده او بيا پينځه دقيقې هم داسې پروت وو. په کيڼ اړخ واوښت او بيا يې ښي طرف ته مخ واړوه. هغه لا تر اوسه تږی وو. د اوبو څښلو د پاره هغه بيا پاڅېد. يو عجيبه د بې ارامۍ احساس پرې راخور شو:

- "ايا دا ممکنه ده چې زه و ډار شم؟"

د هغه زړه د خپلې کمرې په هر پېژندل شوي اواز د لېونتوب تر حده درزا پېل کړه. ګړۍ چې کله د ګنټې په پوره کېدو الارم پېل کړ، نو هغه دومره و وېرېده

چې د ساه اخیستو د پاره یې څو ثانیې خوله وازه پاتې شوه. هغه د خپلې ویرې په حقله د خپل ځان سره استدلال شروع کړ:

- "ایا زه رښتیا ډارېږم؟ "

نه هیڅکله نه ډارېږي، ځکه چې هغه ددې دوه په دوه جګړې هوډ کړی وو او په سمه توګه یې د جنګ کولو او نه وېرېدلو د پاره خپل ذهن جوړ کړی وو، خو هغه دومره ژور خفګان محسوس کړو چې حېران شو:

- "ایا یو سړی د خپل ځان سره هم وېرېدلی شي؟

په ده باندې شک، بې قرارۍ او دې دهشت حمله وکړه. فرض کړئ که چرته یو طاقت دده نه هم ډېر طاقتور، باصلاحیت او غېر مقلد په ده باندې غالب شي. څه به پېښ شي؟ هو ، څه به نه پېښېږي؟ یقیني توګه به هغه د غونډې ځای ته ځان رسوي، ځکه چې هغه د تللو د پاره په ذهني توګه تیار وو، مګر فرض کړئ که چرته دده لاس ولړزېدل یا په ده بې هوشي راغله نو دده د نوم ناموس او د عزت به څه جوړېږي. هغه فکر وکړ .

هغه ته یو عجیبه ضرورت ورپېښ شو او پاڅېدو چې په آئینه کې خپل ځان وګوري. هغه خپله ډیوه رڼا کړه. هغه چې کله خپل ځان په پالش شوې آیینه کې ولید ډېر په ګرانه یې خپل ځان وپېژانده. هغه داسې محسوس کړل چې تر اوسه یې خپل ځان نه وي لیدلی. سترګې یې له ډېره ډاره بهر راوتلې وې او مخ یې زیړ شو د څه شک نه بغېر تک زیړ .

هغه د آیینې مخې ته ولاړ وو. خپله ژبه یې داسې را ښکاره کړه لکه د خپل صحت اندازه چې اخلي او ناڅاپه دې فکر لکه د مرمۍ په څېر وخوځاوه:

- "بله ورځ په دې وخت ممکنه ده چې زه مړ یم".

زړه یې یو ځل بیا په زوره درزا پېل کړه. سبا ورځ دا ساعت ممکنه ده چې زه مړ یم. دا سړی دا ماته چې په آیینه کې مخامخ ولاړ دی نور به نه وي. زه دلته ولاړ

یم او خپل عکس په آیینه کې وینم. زه په دې پوه یم چې ژوندی یم، خو محض څلورویشت ساعتونو کې به زه په بستره کې پروت یم. مړ به یم . سترګې به مې پټې وي وجود به مې یخ وي او روح به مې بل جهان ته پرواز کړی وي.

هغه بیرته د بسترې په لور راوګرځېد او په ښکاره ډول یې ځان په هغه څادر کې سمه تخته پروت ولیده چې همدا اوس ده پرې ایښی وو. مخ یې د مړي په شان وو. لاسونه یې په دا ډول سست وو چې هیڅکله به بل حرکت و نه کړي.

دا فکر یې په زړه کې د راتلو سره د خپلې بسترې نه ډار پیدا شو. ددې نه مخکې چې یې نظر په بستره پرېوزي هغه د سګرېټ څکولو د پاره بلې کمرې ته لاړ. ډېر زر یې سګرېټ راواخیست او په کمره کې یې یو خوا بل خوا تګ پیل کړ. وجود یې ډېر یخ وو. د خپل نوکر راویښولو د پاره د هغه په لور لاړ. کله یې چې زنګ ورته وهلو نو ودرېده او سوچ یې وکړ:

- "هغه به دا محسوس کړي چې زه وېرېږم".

هغه را واپس شو او په خپله یې اور بل کړ. د هر یو څیز را اخیستلو په وخت یې لاسونه لړزېدل او په سر یې چکر راتلو. د هغه فکرونه کړکېچن شول او په ذهن یې تیاره خوره شوه. لکه ښه ډېر شراب چې یې څښلي وي او وار په وار یې د خپل ځان نه دا تپوس کاوه:

- "زه څه وکړم؟ په ما به څه کېږي؟"

د هغه ټول بدن لړزېده. لکه د څه ټکان په وجه چې ښورېږي. هغه یکدم پاڅېده او د کړکۍ د پردې له لرې کولو سره یې ولیدل چې سهار شوی دی. تمام ښار د شفق په سرخۍ کې رنګ وو. د راختونکي لمر وړانګو تمامه نړۍ پوښلې وه او یو نوی ژوند یې وربخښلی وو. دې وړانګو د وسکاونټ زړه ته هم تازګي او طاقت ورکړ. هغه فکر وکړ چې زه هم څومره ساده یم، مخکې له دې څو شپېې خپل

دښمن جارج لامبل ووینم او دا یقیني کړم چې هغه د مقابلې دپاره تیار هم دی که نه زه هسې د وخت نه مخکې له ویرې مړ کېږم.

هغه ولامبل، جامې یې بدلې کړې او په قوي قدمونو بهر ته روان شو. د تللو په وخت کې هغه بیا بیا د خپل زړه سره دا خبره تکرار کوله چې ماته په کار دي بېدار اوسم او دا ثابته کړم چې زه د چا څخه هم نه وېرېږم.

د هغه ملګري مارکوېس او کرنل سمدستي دده مرستې ته تیار شول او د دوه په دوه جنګ په شرایطو یې خبرې پېل کړې. کرنل تپوس ترې وکړ:

- "ته سخته جګړه غواړې؟"

وسکاونټ جواب ورکړ:

- "هو یوه سخته جګړه".

مارکویس هم وپوښت:

-"تاسو اوس هم په توپانچې ټینګار کوئ؟"

ویسکاونټ:

- "هو".

- "پاتې نور بندوبست د پاره به ته مونږ ته آزادي راکړې؟"

ویسکاونټ ټوخی وکړ، بیا یې په وچ غږ وویل:

- "شل قدمه فاصله، په اشارې سره لاس پورته کول او تر هغې نه ښکته کول چې د ډزو په تبادله کې یو تن سخت زخمي شوی نه وي".

کرنل د اطمینان په لهجه کې ځواب ورکړ:

- "دا خو ډېر ښه شرطونه دي. ته په نخښه ویشتلو کې ماهر یې او د تا د بریا پوره پوره امکان شته".

دوی بیا یو بل نه رخصت شول. ویسکاونټ چې کله کور ته راورسېد د هغوی د راتګ انتظار یې پېل کړ. د هغه اشتعال او ویره چې د څو لمحو د پاره ختم شوې

وه بیا ورو په ورو په زیاتېدو شوه. هغه په خپلو لاسونو کې، په پښو کې او په سینه کې یو عجیبه لړزان محسوس کړ، یو نه ختمېدونکی لړزان. هغه په یو ځای نه شو تم کېدای چې ناست یا ولاړ وای. د هغه په خوله کې بېخي لاړه پاتې نه وه او خپلې ژبې ته یې بیا بیا حرکت ورکاوه چې د تالو سره یې سریښ پاتې نه شي.
هغه د ناشتې لېواله وه مګر خوراک یې نه شو کولای. بیا هغه ته دا خیال راغی چې د ځان زړورتیا لپاره شراب وڅښي. هغه د شرابو د غټ بوتل لپاره نوکر ته حکم وکړ. بیا یې مسلسل شپږ ګیلاسه د حلق نه تېر کړل. د اور په شان ګرمي د هغه په وجود کې خوره شوه. سمدلاسه د هغه روح او ذهن چکر وهل پېل کړل. هغه فکر وکړو:
- "اوس ما سمه لار پېدا کړه، اوس به هر څه سم شي".
مګر په یو ساعت کې دننه هغه د شرابو ټول بوتل وڅښلو. ددې سره د هغه پرېشاني او غصه نوره هم زیاته شوه. زړه یې غوښتل په چا خوله ولګوي یا په زوره زوره نعرې وکړي چې په دې کې ماښام شو.
د دروازې د زنګ اواز یې واورېد خو د اواز په اورېدو دی نور هم بې دمې شو او په ده کې دومره قوت نه وو چې د خپلو ملګرو د هرکلي د پاره پاڅېږي.
تر ډېره وخته د هغوی سره د خبرو کولو طاقت هم نه وو پکې پاتې ځکه چې ده سره دا وهم مل وو چې دده خبرو نه به هغوی دده په کېفیاتو او حالاتو خبر شي.
کرنل ورته وویل:
- "څنګه چې تا غوښتل هم هغسې مو ټول انتظامات وکړل".
اوله خو ستاسو مخالف هغه ټولې اسانی وغوښتې چې یو ذلیل بنده یې طلب لري مګر ډېر زر یې  بیا هر څه تسلیم کړل او هر څه یې ومنل. د هغه سره په ډله کې دوه پوځیان دي. ویسکاونټ وویل:
- "ستاسو مننه".

مارکویس وویل:

- "وبخښه مونږ ته لا ډېر کارونه او انتظامات پاتې دي ځکه تر ډېره وخته ستا سره نه شو پاتې کېدی. مونږ باید د یو تکړه ډاکټر د موجودګی انتظام وکړو، ځکه چې د جنګ یو شرط دا دی چې تر څو یو کس ډېر زیات زخمي شوی نه وي تر هغې به نه ختمېږي او تاته معلومه ده چې د مرمۍ زخمونه څومره ژور وي. جنګ د پاره به مونږ داسې مېدان ګورو چې په خوا کې یې نیزدې کور وي، چې د ضرورت په وخت مونږ هلته زخمي یوسو. حقیقت کې ددې هر څه انتظام کول به مونږ نه دوه درې ساعته وخت واخلي".

یو ځل بیا ویسکاونټ هغوی ته ځواب ورکړ: "مننه".

کرنل تپوس ترې وکړ:

- "ستا طبیعت خو ښه دی؟ او مطمئن خو یې؟

ویسکاونټ ځواب ورکړ:

- "هو زه بالکل مطمئن یم".

بیا یې دواړو ملګرو رخصت ترې واخیست.

کله چې دی تنها پاتې شو نو ده ته بیا خپل ځان لېونی ښکاره شو. نوکر یې څراغ بل کړ او دی د خطونو لیکلو د پاره په مېز کښېناست.

د کاغذ پر سر یې ولیکل"دا زما وصیتنامه ده" هغه ولړزېده او ددې سره راپاڅېدو. هغه دا محسوسول چې د دوو خیالونو یو ځای کول، د څه فېصلې یا د قرارداد کولو توان په ځان کې نه ویني.

بس هغه جنګ ته روان وو ځکه چې دده سره د پس وپېش د پاره څه لار پاتې نه وه، نو بیا دده سره څه مسله وه؟ هغه جنګ کول غوښتل او د جنګ د پاره یې پخه اراده هم وه، مګر بیا هم هغه پوهېده چې څومره کوشش وکړي څومره همت

وکړي جنګ خو پرېږده چې د جنګ مېدان پورې هم نه شي تللی. هغه په تصور کې د جګړې منظر راوسته. هغه خپل او د مخالف چالونه او وارونه په نظر کې راوستل .

د لمحې لمحې د وقفې سره هغه غاښونه جنګول چې خوله کې يې اواز ترې پېدا کېدو. هغه د دوه په دوه جنګ د دوه په دوه جګړې ليکلي اصول يې را و ايستل او د هغه د ويلو هڅه يې وکړه. بيا يې په حېرانتيا سره وويل:

- "ايا زما مخالف د نخښې ويشتلو ګالريو ته ځي؟ ايا هغه په نخښه ويشتلو کې شهرت لري؟ او په دې کار کې به د هغه مرتبه څه وي؟ زه دا څنګه معلومولی شم؟

هغه ته «بېرن د واکس» کتاب خيال راغی چې د توپانچې د نخښې ويشتونکو باندې ليکل شوی وو او د سر نه يې تر اخيره پورې ولوست. خو د جارج لامېل ذکر په هغه کې نه وه شوی. بيا هم که دا سړی ښه نخښه ويشتونکی نه وای نو دومره زر يې ولې خطرناکې وسلې او وژونکو شرايطو ته غاړه کښېښوه؟

هغه چې کله په کمره کې ګرزېده نو د يو واړه مېز سره ودرېد، په هغه باندې پاس پرته بکسه يې خلاصه کړه او د هغې نه يې توپانچه راوويستله. بيا يې ځان ډز کولو ته تيار کړو او لاس يې پورته اوچت کړ، خو هغه د سر نه واخله تر پښو پورې لړزېده او د توپانچې خوله چار چاپېره تاو راتاو شوه. په دې وخت کې يې له ځانه سره وويل:

- "دا ممکنه نه ده. زه په دې حالت کې جنګ نه شم کولای".

هغه د توپانچې د خولې اخري سر ته وکتل. يو کوچني، تور، ژور سوري ته چې مرګ تويوي. بيا ده سره د خپلې بې عزتۍ فکر مل شو. په کلب کې د خندا، د خلکو په بېټکو کې د خندا، د ښځو د سپکاوي، دده په حقله د اخبارونو اشارې، او د نورو ډارنو د پېغور په اړه فکرمند شو.

هغه لا اوس هم وسلې ته کتل او د ماشې په اوچتولو سره د هغې لاندې يوه وړه د سرې شعلې په شانې ټوپې په نظر ورغله. د خوشبختی يا هېرولو له مخې، توپانچه بار پاتې شوې وه. په دې ليدلو هغه د خوشالۍ د يو نه بيانېدونکي احساس سره مخ شو .

که چرته د خپل حريف سره د مقابلې په وخت هغه مناسبه زړورتيا او حوصله ونه ښودله نو هغه به د تل د پاره ورک او سپک شي. د بدنامۍ داغ به يې په لمن پورې شي او ټولنه کې به يې څه عزت پاتې نه شي او هغه به ونه شي کړای چې بېرته خپل عزت او سکون تر لاسه کړي. هغه په دې پوهېده او دا يې محسوسوله هم، بيا هم هغه زړور وو ځکه چې هغه غوښتل جګړه وکړي .... هغه زړور وو ځکه چې...

دا خيال د هغه په ذهن کې ختم نه شو، هغه خپله خوله وازه کړه او د توپانچې نلۍ يې تر حلق پورې ورسوله، بيا يې په ماشه زور وکړ.

د ډز په اورېدو سره يې چې نوکر کمرې ته راننوتو هغه يې په فرش مړ پروت وموند. د مېز په سپين کاغذ د وينو څاڅکي پراته وه او يو غټ څاڅکي دغه څلور توري هم پټ کړي وو:

"دا زما وصيتنامه ده".

## پای